

Ketabton.com

سرچینه: تعلیم الاسلام رادیو/www.taleemulislam-radio.com

(c) ketabton.com: The Digital Library

دتقليد شرعي حيثيت

تاليف :
شيخ الاسلام مولانا مفتي محمد تقي عثماني حفظه الله تعالى

ژباړن :
مولوي عبدالهادي حماد

سرچينه: تعليم الاسلام راډيو/www.taleemulislam-radio.com

(c) ketabton.com: The Digital Library

سرچينه: تعليم الاسلام راډيو/www.taleemulislam-radio.com

(c) ketabton.com: The Digital Library

دکتاب ځانګړتياوي

دکتاب نوم :	دتقليد شرعي حيثيت
دمؤلف نوم :	شيخ الاسلام مفتي محمد تقي عثماني حفظه الله تعالى
ژباړن :	مولوي عبدالهادي حماد
چاپ کال :	۱۳۸۹ هـ ش
کمپيوټري چاري :	ژباړن
دچاپ شمېر :	زر ټوکه
خپرونکی :	جامعه اسلاميه اشرفيه
دلاسته راوړولو ځای :	مکتبه اشرفيه ارګ بازار کندهار افغانستان
اړيکي :	۰۷۰۰۳۲۸۵۰۴ ۰۳۰۲۰۰۲۹۲۶

فهرست

سرچينه: تعليم الاسلام راډيو www.taleemulislam-radio.com

(c) ketabton.com: The Digital Library

شمېره	موضوع	صفحه
۱	دپيل خبري	۱
۲	دتقليد حقيقت	۵
۳	يادونه	۸
۴	دتقليد دوه صورتونه	۱۶
۵	دتقليد ثبوت په قران سره	۱۷
۶	دتقليد دثبوت لپاره لومړی ايت	۱۷
۷	دتقليد دثبوت لپاره دوهم ايت	۲۱
۸	دتقليد دثبوت لپاره دريم ايت	۲۵
۹	دتقليد دثبوت لپاره څلورم ايت	۲۶
۱۰	دتقليد ثبوت په حديث سره	۲۹
۱۱	داصحابانو ﷺ په وخت کي ددوی تقليد کول	۳۷
۱۲	داصحابانو ﷺ په زمانه کي شخصي تقليد	۵۰
۱۳	داصحابانو ﷺ دتقليدلومړی نظير	۵۰
۱۴	داصحابانو ﷺ دتقليد دوهم نظير	۵۴
۱۵	داصحابانو ﷺ دتقليددريم نظير	۵۷
۱۶	داصحابانو ﷺ دتقليد څلورم نظير	۶۴
۱۷	څو بيلابيل مثالونه	۶۶
۱۸	شخصي تقليد ته اړتيا	۷۰
۱۹	دشخصي تقليد دلزوم يو څرګند مثال	۸۵

سرچينه: تعليم الاسلام راډيو/www.taleemulislam-radio.com

(c) ketabton.com: The Digital Library

فهرست

شمېره	موضوع	صفحه
٢٠	دځلور مذهبونو تخصيص	٨٩
٢١	دتقليد بېلابيلي درجې	٩٦
٢٢	دعوامو خلکوتقليد	٩٧
٢٣	دجيد او متبحر عالم تقليد	١٠٨
٢٤	دتقليد دوهمه درجه	١٠٨
٢٥	مجتهد في المذهب	١٢٤
٢٦	دريمه درجه	١٢٤
٢٧	دمجتهد مطلق تقليد	١٢٦
٢٨	څلورمه درجه	١٢٦
٢٩	پر تقليد باندي شکونه او نيوکي	١٣١
٣٠	په قرانکريم کې دپلرونو او نيکه ګانو تقليد	١٣١
٣١	داحبارو او رهبانو تقليد	١٣٤
٣٢	دحضرت عدی بن حاتم ﷺ حديث	١٤١
٣٣	دحضرت عبدالله بن مسعود ﷺ سپېڅلي وينا	١٤٤
٣٤	دمجتهدينو امامانو ويناوي	١٤٦
٣٥	عام سړی به څنګه مجتهد پېژني؟	١٥٢
٣٦	ايا تقليد کول عيب دئ؟	١٥٥

سرچينه: تعليم الاسلام راډيو/www.taleemulislam-radio.com

(c) ketabton.com: The Digital Library

فهرست

شمېره	موضوع	صفحه
۳۷	شخصي تقليد او خواهش پرستي	۱۶۰
۳۸	تقليد او نوي پيدا سوي مسئلې	۱۶۲
۳۹	حنفي مذهب اوپه حديث باندي عمل	۱۶۴
۴۰	امام ابوحنيفة رحمة الله عليه او علم حديث	۱۷۷
۴۱	په تقليد کي جمود	۱۸۳
۴۲	وروستی وړاندیز	۱۸۷

سرچینه: تعلیم الاسلام راډیو/www.taleemulislam-radio.com

(c) ketabton.com: The Digital Library

تقريظ

نحمده ونصلي على رسوله الكريم

درنو لوستونکو! څرګنده خبره ده ،چې څښتن تعالیﷻ ټول انسانان په يو څېر نه دي پيدا کړي بلکي دخپل بې ساري حکمت پر بنسټ يې ځينې ځواکمن ، ځينې ناتوانه ،ځينې شتمن ، ځينې ناداره ،ځينې پوهان او ځينې ناپوهان پيدا کړي دي، داخبره بيخي جوته ده ،چې که ټول خلک په يو څېر سي نو ددې پراخې نړۍ چاري به دسختو ستونزو سره مخ سي،همدا لامل دئ ،چې ددنيا په هر کونج کي ، دهر قوم ، دهري سيمي ، دهر ټبر او هر دين عالمان مخکې وي پوښتل کيږي او ناپوهان په پسې وي دپوهانو څخه پوښتنې کوي ، داچې داسلام دين حق دئ ، په رشتينولۍ کي يې هيڅ شک نسته او ددې دين دپلي کېدو لپاره علماء لوی مسؤليت لري ،چې عام خلک پوښتنې ځني وکړي او دوی جوابونه ورکړي او ددې دين بقا هم ددې لاري څخه کېدای سي ځکه ټول خلک علماء نه دي او نه جوړېدای سي، داچې دعلماؤ پر خبرو باندي بايد څومره اعتماد وسي او دمذهب تقليد بايد په څه ډول وسي؟ او دمدرسې دريز هم تل دخپلو مسلمانانو وروڼو چوپړ په اخلاص تر سره کول دئ نو يې وغوښتل ،چې په دې اړه باندي څه تحقيقات او څېړنې وکړي ، ددې هڅې په پايله کي داشرفيې مدرسې دتاليف او ترجمې دڅانګې يو تن غړي مولوي عبدالهادي حماد دهند دنيمي وچې دجيد عالم شيخ الاسلام مولانا مفتي محمد تقي عثماني حفظه الله تعالی په اردو ژبه کتاب پښتو ته ترجمه کړ، چې په يادې موضوع کي يې په زړه پوري څېړنه

سرچينه: تعليم الاسلام راډيو/www.taleemulislam-radio.com

(c) ketabton.com: The Digital Library

کړې وه ، یاد کتاب تر ژباړې وروسته تالیف او ترجمې دځانګي غړو وکاتی ، ترکتني وروسته جوته سوه چې نومورې کتاب په ښه معیار دئ او په ښه معیار ژباړل سوی دئ، داچې زمونږ له انده ددې کتاب ګټې ښې دي نو ځکه یې دتائید ترڅنګ ټولني ته وړاندي کوي او هیله کوي ،چې الله ﷻ یې دټولو مسلمانانو لپاره داستفادې وړ وګرځوي.

وبالله التوفیق

داشرفیې مدرسې دتالیف او ترجمې ځانګه

دتالیف او ترجمې دځانګي اراکین	
نوم	دنده
مولوي محمد رسول صاحب	عمومي رئیس
شیخ الحدیث مولوي عبدالرحیم صاحب	رئیس دارالافتاء
مولوي سید احمد غفوري	نائب دارالافتاء
مولوي مجاهد صاحب	نائب مهتمم
مفتي ګل احمد صاحب	عضو دارالافتاء
مولوي سید احمد صابر	مدرس وعضو دارالافتاء

سرچینه: تعلیم الاسلام راډیو/www.taleemulislam-radio.com

(c) ketabton.com: The Digital Library

دليل خبري

بسم الله الرحمن الرحيم

الحمد لله نحمده وكفى وسلام على عباده الذين اصطفى.

څرګنده خبره ده ،چې دتقليد په اړه دومره ليکني سوي دي ،چې زما لپاره ددې فکر هم نه سي کېدای ،چې زه دي په دې اړه څه زياتوني وکړم ،له نېکه مرغه دهمدې موضوع يعني دتقليد دموضوع اړونده ديوې رسالې اسباب او توکي په ناڅاپي او قدرتي ډول سره برابر سوه ،ځکه په ۱۹۶۳ م سنه کي زما څخه دفاران مياشتنۍ مجلې مسؤل مدير ښاغلي ماهر القادري په کراچي کي دتقليد اړونده يو مضمون دوخت دارتيا له امله وغوښتی ، خو ما په يا سره جواب ورکړ، يعني خوښه مي نه وه ،چې مضمون دي دتقليد په موضوع کي ورکړم ، ځکه ما غوښته ،چې دپلار پر پل باندي پل کښېږدم او په خپل ژوند کي داختلافي مسائلو څخه لاس پر سر سم بيا مي ببرته فکر وکړ، ،چې کاشکي يو داسي مضمون وليکم ،چې دتقليد موضوع په داسي بڼه پکښې څرګنده سي ،چې ديوه اړخه يې هغه اصلي حقيقت څرګند سي او دبله اړخه دامضمون په داسي بڼه وي ،چې ددعوت رنګ ولري يعني داچې هغه کسانو ته دعوت سي ،چې هغوی اختلافي مسائلو ته لمن وهي او يو له بله کافران سره وايي يعني داچې يو يوه ته کافر وايي اوبل ،بل ته کافر وايي ،لنډه داچې يومضمون مي وليکی اودکراچي څخه خپرېدونکي مياشتنۍ مجلې ـ فاران ته مي ورکړ، نوموړی مضمون دلومړي ځل لپاره په کال ۱۹۶۳ م کي خپور سو ، له نېکه مرغه ياد مضمون رونړآندو

سرچينه: تعليم الاسلام راډيو/www.taleemulislam-radio.com

(c) ketabton.com: The Digital Library

زيات خوښ کړ ، آن تردې ،چې د هندوستان اوپاکستان څخه زياتو خپرېدونکو مجلو خپور کړ. بله خبره لادا وه ،چې په جوناګړ کي مسلمانانو زما دغه مضمون ديوې بيلي رسالې په بڼه چاپ ته وسپاری او بيابې نشر کړ. که څه هم زما دغه مضمون په داسي ډول ترتيب سوی وو ،چې هيڅ دمناظرې او مقابلې بڼه يې نه درلوده ،خو کوم ملايان صاحبان ،چې دتقليد څخه مخالف وه هغوزما پر ليکنه باندي پوره نيوکي پيل کړې په ځانګړي ډول په دوی کي حضرت مولانا محمد اسمعيل سلفي صاحب زما دليکنې په رد کي خپله يوه ليکنه په الاعصام اونيزه کي په ديارلس برخو کي خپره کړه بيا يې خپله دغه ليکنه دخپل کتاب (تحریک ازادی اور شاہ ولی اللہ کی مساعی) ـ برخه وګرځول، خبره داوه ،چې يو کتاب د(التحقيق في جواب التلقيد) په نوم يو نشر سو، نومورې کتاب ديوه داسي چا ليکنه وه ،چې دځلورګونو مذهبونو امامانو ته ددې نسبت کوي ،چې شريعت دوی دځانه جوړکړی دئ او کوم څوک ،چې ددوی تقليد کوي هغه کافران دي ، همدا ډول اسلامي فقه ته ديوه داسي فن په سترګه ګوري ،چې دځان څخه جوړ سوی وي دقرآن او حديث څخه چنڼ سوی نه وي. بله خبره داده ،چې دحيدرآباد ددکن سيمي څخه هم په مياشتنۍ کي پردې موضوع باندي يوه څېړنه راغله ،چې غالبا دغه مجله به البيان مجله وه خو داچې مناظره کول او دچا سره مباحثه کول زما عادت نه وه نو ځکه مي تر ديارلس کلونو پوري دتقليد پر موضوع باندي هيڅ نه وليکل ، دا،چې زما لومړۍ ليکنه دنظر څښتنانو او رونړ آندو زياته خوښه کړې وه نو ددوی هيله داوه ،چې دا مضمون دي دلته په پاکستان کي هم دهندوستان په څېر په کتابي شکل چاپ اوخپورسي ،ما وغوښتل ،چې ددوی دغه غوښتنه

سرچینه: تعلیم الاسلام راډیو www.taleemulislam-radio.com/

(c) ketabton.com: The Digital Library

پوره کړم نو ځکه مي دهغه ليکني دچاپ اراده وکړه کومه ،چي ما لومړی په فاران مجله کي خپره کړې وه البته زما په آند ما اړينه وګڼل ،چي دا ليکنه ددوهم ځل لپاره تر نظر تېره کړم څو ښه تحقيقاتي ليکنه سي او کومي نيوکي ،چي زما پر ليکنه سوي دي هغه هم تر نظر تېري کړم او بيا جوابونه ورته ووايم ، لنډه داچي دا کار مي وکړ او دا کتاب ځني جوړ سو کوم ،چي ستاسو په لاس کي دئ خو داچي مناظره، مباحثه ، سوال او جواب کول زما عادت نه دي نو ځکه ما ،چي دکومو نيوکو جوابونه ويلي دي دنيوکه کونکو نومونه مي دځو اړينو ځايونو څخه پرته نه دي ياد کړي او اوس هم دا وايم ،چي دا کتاب دمناظرې او مباحثې کتاب نه دئ بلکي دا دتقليد دعلمي مسئلي څېړنيز کتاب دئ ددې کتاب اصلي موخه داده ،چي دمسلمان امت دلوی اکثريت تګ لاره واضحه کړي ، هغه لويه ډله ،چي تل يې دامامانو تقليد کړی دئ ، همدا ډول په دې کتاب کي دتقليد اړونده دافراط او تفريط تر منځ منځګړې لاره بيان سوې ده هغه لاره ،چي داهل سنت والجماعت زيات علماء پر روان دي ، نو ځکه مي وټولو خلکو ته هيله داده ،چي دې کتاب ته دمناظرې دجذبې او رخې په سترګه نه ګوري بلکي دې کتاب ته دي دتقليد دمسئلې ديوه څېړنيز کتاب په سترګه وګوري او بيا دي دا کتاب مطالعه کړي .

وروستی خبره داده ،چي په معاصر وخت کي دغير مقليدنو ، متجددينو او اباحت خوښو انسانانو په امامانو پسي خورا ډيري خبري دځانه ترلي دي ، زه اميد لرم ،چي داکتاب به ددوی دشبهاتو په ليري کولو کي هم رول ولري او ګټه به ورته وکړي ، الله جل جلاله ته مي دعا داده ،چي زما دغه کوچنۍ هڅه او زيار دي دقبوليت په لورونه ونازوي او الله جل جلاله ددې رسالې څخه عامو مسلمانانو ته ګټه او نفعه ورسوي . آمين

سرچينه: تعليم الاسلام راډيو www.taleemulislam-radio.com/

(c) ketabton.com: The Digital Library

وماتوفيقي الا بالله وعليه توكلت واليه انيب.

احقر محمد تقي عثماني خادم دارالعلوم كراچي ۱۴

سرچينه: تعليم الاسلام راډيو/www.taleemulislam-radio.com

(c) ketabton.com: The Digital Library

بسم الله الرحمن الرحيم

الحمد لله نحمده وكفي وسلام علي عباده الذين اصطفى.

دتقليد حقيقت

درنو لوستونكو! داچي داسلام اصل دعوت ديوه الله جل جلاله داطاعت لوري ته رابلل دي، ددې څخه هيڅوک انكار نه سي كولای او داچي دمحمدرسول الله صلی الله علیه وآله وسلم اطاعت كول هم لازمي دئ دائكه ،چي رسول الله صلی الله علیه وآله وسلم په خپله ژبه او فعل سره دالله جل جلاله داحكامو ترجماني كړې ده ، داچي كوم شی حلال دئ؟ ، كوم شی حرام دئ ؟، كوم شی جايز دئ؟ او كوم شی مستقل بالذات (بلاواسطه) ناجايز دئ؟ په دې ټولو كي بايد ديوه الله جل جلاله او درسول الله صلی الله علیه وآله وسلم اطاعت وكړل سي ، دالله جل جلاله او درسول الله صلی الله علیه وآله وسلم پرته دبل چا اطاعت هيڅ جواز نه لري او كه څوک دبل چا اطاعت كوي ، بل څوک مستقل بالذات (بلاواسطه) پوره مطاع ګڼي داسي څوک په يقيني ډول داسلام ددايرې څخه وتلی دئ نو ځكه پر هر مسلمان باندي په كلكه لازمي ده ،چي دقرآن او حديث پيروي وكړي او څه ،چي قرآن او حديث ورته وايي همدغسي عمل وكړي ،خو پاته دي نه وي ،چي په قرآنكريم او حديث كي ځينې داسي څه سته ،چي يو لږ تعليم لرونكی كس هم په پوهيدای سي لكه لاندنی آيت:

وَلَا يَغْتَب بَّعْضُكُم بَعْضًا ..... (۱)

ژباړه : په تاسو كي دي ځيني ستاسو دځينو غيبت نه كوي.

۱: حجرات ، اية ۱۲

سرچينه: تعليم الاسلام راډيو www.taleemulislam-radio.com/

(c) ketabton.com: The Digital Library

هرڅوک ،چې يوازي په عربي ژبه پوهيږي هغه په پورتني مطلب پوهيږي ، ځکه په پورتني مطلب کي نه څه ناڅرګندتيا سته او نه کوم بل شرعي دليل سته ،چې ورسره ټکر وي له همدې امله دپورتني مطلب په ثبوت کي هيڅ شک نسته.

همدا ډول درسول الله ﷺ په لاندنۍ وينا باندي لږ تعليم لرونکی کس ،چې يوازي په عربي پوهيږي هم پوهېدای سي:

﴿ لافَضْلَ لِعَرَبِي عَلَى عَجَمِي ﴾

ژباړه : عربي پر عجمي باندي کوم فضيلت نه لري.

درسول الله ﷺ په پورتنۍ وينا کي هيڅ ناڅرګندتيا نسته او نه کوم مشکل پکښې سته کوم څوک ،چې يوازي په عربي ژبه پوهيږي هغه دپورتني حديث په مطلب په اسانۍ سره پوهېدای سي.

دپورتنۍ خبري بالعکس داسي آياتونه او حديثونه هم سته ،چې معناوي يې څرګندي نه وي بلکي يو ډول ناڅرګندتيا پکښې وي ، هرڅوک نه په پوهيږي ، ځکه په ښکاره يوه معنا ورکوي ، خو په حقيقت کي يې بله معنا وي ، ددې سره داسي احکام هم سته ،چې دقرآنکريم دکوم بل آيت او يا کوم بل حديث سره تعارض لري يعني داچې په يوه آيت کي يو حکم ثابت وي خو په حديث کي بيا داسي خبره سوې وي لکه ددغه حکم په خلاف ،چې وي دمثال په ډول په لاندني آيت کي الله جل جلاله فرمايي:

وَٱلْمُطَلَّقَٰتُ يَتَرَبَّصْنَ بِأَنفُسِهِنَّ ثَلَٰثَةَ قُرُوٓءٍ .....(۱)

۱: البقرة ، اية ۲۲۸

سرچينه: تعليم الاسلام راډيو/www.taleemulislam-radio.com

(c) ketabton.com: The Digital Library

ژباړه :کومي ښځي ،چي طلاقي کړل سي هغوی دي درې قروء انتظار وکړي(نور مړونه دي نه کوي).

په پورتني آيت کي دطلاقي سوي ښځي لپاره درې قروء دعدې اندازه ښودل سوې ده، داچي قرء څه ته وايي؟ بايد ووايو ،چي قرء په عربي ژبه کي په لاندي دوو معناوو استعمالېږي :

۱: قرء معنا حيض (دښځي مياشتنی ناروغي)

۲ : قرء معنا طهر (يعني دښځي هغه شپې او ورځي ،چي ښځي ته پکښې مياشتنی ناروغي نه وي).

اوس نو که قرء دحيض په معنا کړو نو دطلاقي سوي ښځي عده درې حيضه کېږي يعني داچي ښځه به درې حيضه دمېړه په کور کي عده تېروي بيا کولای سي ،چي بل مېړه وکړي او يا دپلار کورته ولاړه سي . که قرء دطهر په معنا سي نو دطلاقي سوي ښځي عده درې طهره کېږي اوس نو موږ ته سوال پيدا کېږي ،چي موږ په کوم يوه عمل وکړو؟ يعني داچي دطلاقي سوي ښځي عده به درې طهره وي اوکه به درې حيضه وي؟

په بل حديث کي راځي:

عَنْ جَابِرِ بْنِ عَبْدِ اللَّهِ قَالَ سَمِعْتُ رَسُولَ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَقُولُ مَنْ لَمْ يَذَرْ الْمُخَابَرَةَ فَلْيَأْذَنْ بِحَرْبٍ مِنْ اللَّهِ وَرَسُولِهِ.(۱)

ژباړه :دجابر بن عبدالله رضي الله عنه څخه روايت دئ چي درسول الله ﷺ څخه مي واورېدل: چا که مزارعت نه پرېښودئ دالله جل جلاله او دهغه درسول ﷺ له لوري دغه کس ته دجنګ اعلان دئ.

۱: ابوداود ج ۹ ص : ۲۵۶ ، باب في المخابره ورقم الحديث : ۲۹۵۷، ط:المكتبة الشاملة

سرچينه: تعليم الاسلام راډيو www.taleemulislam-radio.com/

(c) ketabton.com: The Digital Library

پورته حديث ته كه وكتل سي نو دمزارعت منعه پكښي راغلې ده حال داچي مزارعت ډېر ډولونه دي،دامعلومه نه ده ،چي دمزارعت ټول ډولونه ناجايز دي؟ اوكه كوم خاص ډول مزارعت ناجايز دئ؟ ، كه خاص ډول مزارعت ناجايز وي نو دا نه ده معلومه ،چي كوم ډول يې جايزنه دئ؟.

يادونه : مزارعت دې ته وايي ،چي يوڅوک خپله مځكه په كښت باندي وبل چاته په يوه ټاكلې برخه وركړلې لكه ،چي په نيمايي يې وركړي ، يايې په دوهمه وركړي ، يايې په دريمه وركړي او داسي نور.

په بل حديث كي راځي :

من كان له امام فقراءة الامام له قراءة

ژباړه : كوم چا لره ،چي امام وي نو دامام قرئت دده لپاره هم كفايت كوي.

دپورتني حديث څخه معلوميږي ،چي كله مقتدي په امام پسي ولاړ وي نودامام قرئت دمقتدي لپاره كفايت كوي او مقتدى بايد چوپ ودريږي. خو په بل حديث كي بيا ددې حكم خلاف خبره ثابتيږي ځكه رسول الله ﷺ فرمايي :

لَا صَلَاةَ لِمَنْ لَمْ يَقْرَأْ بِفَاتِحَةِ الْكِتَابِ (۱)

ژباړه : هغه چا ،چي په لمانځه كي سورة فاتحه نه وي لوستې دهغه كس لمونځ ، لمونځ نه دئ يعني لمونځ يې نه صحيح كېږي.

دپورتني حديث څخه ثابتيږي ،چي الحمدلله ويل لازمي كار دئ بايد وويل سي اوس نو كه پورته دواړه حديثونه په نظر كي ونيول سي انسان

۱: بخاري، ج : ۳ ، ص : ۲۰۴ ورقم الحديث ۷۱۴

سرچينه: تعليم الاسلام راډيو/www.taleemulislam-radio.com

(c) ketabton.com: The Digital Library

ته سوال پيداکېږي ،چې په کوم حديث عمل وکړل سي؟ ايا په لومړی حديث عمل وکړل سي او که په دوهم حديث عمل وکړل سي؟ که په دوهم حديث عمل وکړ ل سي نو دا نه ده معلومه ،چې ددوهم حديث حکم يوازي منفرد او امام ته متوجه دئ مقتدی ځني استثناء دئ اوکه په لومړی حديث عمل وکړل سي هلته هم نه ده معلومه ،چې دقرئت څخه دالحمدلله پرته نور قرائت مراد دئ خو په هر صورت ناڅرګندتيا موجوده ده تعارض موجود دئ.

تاسو وليدل ،چې دقرآن او حديث څخه داحکامو په را ايستلو او چنلو کي څومره مشکلات سته اوس نو کله ،چې مورږ دقرآن او حديث څخه احکام راباسو او دپورته په ډول ټکرونه او تعارضونه مخته راسي په داسي حال کي نو مورږ دوې لاري لرو لومړی داچي مورږ په خپل فکراو بصيرت باندي يو ډول فيصله وکړو يعني داچي دتعارض په وخت کي مورږ وګورو ،چې کوم لوری زمورږ په آند باندي غوره او ښه وبلل سو پرهغه لوري باندي پرېکړه وکړو ، دوهم داچي مورږ وګورو ،چې زمورږ پخوانيو سترو اومخوروعلماوو دداسي ټکر ځايونو څخه کوم مطلب اخيستی دئ، ښکاره خبره ده ،چې زمورږ په پخواني ستر او مخور علماء خامخا ترمورږ زيات پوهېدل ، خامخا ددغسي ځايونو په مطلب تر مورږ ښه پوهېدل او داسي نظر يې ځني اخيستلای سوای ،چې غالبا حق به وای ، همدا ډول کوم علماء ،چې دلومړی پېړی علماء وه دهغو بصيرت په قرآن او حديث کي زيات و، نوکه پر حقيقت باندي پرېکړه وسي ،دعدل او انصاف څخه کارواخيستل سي ،نو داخبره يقيني ده ،چې په پورته دوو لارو کي لومړی لاره سخته خطرناکه ده او دوهمه لاره داحتياط لاره ده.

سرچينه: تعليم الاسلام راډيو www.taleemulislam-radio.com/

(c) ketabton.com: The Digital Library

بله خبره دا هم ده ،چي مورِ نه داچي دتواضع او عاجزۍ له امله داخبره کووبلکي يقيني خبره ده ځوک ښځي ځني منکر کېدای نه سي ،چي مورِ په علم ، پوهه ، ديانت ، تقوا ، فهم ، ذکاوت، دين ، پرهېزګارۍ او داسي نور کي دپخوانيو مخورو علماوو په پرتله ،چي په لومړيو پېړيو کي تېر سوي دي ـ ښځي خالي لاس يو بلکي په هر اعتبار سره دهغو په پرتله هيڅ په لاس کي نه لرو ، آن تردې ،چي زمورِ او دهغو ترمنځ ښځي تناسب نه سي کېدای ځکه هغه علماء په لومړيو پېړيو کي تېرسوي دي په داسي پېړيو کي تېر سوي دي ،چي دقرآنکريم دنزول وخت ته نژدې وه نو ځکه په قرآن باندي ددوی پوهاوی اسانه وه او بالعکس مورِ درسالت دوخت څخه خورا ډېر ليري يو ، دومره ليري يو ،چي دقرآن دنزول چاپېريال ، دهغې زمانې دژوند کولو طريقه او دخبرو کولو بڼه په صحيح ډول تصور کول او په کټ مټ ډول تصور کول ډېر ګران کار دئ ، صحيح پوهاوی خو لا ايسته پرېږده ، دپورته خبرو په نظر کي نيولو سره که يو کس دقرآن په هغه مسئلو کي ،چي سختي پېچلي وي او يا په خپل منځ کي تعارض سره ولري نو ددې پر ځای ،چي پر خپل فهم اونظر باندي اعتماد وکړي دپخوانيو اومخورو علماوو پر لاره باندي ولاړ سي هغو ،چي ددغه مسئلو اړونده څه نظر ورکړی وي نو دغه دخپل نظر پرځای باندي دهغو لاره تعقيب کړي همدې ته تقليد وايي او مورِ ويلای سو ،چي فلاني کس دفلاني عالم تقليد وکړ، همدا دتقليد حقيقت دئ.

که ،چيري ما تاسو ته هغه څه رسولي وي ،چي زما په زړه کي و او تاسومي په پوه کړی ياست نو تاسو به پوه سوی ياست ،چي ديوه مجتهد تقليد ته هغه وخت احتياج پيدا کېږي ،چي دقرآن او حديث څخه په يوه مسئله را ايستلو کي څه اشکال او ګران والی پروت وي په حکم

سرچينه: تعليم الاسلام راډيو www.taleemulislam-radio.com/

(c) ketabton.com: The Digital Library

پوهېدل يې ګران وي ، دغه اشکال يا خو دقرآن او حديث په لفظ کي پروت وي ،چي لفظ څو معناوي لري هر کس ته نه معلوميږي ،چي ددې لفظ څخه کومه معنا مراد ده اويا داچي ديادي مسئلې دحکم په دلايلو کي تعارض او ټکر پروت وي.

دقرآن او حديث کوم احکام ،چي قطعي دي يعني يقيني دي ، څه اشکال ، ناڅرګندتيا ، ګرانوالی او تعارض پکښې نه وي په داسي مسئلو کي دهيڅ مجتهد ياعالم تقليد ته اړتيا نسته لکه ،چي مشهور حنفی عالم علامه عبدالغني نابلسي رحمه الله فرمايلي دي:

فالامر المتفق عليه المعلوم من الدين بالضروره لايحتاج الي التقليد فيه لاحد الاربعة كفرضية الصلوة والصوم والزكاة والحج والسرقة والغصب واما اشبه ذالک والامر المختلف فيه هو الذي يحتاج الي التقليد فيه.(۱)

ژباړه : ددين هغه مسئلې ،چي دټولو پراتفاق دئ لکه دلمانځه ، روژې ، زکاة او حج فرضوالی ، يا دغلا ، غصب او داسي نور حراموالی په داسي مسئلو کي دڅلورګونو مذهبونو تقليد ته هيڅ اړتيا نه سته ، هغه مسئلې ،چي اختلاف پکښې وي په هغو کي تقليد ته اړتيا سته.

علامه خطيب بغدادي رحمه الله فرمايي:

واماالاحكام الشرعية فضربان : احدهما يعلم ضرورة من دين رسول الله صلى الله عليه وسلم كالصلوة الخمس والزكاة وصوم شهر رمضان والحج وتحريم الزنا شرب الخمر وما اشبه ذالک فهذا لايجوز تقليد فيه لان الناس كلهم يشتركون في ادراكه والعلم به فلامعنى للتقليد فيه وضرب آخر لايعلم الابالنظر والاستدلال كفروع العبادات والمعاملات والفروج والمناكحات وغير ذالک من الاحكام فهذا يسوغ في التقليد بدليل قوله تعالي: ﴿فاسئلوا اهل الذكر ان كنتم لاتعلمون﴾ ولانا لم منعنا التقليد في هذه المسائل التي هي من فروع الدين لاحتاج كل

[۱]: خلاصة التحقيق في حكم التقليد والتلفيق ، ص : ۴ ط : المكتبة اليشيق استنبول.

سرچينه: تعليم الاسلام راډيو www.taleemulislam-radio.com/

(c) ketabton.com: The Digital Library

احد ان يتعلم ذالک وفي ايجاب ذالک قطع عن المعايش وهلاک الحرث والماشية فوجب ان يسقط.(۱)

ژباړه : شرعي احکام دوه ډوله دي: يو يې هغه دئ ،چې څرنګوالی يې په دين کي ښکاره وي لکه پنځه ګوني لمونځونه ، روژه نيول ، حج کول ، دزنا او دشرابو حرامولی او داسي نور په داسي احکامو کي تقليد کول نه دئ جايز ځکه ټول خلک ددغه شيانو په پوهاوي او علم کي سره شريک دي په داسي شيانو تقليد کول بې معنا کار دئ. دوهم ډول يې هغه مسئلې دي ،چې دنظر او استدلال پرته نه معلوميږي لکه دعباداتو ، معاملاتو ، نکاح او داسي نورو فرعي مسئلې په داسي مسئلو کي تقليد کول جايز دئ ځکه الله ﷻ فرمايي: که تاسو نه پوهيدلاست نو دعلماوو څخه پوښتنه وکړئ ، په داسي ګرانو مسئلو کي موږ تقليد نه منعه کوو ځکه که تقليد منعه کړو نو پر هر سړي باندي به لازمه سي ،چې نوموړي مسئلې په څېړنيز ډول زده کړي او که دا کار پر هر چا باندي واجب وګرځول سي دژوندانه ټولي چاري به ودريږي ، ژوند کول به ګران سي ، فصلونه او حيوانان به لمنځه ولاړ سي، همدا وجه ده ،چې پر هر چاباندي پورتنی وجوب نسته.

حکيم الامت مولانا اشرف علي تهانوي رحمه الله فرمايي:

مسئلې درې ډوله دي : يو ډول هغه مسئلې دي ،چې نصوص په هغو کي متعارض وي، دوهم هغه ډول مسئلې دي ،چې په هغو کي نصوص متعارض نه وي مګر دزياتو معناوو او وجوهاتو احتمال لري، دريم هغه مسئلې دي ،چې نه نصوص پکښې متعارض وي او نه زياتي معناوي

۱: الفقيه والمتفقه، للخطيب البغدادي رحمه الله ج : ۲ ص : ۶۷و ۶۸ ط : دارالافتاء سعوديه رياض ، سنه ۱۳۸۹ هـ ق

سرچينه: تعليم الاسلام راډيو/www.taleemulislam-radio.com

(c) ketabton.com: The Digital Library

او احتمالات لري. په لومړی قسم کي ،چي تعارض موجود وي مجتهدته داجتهاد اړتيا ده او مقلد ته دتقليد اړتيا ده، دوهم قسم ته ظني الدلالت ويل کېږي داچي په دوی کي ديوه احتمال تعين کېږي نو بيا هم اجتهاد او تقليد ته اړتيا سته او دريم قسم ته قطعي دلايل ويل کېږي په دغه قسم کي نه اجتهاد جايز دئ او نه تقليد جايز دئ.(۱)

دپورتنيو خبرو په نظر کي نيولو سره داخبره معلوميږي ،چي ديوه امام دتقليد څخه مطلب دا نه دئ ،چي نومورې امام خپله داسي څوک دئ ،چي وجوبا دي يې تقليد وسي او يادي واجب الاطاعت ورته وويل سي او اتباع دي يې وسي او يا دي نومورې امام دشريعت جوړونکی ، شارع او ددين د قانون جوړونکی وبلل سي ، په هره خبره کي دي دده پيروي واجب وګڼل سي بلکي ددې مطلب دادئ ،چي اصلا پيروي دقرآن او حديث ده داچي په پېچلو مسائلو کي په قرآن او حديث باندي پوهاوی ګران کار دئ او دغه امام ددغه پېچلو مسائلو حل او دقرآن او حديث صحيح تعبير په خپل ژور فکر باندي کړی دئ نو ددغه امام پر تعبير باندي او دمسئلو پر حل باندي اعتماد وکړل سي همدا لامل دئ ،چي په څرګندو او يقيني مسئلو کي تقليد نه دئ لازم، ځکه په هغه ځای کي دالله ﷻ او درسول الله ﷺ داطاعت کولو مقصد دتقليد پرته په اسانۍ سره لاسته راوړل کېدای سي.

لکه مخکي ،چي مو وويل ،چي کله دامام تقليد وکړل سي نو امام ته يوازي شارح ويل کېږي او بالذات واجب الاتباع نه دئ همدا داخبره

۱: الاقتصاد في التقليد والاجتهاد ص : ۳۴ ط : دهلي ،ددیارلسمي شبهي په جواب کي.

سرچينه: تعليم الاسلام راډيو/www.taleemulislam-radio.com

(c) ketabton.com: The Digital Library

خپله دتقليد په تعريف کي داخله ده ځکه علامه ابن الهمام رحمه الله او علامه ابن نجيم رحمه الله دتقليد دتعريف په هکله داسي فرمايي:

التقليد العمل بقول من ليس قوله احدى الحجج بلاحجة منها(۱)

ژباړه: تقليد دې ته ويل کېږي، چې دکوم چا قول دشريعت ماخذ نه وي، دهغه پر خبره (قول) ددليل دغوښتلو پرته عمل وکړل سي.

دپورته تعريف څخه په ښکاره معلوميږي، چې مقلد دخپل امام قول شرعي ماخذ نه ګڼي ځکه شرعي ماخذ يوازي قرآن او حديث، دقرآن او حديث په رڼا کي اجماع او قياس دي، مقلد ځکه دامام پر خبره باندي اعتماد لري، چې امام دقرآن او حديث په پوهاوي کي پوره لاس رسی او بصيرت لري، مقلد وايي کوم مطلب، چې امام دقران او حديث څخه اخستی دئ هغه زما لپاره داعتماد وړ دئ، دپورته خبرو په نظر کي نيولو سره تاسو ښه په عدل او انصاف سره پرېکړه وکړئ، چې په دا ډول تقليد کي، چې لوړيې بيان سته څه دګناه او يا دشرک خبره سته؟ که يو څوک خپل امام شارع بولي او خپله امام ددين قانون جوړونکی او يا امام بالذات واجب الاطاعت بولي نو دا خوښکاره خبره ده، چې دغه کار ته شرک ويل کېږي، او که څوک خپل امام شارع نه بلکي ددين دقانون شارح وبولي، ترخپل ځان دهغه ذکاوت او فهم ښه وبولي، دخپل نظر په پرتله دهغه نظر ښه وبولي اوهغه امام، چې کوم تعبيرات کړي دي تر خپل تعبير دهغه پر تعبير باندي اعتماد وکړي په ځانګړې توګه په اوس وخت کي، چې علمي خلا خورا زياته ده، داسي کار کول

۱: تيسير الحرير لامير بادشاه البخاري ج: ۴ ص: ۲۴۶، ط: مصر، نېټه: ۱۳۵۱ هـ ق وفتح الغفار شرح المنار لابن نجيم، ج: ۲، ص: ۳۷، ط: مصر، نېټه: ۱۳۵۵ هـ ق

سرچينه: تعليم الاسلام راډيو www.taleemulislam-radio.com/

(c) ketabton.com: The Digital Library

نه يوازي ،چي لازمي دئ بلکي ددې کار څخه تېښته او ځان خلاصول ناممکن دي ، ددې مثال دپاکستان قانون وبولئ ،چي نن په ټوله پاکستان کي پلی ، دغه قانون ،چي کله مدون اوترتيب سو نو په کتابي بڼه په هيواد کي خپور سو په دغه قانون باندي په پاکستان کي په ميلونو انسانان عمل کوي ، ستاسوپه آند دغه خلک نو ټوله قانون ګوري بيا عمل په کوي؟ حال داچي دهيواد بې سواده خلک څه ،چي ډېر تعليم يافته خلک هم ددې غوښتنه نه کوي ،چي مونږ قانون په کتاب کي وګورو بيا عمل په وکړو بلکي دلوړو پوهانو لپاره هم ،چي کله په دغه قانون کي څه ناڅرګندتيا تر سترګو سي نو ديوه وکيل څخه پوښتنه کوي اودهغه وکيل پر خبره باندي اعتماد کوي ، تاسو فکر وکړئ څوک ،چي سالم فکر ولري هغه به داخبره ومني ،چي وکيل دقانون جوړونکی دئ؟ اويا عامو خلکو دوکيل خبره منلې ده دا نو دا معنا ،چي وکيل په قانون کي پوره اختيار لري؟؟؟ تغير او تبديل ورکولای سي؟ بلکي يوازي وکيل دقانون معبر دئ عام خلک دده پر تعبير باندي اعتماد کوي. په دغه ډول دقران او حديث معامله هم ده کله ،چي په قرآن او حديث کي څه ګران ځای راسي نو عام خلک نه په پوهيږي نو خلک دمجتهدينو لوري ته رجوع کوي څو هغه يې ورته تفسير او تشريح کړي ، عام خلک ددوی پر دغه تفسير او تشريح باندي اعتمادوکړي همدې خبري ته تقليد وايي همدا وجه ده ،چي مونږ پر عامو خلکوباندي دا الزام نه سو لګولای ،چي دوی دي دقرآن او سنت پرځای دمجتهدينو امامانو اتباع وکړي.

سرچينه: تعليم الاسلام راډيو/www.taleemulislam-radio.com

(c) ketabton.com: The Digital Library

دتقليد دوه صورتونه

تقليد دوه ډوله دئ لومړی داچي مقلد دځان دتقليد لپاره يو خاص مجتهد ونه ټاکي بلکي په يوه مسئله کي ديوه امام تابعداري وکړي او په بله مسئله کي دبل امام تابعداري وکړي دغسي تقليد ته مطلق تقليد او يا عام تقليد وايي.

دوهم ډول تقليد هغه تقليد دئ ،چي يو کس يو خاص امام وټاکي په ټولو مسئلو کي دهمدغه امام تابعداري کوي ، دغه تقليد ته شخصي تقليد وايي.

دتقليد ددواړو ډولونو حقيقت دادئ ،چي يو کس په خپل نظر ، فکر او فهم سره دقرآن او حديث څخه دمسائلو استنباط نه سي کولای او په مجتهدينو کي ديو کس پر بصيرت ، پوهه او فهم باندي اعتماد ولري ، ددغه مجتهد پر تشريحاتو باندي ،چي دقران او حديث لپاره يې کړي دي پر هغه اعتماد ولري ، کوم مسائل ،چي نوموړي مجتهد دقرآن او حديث څخه استنباط کړي وي پر هغه باندي اعتماد ولري بيا عمل په وکړي . داسي تقليد کول نه يوازي ،چي جايز دئ بلکي پر واجب والي باندي يې په قرآن او حديث کي ګڼ شمېر دلايل شتون لري.

سرچينه: تعليم الاسلام راډيو/www.taleemulislam-radio.com

(c) ketabton.com: The Digital Library

دتقليد ثبوت په قرآن سره

کوم تقليد ،چې پورته بيان سو اصولي لارښوونې يې خپله په قرآن کې سته ځکه الله جل جلاله فرمايي:

لومړی آيت : يَـٰٓأَيُّهَا ٱلَّذِينَ ءَامَنُوٓاْ أَطِيعُواْ ٱللَّهَ وَأَطِيعُواْ ٱلرَّسُولَ وَأُوْلِى ٱلْأَمْرِ مِنكُمْ ۖ (۱)

ژباړه : اې ايمان لرونکو ! دالله جل جلاله او درسول الله ﷺ پيروي وکړئ او د (اولي الامر) اطاعت او پيروي وکړئ.

په پورته آيت کې ،چې د (اولي الامر) لفظ ذکر سوی دئ ځينو علماوو يې په تفسير کې ليکلي دي ،چې مراد ځنې دمسلمانانو حاکمان او واکمنان دي او ځينو بيا ويلي دي ،چې د (اولي الامر) څخه مراد دفقه علماء او پوهان دي يعني داچې دفقه دعلماوو اطاعت دي وکړل سي ، داچې د (اولي الامر) څخه مراد علماء سي دا تفسير حضرت جابر بن عبدالله رضي الله عنه ، حضرت عبدالله بن عباس رضي الله عنه ، حضرت مجاهد رحمه الله ، حضرت عطاء بن ابي رباح رحمه الله ، حضرت عطاء بن السائب رحمه الله ، حضرت حسن بصري رحمه الله ، حضرت ابوالعالية رحمه الله او داسي نورو علماوو خوښ کړی دئ.(۲)

بله خبره لاداده ،چې دپورتنيو علماوو تفسير امام رازي رحمه الله خورا په ډېرو دلايلو تائيد کړی دئ او همدا تفسير ته يې ترجيح ورکړې ده او

۱: سورة نساء الاية ۵۹

۲: دحضرت عبدالله بن عباس تفسير دمعاويه بن صالح او علي بن طلحة له طريقه روايت سوی دئ ، ابن جرير ج : ۵ ص : ۸۸، الاتقان ، نوع ۸۰

سرچينه: تعليم الاسلام راډيو www.taleemulislam-radio.com/

(c) ketabton.com: The Digital Library

بيا يې ليکلي دي ،چې د (اولي الامر) دلفظ څخه علماء مراد دول اولي او غوره کار دئ.(۱)

ابوبکر جصاص رحمه الله بيا دپورتنيو دوو تفسيرونو په اړه وايي : دواړه تفسيرونه درست دي او په خپل منځ کي کوم تعارض هم نه لري ځکه ،چې دمسلمانانو دواکمنانو اطاعت دي په سياسي چارو کي او دعلماوو اطاعت دي په مذهبي چارو کي وکړل سي.(۲)

علامه ابن القيم رحمه الله فرمايي: دآمرانو او واکمنانواطاعت هم په حقيقت کي دعالمانو اطاعت او پيروي ده ځکه آمران هم په خپل حکومت او دولتي چارو کي دعالمانو پابند دي څه ډول ،چې اسلامي لارښوونې عالمانو واکمنانو ته ښيي په هغه ډول به واکمنان عمل کوي لنډه داچې دواکمنانو اطاعت دعالمانو اطاعت دئ.

علامه ابن القيم رحمه الله فرمايي:

فطاعة الامرآء تبع لطاعة العلماء.(۳)

ژباړه : دواکمنانو پيروي دعالمانو دپيروی تابع ده.

په هر صورت که دپورته آيت تفسير په نظر کي ونيول سي نو مسلمانانو ته لارښوونه کوي ،چې دالله جل جلاله او درسول الله صلى الله عليه وسلم اطاعت وکړئ ، دهغه عالمانو اطاعت وکړئ ،چې دالله جل جلاله او درسول الله صلى الله عليه وسلم دويناوو شرحه تاسو ته کوي په کومو ويناوو ،چې تاسو نه پوهيږئ هغه تاسو ته درښيي. دغه اطاعت ،چې په ايت کي ذکر سو او لازم وګڼل سو همدا اطاعت دتقليد اصطلاحي نوم دئ.

۱: تفسير كبير ج : ۳ ص : ۳۳۴.

۲: احكام القران للجصاص ج : ۲ ص ۲۵۶ باب في طاعة اولي الامر.

۳: اعلام الموقعين لابن القيم ، ج : ۱ ص : ۷

سرچينه: تعليم الاسلام راډيو www.taleemulislam-radio.com/

(c) ketabton.com: The Digital Library

دپورتني آيت پسې الله جل جلاله فرمايي:

فَإِن تَنَٰزَعۡتُمۡ فِي شَيۡءٖ فَرُدُّوهُ إِلَى ٱللَّهِ وَٱلرَّسُولِ إِن كُنتُمۡ تُؤۡمِنُونَ بِٱللَّهِ وَٱلۡيَوۡمِ ٱلۡأٓخِرِۚ....(۱)

ژباړه: که ستاسو په منځ کي دکومي مسئلې اړونده اختلاف پيښ سي نو تاسو الله جل جلاله او دالله جل جلاله رسول ﷺ ته رجوع وکړئ که تاسو پر الله جل جلاله او دقيامت پر ورځ باندي ايمان لرئ.

داچي پورتني آيت ،چي داولي برخي په تعقيب راغلی دئ ـ وکتل سي نو داسي بريښي لکه داچي دهغه تفسير مستقله جمله وي ،چي مجتهدينو ته خطاب سوی دئ.

ابوبکر جصاص رحمه الله پر دې خبره اسرار کوي ،چي داولي الامر څخه علماء مراد اودخپلي خبري دتائيد لپاره ليکي:

وقوله تعالي عقيب ذالک فَإِن تَنَٰزَعۡتُمۡ فِي شَيۡءٖ فَرُدُّوهُ إِلَى ٱللَّهِ وَٱلرَّسُولِ يدل علي ان اولي الامر هم الفقهاء لانه امر سائر الناس بطاعتهمثم قال فان تنازعتم الخ فامراولي الامر برد المتنازع فيه الي كتاب الله وسنة نبيه ﷺ اذا كانت العامة ومن ليس من اهل العلم ليست هذه منزلتهم لانهم لايعرفون كيفية الردالي كتاب الله والسنة ووجوه دلائلها علي احكام الحوادث فثبت انه خطاب للعلماء.(۲)

ژباړه: لکه ،چي الله جل جلاله دايت په لومړی کي برخه داولي الامر داطاعت امر وکړ، دستي يې ورپسې وويل ،چي که ستاسو ته په کومه مسئله کي اختلاف پيدا سو نو الله جل جلاله او رسول الله ﷺ لوري ته رجوع وکړئ ، ددغه خبري څخه ښکاره معلوميږي ،چي داولي الامر څخه مراد فقهاء

۱: سورة نساء الاية ۵۹

۲: احكام القران ج : ۲ ص : ۲۵۷

سرچينه: تعليم الاسلام راډيو/www.taleemulislam-radio.com

(c) ketabton.com: The Digital Library

دي ځکه الله جل جلاله ټولو خلکو ته امر وکړ ،چي تاسو دفقهاوو اطاعت وکړئ او بيا يې فقهاوو ته وفرمايل ،چي که ستاسو په کومه مسئله کي اختلاف پيښ سي نو قرآن او حديث ته رجوع وکړئ ، داحکم يوازي فقهاوو ته دئ ځکه عام او بې علمه خلک ددې مقام څخه برخمن نه دي ځکه هغوته دا نه معلوميږي ،چي دقرآن اوحديث څخه دي کومي مسئلې ثابتي سي او څنګه دي ثابتي سي، همدا ډول عامو خلکو ته نه معلوميږي ،چي نوي مسئلې څنګه استنباط سي ، نه داستنباط علم ورسره سته او نه يې دلايل ورته معلوميږي ،چي مسئلې دي يې په مټ استنباط کړي نو بالاخره داخبره ثابته سوه ،چي دا خطاب يوازي علماوو ته دئ.

مشهور اهل حديث علامه نواب صديق حسن خان صاحب رحمه الله هم په خپل تفسير فتح البيان کي په دې خبره اعتراف کړی ،چي د (فان تنازعتم) خطاب مجتهدينو ته دئ ځکه دی فرمايي:

والظاهر انه خطاب مستقل مستانف موجه للمجتهدين.([1])

ژباړه :ښکاره خبره داده ،چي دايو مستقل خطاب دئ او مجتهدينو ته متوجه دئ.

دپورته ټولو خبرو څخه داخبره څرګنديږي ،چي کوم خلک ،چي داجتهاد وړتيا نه لري هغو ته اجازه نسته ،چي په اختلافي مسائلو کي دي مستقيما قرآن او حديث ته رجوع وکړي او بيا دي په خپله رايه او نظر باندي پرېکړه وکړي بلکي لومړی وهغه خلکو ته خطاب دئ ،چي مستقيما دقرآن او حديث څخه دمسئلواستنباط نه سي کولای، په

[1]: تفسير فتح البيان ج : ۲ ص : ۳۰۸ ، ط : مطبعة العاصمة قاهره.

سرچينه: تعليم الاسلام راډيو www.taleemulislam-radio.com/

(c) ketabton.com: The Digital Library

خطاب کي داخبره پر دوی باندي لازمه کړل سوې ده ،چي دوی به دالله ﷻ او رسول الله ﷺ اطاعت کوي داطاعت طريقه داده ،چي دوی به اولي الامر يعني دعالمانو څخه دمسئلو پوښتني کوي او بيا به عمل په کوي ، ددغه آيت په دوهمه جمله کي بيا وعالمانو يعني مجتهدينو ته خطاب دئ او الله ﷻ ورته فرمايلي دي ،چي که تاسوته په کومه مسئله کي اختلاف پيدا سو نو قرآن او حديث ته رجوع وکړئ او دخپل فهم ، بصيرت او فکر په کار اچولو سره دقرآن او حديث څخه مسئلې استنباط کړئ خلاصه دا ،چي دپورتني آيت په لومړۍ جمله کي مقلدينو ته دتقليد کولو امر سوی دئ او په دوهمه جمله کي يې مجتهدينو ته داجتهاد حکم سوی دئ.

دوهم آيت:

الله ﷻ فرمايي:

وَإِذَا جَآءَهُمۡ أَمۡرٞ مِّنَ ٱلۡأَمۡنِ أَوِ ٱلۡخَوۡفِ أَذَاعُواْ بِهِۦۖ وَلَوۡ رَدُّوهُ إِلَى ٱلرَّسُولِ وَإِلَىٰٓ أُوْلِي ٱلۡأَمۡرِ مِنۡهُمۡ لَعَلِمَهُ ٱلَّذِينَ يَسۡتَنۢبِطُونَهُۥ مِنۡهُمۡۗ .....(۱)

ژباړه : کله ،چي دامن او ويري اړوند کوم کار پېښ سي نو دوی يې نشر کړي (که دوی تر نشر وړاندي دغه خبره) رسول الله ﷺ ته راجع کړي وای او خپل اولي الامر ته يې راجع کړي وای نو په دوی کي ،چي کوم خلک استنباط کولای سي هغوی به حقيقت حال ډېر ښه معلوم کړی وای.

۱: نساء ، اية ۸۳

سرچينه: تعليم الاسلام راډيو www.taleemulislam-radio.com/

(c) ketabton.com: The Digital Library

دپورتني آيت شانزول داسي و ،چي درسول الله ﷺ په زمانه کي ،چي به کله څه دويري او يا دامن خبره پيښه سوه نو ددغه زماني منافقينو به دغه خبره پر څو بني باندي واړول څو په ښارونو کي دويري فضا خپره کړي ، دمنافقانو ددغه کار تر اغيز به ځيني ساده مسلمانان لاندي راغلل او دوی به هم داخبري کولې څو الله ﷻ آيت کريمه نازل کړ، او دوی يې ددغه کار څخه منعه کړه اولارښوونه يې ورته وکړه ،چي کله تاسو ته کومه دامن او ويري خبره ورسيږي نو ددې پرځای ،چي تاسو پرخپل سرباندي عمل کوئ لومړی داخبره اولي الامر ته ورسوئ په هغو کي ،چي کوم خلک دتحقيق او استنباط څښتنان دي هغه به دخبري اساس معلوم کړي ،تاسو ته به يې بيان کړي بيا به تاسو په اصلي خبره خبر سئ ، خلاصه داچي دپورتنی آيت څخه معلوميږي ،چي دمسلمان کار دا نه دئ ،چي هره خبره يې تر غوږه ورسيده بايد دستي په خپل فکر عمل په وکړي بايد لومړی داخبره پوهانو ته ورسوي هغو ،چي کوم نظر ورکړ، په هغه باندي بيا عمل وکړي.

پورتنی آيت که څه هم په يوه خاصه موضوع کي نازل سوی دئ مګر دتفسير او اصول فقه دا منل سوې قاعده ده ،چي کله دمسائلو او احکامو استنباط دقرآن څخه کيږي نو که څه هم شان نزول يې خاص وي پاملرنه ورته پکار نه ده دقرآن دالفاظو عموميت ته پاملرنه پکار ده او دالفاظو عموميت ته اعتبار ورکول کيږي ، ددغه قاعدې په نظر کي نيولو سره دپورتني آيت څخه موږ ته داسي لارښوونه کيږي ،چي کوم خلک ،چي دبصيرت او ذکاوت والا نه دي هغو ته ،چي کومه خبره ورسيږي هغوی حق نه لري ،چي په خپل سر باندي او په خپل فکر سره پريکړه وکړي بايددوی هغه کسانو ته رجوع وکړي ،چي هغوی داستنباط اهليت او وړتيا ولري کله ،چي هغوی دخپل بصيرت او پوهي

سرچينه: تعليم الاسلام راډيو/www.taleemulislam-radio.com

(c) ketabton.com: The Digital Library

په رښا کي کوم حکم وکړ، عام خلک دي بيا په هغه سره عمل وکړي .
همدغه کار ته تقليد ويل کېږي.

امام رازي رحمه الله دپورتني آيت لاندي ليکي:

فثبت ان الاستنباط حجة والقياس اما استنباط او داخل فيه فوجب ان يكون حجة اذا ثبت هذا فنقول : الاية دالة علي امور احدها ان في احكام الحوادث مالايعرف بالنص بل بالاستنباط وثانيها ان الاستنباط حجة وثالثها ان الامي يجب عليه تقليد العلماءفي احكام الحوادث.([1])

ژباړه : نو داخبره ثابته سوه ،چي استنباط حجت دئ او قياس يا خو خپل استنباط دئ اويا په دې کي داخل دئ په هر صورت قياس هم حجت دئ کله ،چي داخبره ثابته سوه نو مورږ وايو : پورتنی آيت پر څو خبرو باندي دلالت کوي : لومړی داچي په نوو پيدا سوو مسائلو کي ځيني داسي مسئلې ستە ،چي دنص څخه په څرګند ډول نه معلوميږي بلکي په استنباط معلوميږي، دوهمه خبره دا معلومه سوه ،چي استنباط حجت دئ ، دريمه خبره دا معلومه سوه ،چي پر امي باندي لازمه ده ،چي په نوو پيدا سوو مسائلو کي دعلماوو تقليد وکړي.

ځينو علماوو پر پورتنی خبر باندي اعتراض کړی دئ ،چي په آيت کريمه کي خو دجنګ بيان سوی دئ دامن حالات به څنګه دجنګ پر حالاتو باندي قياس کړل سي؟([2])

دپورتني اعتراض جواب خو مورږ لومړی ويلی و ،چي قانون داسي دئ ،چي دآيت عامو الفاظو ته اعتبار ورکول کېږي او دشانزول خاصو

---

[1]: تفسير کبير ج : ۳ ص : ۲۷۲

[2]: تحريک ازادي فکر مجله ،ص : ۳۱ دمولانا محمد اسماعيل سلفي دلوري څخه

سرچينه: تعليم الاسلام راډيو www.taleemulislam-radio.com/

(c) ketabton.com: The Digital Library

حالاتو ته اعتبار نه ورکول کېږي دهمدې خبري په تائيد امام رازي رحمه الله ليکي:

ان قوله (واذا جاءهم امر من الامن او الخوف) عام في كل ما يتعلق بالحروب وفيما يتعلق بسائر الوقائع الشرعية لان الامن والخوف حاصل في كل ما يتعلق بباب التكليف فثبت انه ليس في الايت ما يوجب تخصيصها بامر الحروب.([1])

ژباړه : دالله جل جلاله دا وينا ،چې کله دامن اوويري خبره پېښه سي ـ دالله جل جلاله دغه حکم عام دئ په جنګي اونورو ټولو شرعي چارو پوري اړه لري ځکه امن او وېره داسي څه دي ،چې دتکليف په هر ډګر پوري اړه لري بالاخره داخبره ثابتيږي ،چې په آيت کي ،چې کوم امر سوی دئ يوازي په جنګي چارو پوري اړه نه لري.

همدا ډول امام ابوبکرحصاص رحمه الله هم دپورتني اعتراض جواب په همدغه ډول کړی دئ او ورسره تر څنګ يې دځينو نورو شبهاتو ليري والی هم کړی دئ ، همدا لامل دئ ،چې داهل حديثو مشهور عالم نواب صديق حسن خان پورتني آيت دقياس دجواز لپاره دليل بللی دئ ځکه نوموړی عالم په خپل تفسير کي داسي ليکي:

في الاية اشارة الي جواز القياس وان من العلم ما يدرک بالاستنباط.([2])

ژباړه : په پورتني آيت کي دقياس جواز ته اشاره ده ځکه ځيني پوهه په استنباط سره درک کېدای سي.

که پورتنی آيت يوازي دامن او ويري دزمانې پوري خاص سي او ددغه زمانې پرته بل شي په ثابت نه سي نو دپورتني آيت څخه به څنګه قياس ثابت سي.

---

[1]: تفسير کبير ج : ۳ ص : ۲۷۳

[2]: تفسير فتح البيان ج : ۲ ص : ۳۳ ، دنواب صديق خان تفسير.

سرچينه: تعليم الاسلام راډيو www.taleemulislam-radio.com/

(c) ketabton.com: The Digital Library

دريم آيت:

الله ﷻ فرمايي:

فَلَوْلَا نَفَرَ مِن كُلِّ فِرْقَةٍ مِّنْهُمْ طَآئِفَةٌ لِّيَتَفَقَّهُوا۟ فِى ٱلدِّينِ وَلِيُنذِرُوا۟ قَوْمَهُمْ إِذَا رَجَعُوٓا۟ إِلَيْهِمْ لَعَلَّهُمْ يَحْذَرُونَ ﴿١٢٢﴾ (۱)

ژباړه: ولي ددوی څخه يوه ډله دهري ډلي څخه نه وزي څو په دين کي پوهه لاسته راوړي تر ېپرته راتګ وروسته خپل قوم وويروي ښايي خپل قوم به دالله ﷻ دنافرمانۍ څخه وساتي.

په پورته آيت کريمه کي پر دې خبره باندي ټينګار سوی دئ ،چي ټول مسلمانان دي په جهاد او نورو کارونوکي بوخت نه پاتيږي بلکي يوه ډله دي دالله ﷻ په دين باندي دپوهاوي لپاره ځانونه وقف کړي څو خلکو ته دالله ﷻ ددين احکام ورسوي هغو خلکو ته ،چي ځانونه يې ددين په نورو څانګو بوخت کړي دي او ددين داحکامو دزده کړي لپاره يې وخت نه دئ پيداکړی، همدا لامل دئ ،چي پورتنی آيت پر هغو کسانو باندي ،چي علم يې زده کړی دئ دا خبره لازمه کړې ده ،چي دوی به خلکوته دالله ﷻ ددين احکام ورزده کوي او پر هغو کسانو باندي ،چي په نورو څانګو بوخت دي داخبره يې لازمه کړې ده ،چي دهمدغه کسانو څخه به زده کړه کوي او عمل به په کوي څو په دې لاره سره دالله ﷻ دنافرمانۍ څخه ځانونه وژغوري. امام ابوبکر جصاص رحمه الله پر همدې خبره باندي دتبصرې په بڼه ليکي:

فاوجب الحذر بانذارهم والزم المنذرين قبول قولهم.(۱)

۱: سورة توبة الاية ۱۲۳

سرچينه: تعليم الاسلام راډيو www.taleemulislam-radio.com/

(c) ketabton.com: The Digital Library

پر علماوو لازمه ده ،چي خلک دالله ﷻ څخه وښروي او پرخلکو باندي لازمه ده ،چي ددوی قول ومني.

يعني علماوو ،چي دالله ﷻ ددين احکام يې زده کړی دي داخبره پر لازمه ده ،چي الهي احکام خلکو ته ورسوي او پر خلکوباندي ددوی اطاعت لازم دئ ،حاصل داچي خلکو ته پکاره ده ،چي دالله ﷻ دپورتني آيت حکم ومني دعلماوو خبري دي ومني او دالله ﷻ دنافرماني څخه دي ځانونه خلاص کړي.

څلورم آيت:

الله ﷻ فرمايي:

فَسْـَٔلُوٓاْ أَهْلَ ٱلذِّكْرِ إِن كُنتُمْ لَا تَعْلَمُونَ ﴿٤٣﴾ (۱)

ژباړه: که تاسو نه پوهيږئ نو داهل ذکر څخه پوښتنه وکړئ.

په پورتني آيت کي انسانانو ته اصولي لارښوونه سوې ده ،چي کوم کسان ،چي ديوه فن په اړه معلومات نه لري هغوی دي دعالمانو څخه پوښتنه وکړي او بيادي عمل په وکړي همدې کار ته تقليد ويل کيږي.

علامه الوسي رحمه الله ليکي:

واستدل بها ايضا علي وجوب المراجعة للعلماء فيما لايعلم وفي الاكليل: للجلال الدين السيوطي انه استدل بها علي جواز تقليد العامي في الفروع.(۲)

ژباړه :په پورتني آيت کي پردې خبره باندي هم دليل ويل کيدای سي ،چي په هغه خبرو کي ،چي چاته يې علم نه وي علماوو ته رجوع کول

۱: احكام القران لجصاص ج : ۲ ص : ۲۶۲ باب طاعة الرسول الله ﷺ.

۲: سورة النحل الاية ۴۳

۳: روح المعاني ج : ۱۴ ص : ۱۴۸.

سرچينه: تعليم الاسلام راډيو www.taleemulislam-radio.com/

(c) ketabton.com: The Digital Library

واجب دي ، علامه سيوطي رحمه الله په اکليل نومي کتاب کي ليکي: په پورتني آيت کي پردې خبره باندي هم دليل دئ ،چي عامو خلکو ته په فروعي مسئلو کي تقليد کول جايز دئ.

که پورتنی آيت کريمه دتقليد لپاره ددليل په توګه وويل سي نو ځينو خلکو ته دا نيوکه ور پرزړه کېږي ،چي کله دمکې مشرکينو دحضرت محمد ﷺ درسالت څخه منکر سوه او دا يې ويل ،چي موږ ته ولي درسالت په توګه يوه ملايکه نه راځي؟ الله جل جلاله دا آيت نازل کړ:

وَمَآ أَرۡسَلۡنَا مِن قَبۡلِكَ إِلَّا رِجَالٗا نُّوحِيٓ إِلَيۡهِمۡۚ فَسۡـَٔلُوٓاْ أَهۡلَ ٱلذِّكۡرِ إِن كُنتُمۡ لَا تَعۡلَمُونَ ٤٣(۱)

ژباړه : موږ ترتا وړاندي نور خلک هم درسولانو په ډول لېږلي وه ، که تاسو نه پوهېږئ نو داهل ذکر څخه پوښتنه وکړئ.

په پورتني آيت کي ،چي(اهل ذکر) ياد سوي دي ،دځينو مفسرينو په آند داهل کتابو علماء ځيني مراد دي ، دځينو په آند هغه علماء ځيني مراد دي ،چي درسول الله ﷺ په زمانه کي يې اسلام راوړی وو ، دځينو په آند اهل قرآن ځيني مراد دي.

مطلب داچي دټولو مفسرينو پردې خبره باندي اتفاق دئ ،چي دپورتني آيت مطلب دادئ ،چي مخکني ټول انبياء عليهم السلام انسانان وه ملايکي نه وې له همدې دپورتني آيت دسباق ، سوق او سياق څخه هيڅ دتقليد او اجتهاد خبره نه معلوميږي؟

۱: سورة النحل الاية ۴۳

سرچينه: تعليم الاسلام راډيو/www.taleemulislam-radio.com

(c) ketabton.com: The Digital Library

دپورتنی سوال جواب دادئ : ،چي دآيت شريف څخه په دلالت النص باندي تقليد معلوميږي، او پر تقليد باندي دلالت کوي ، حاصل داچي داهل الذکر څخه ،چي هرڅوک مراد وي خو دوی ته درجوع حکم هغه چاته سوی دئ ،چي په هغو کي ذاتي ناپوهي نغښتې وي ، داخبره هغه وخت منل کېدای سي ،چي کله دا اصل ومنل سي ،چي هر پوه دي عالم ته رجوع کوي او دغه اصل دپورتني آيت څخه معلوميږي ،بالاخره پورتنی آيت دتقليد لپاره استدلال کېدای سي ، بله خبره داده ،چي مخکي موږ ويلي وه ،چي ټول فقهاء او مفسرين لاندي قاعده بيانوي:

العبرة لعموم اللفظ لا لخصوص المورد.

ژباړه : اعتبار عمومي الفاظو ته دئ خاص هغه مورد ته اعتبار نه ورکول کېږي په کوم کي ،چي آيت نازل سوی وي.

که څه هم پورتنی آيت دمکې دمشريکانو په جواب کي نازل سوی دئ خو دآيت الفاظ عام دي نو ځکه دآيت څخه دشک پرته دا اصول ثابتيږي ،چي هغه خلک ،چي علم نه لري هغه دي علماوو ته رجوع وکړي او پوښتنه دي ځني وکړي ، همدا خبره دتقليد مفهوم دئ ځکه خطيب بغدادي رحمه الله فرمايي:

اما من يسوغ له التقليد فهو العامي الذي لايعرف طريق الاحكام الشرعية فيجوز له ان يقلد عالما ويعمل بقوله قال الله تعالى فَسْـَٔلُوٓاْ أَهْلَ ٱلذِّكْرِ إِن كُنتُمْ لَا تَعْلَمُونَ ﴿٤٣﴾ (۱)

ژباړه : داچي تقليد به چاته جايز وي (بايد وويل سي ،چي تقليد) دهغه عام سړي لپاره جايز دئ ،چي شرعي احکام نه پېژني داسي سړي ته جايز

۱: الفقه والمتفقه للخطيب البغدادي رحمه الله ج : ۲ ص : ٦٧ ط : دارالافتاء سعودية رياض.

سرچينه: تعليم الاسلام راډيو www.taleemulislam-radio.com/

(c) ketabton.com: The Digital Library

دئ ،چې ديوه عالم تقليد وکړي او په خبره يې عمل وکړي ځکه الله جل جلاله فرمايي: که تاسو نه پوهيږئ نو داهل ذکر څخه پوښتنه وکړئ.
تر دې خبري وروسته علامه خطيب بغدادي رحمه الله په خپل سند سره د حضرت عمرو بن قيس رحمه الله قول رانقل کړی دئ ،چې داهل ذکر څخه مراد علماء دي.

دتقليد ثبوت په حديث سره

لکه دقرآن دآياتونو څخه ،چې دتقليد ثبوت وسو په همدې ډول دډېرو احاديثو څخه هم دتقليد جواز ثابتيږي ،چې ځينې احاديث يې په لاندې ډول دي:

۱: عن حذيفة رضي الله عنه قال قال رسول الله صلى الله عليه وسلم : اني لاادري مابقائي فيكم فاقتدوا باللذين من بعدي ابي بكر وعمر رضي الله عنهما.(۱)

ژباړه :دحذيفه رضي الله عنه څخه روايت دئ ، دی فرمايي ،چې رسول الله صلى الله عليه وسلم وفرمايل: زه نه يم خبر ،چې زه به په تاسو کې څومره عمر يم نو تاسو زما وروسته په ابوبکر رضي الله عنه او عمر رضي الله عنه پسې اقتداء وکړئ.
په پورتني حديث کې يوه خبره ديادولو وړ ده هغه داچې په حديث کې داقتداء لفظ استعمال سوی دئ دغه لفظ دې ته ويل کېږي ،چې ديو چا په ديني چارو کې پيروي وسي نه داچې په انتظامي چارو کې دچا پيروي وسي ځکه دعربي لغت مشهور عالم ابن منظور ليکي: اَلْقُدْوَةُ وَالْقِدْوَة ما تسننت به.

۱: رواه الترمذي وابن ماجة واحمد ، مرقاة المفاتيح ج : ۵ ص: ۵۴۹ باب مناقب ابي بكر رضي الله عنه وعمر رضي الله عنه.

سرچينه: تعليم الاسلام راډيو www.taleemulislam-radio.com/

(c) ketabton.com: The Digital Library

ژباړه : قدوة دې ته ويل کېږي ،چې دچا پر سنت باندې عمل وکړل سي.

نوموړی عالم زياتوي: القدوة الاسوة.(۱)

ژباړه : قدوة نمونې ته وايي.

پورتنی لفظ په قرآنکريم کي دانبياؤ عليهم السلام او صالحينو داطاعت لپاره استعمال سوی دئ ځکه الله جل جلاله فرمايي:

أُولَٰئِكَ ٱلَّذِينَ هَدَى ٱللَّهُ فَبِهُدَىٰهُمُ ٱقْتَدِهْ .....(۲)

ژباړه: داهغه کسان دي ،چې هدايت ورته کړل سوی دئ تاسو هم ددوی په هدايت پسي اقتداء وکړئ.

همدا ډول درسول الله ﷺ دوفات په قصه کي داسي راځي:

يقتدي ابوبكر رضي الله عنه بصلوة رسول الله ﷺ والناس مقتدون بصلوة ابوبكر رضي الله عنه .(۳)

ژباړه : ابوبکر رضي الله عنه په رسول الله ﷺ پسي اقتدا کړې وه او خلکو په ابوبکر رضي الله عنه پسي اقتدا وکړه.

په مسند احمد کي دحضرت ابووائل رحمه الله څخه روايت دئ ، دی مبارک فرمايي:

قَالَ جَلَسْتُ إِلَى شَيْبَةَ بْنِ عُثْمَانَ فَقَالَ جَلَسَ عُمَرُ بْنُ الْخَطَّابِ فِي مَجْلِسَكَ هَذَا فَقَالَ لَقَدْ هَمَمْتُ أَنْ لَا أَدَعَ فِي الْكَعْبَةِ صَفْرَاءَ وَلَا بَيْضَاءَ إِلَّا قَسَمْتُهَا بَيْنَ النَّاسِ قَالَ قُلْتُ لَيْسَ ذَلِكَ لَكَ قَدْ سَبَقَكَ صَاحِبَاكَ لَمْ يَفْعَلَا ذَلِكَ فَقَالَ هُمَا الْمَرْءَانِ يُقْتَدَى بِهِمَا(۴)

ژباړه : ابووائل رحمه الله فرمايي: زه يوه ورځ دشيبة بن عثمان رحمه الله سره ناست وم ، شيبة بن عثمان رضي الله عنه راته وويل: يوه ورځ ستا پر ځای باندې

۱: لسان العرب ج : ۲ ص : ۳۱

۲: الانعام ،اية ۹۰

۳: صحيح بخاري ج : ۱ ص : ۹۹ ، باب الرجل ياتم بالامام.

۴: مسند احمد ، ج : ۳ ص : ۴۱۰ ، مسند شيبة بن عثمان ورقم الحديث:۱۴۸۳۸

سرچينه: تعليم الاسلام راډيو www.taleemulislam-radio.com/

(c) ketabton.com: The Digital Library

حضرت عمر بن خطاب ﷺ ناست و او وې ويل : زه داسي اراده لرم ،چې په کعبه کي ،چې کوم سره او سپين زر دي هغه ټوله دخلکو په منځ کي ووېشم، شيبه وايي : ما ورته وويل : (اې عمره ﷺ!) تر تا وړاندي دوه صاحبان يعني حضرت محمد ﷺ او حضرت ابوبکر ﷺ تېر سوي دي هغو خو داسي نه دي کړي لکه ته ،چې يې کوې؟ عمر ﷺ وويل: دوی دواړه داسي خلک وه ،چې اقتدا پسي وسي.

همدا ډول په مسند احمد کي دحضرت انس ﷺ څخه روايت دئ ،چې يوه ورځ رسول الله ﷺ په يوه مجلس کي وفرمايل: اوس به ستاسو په مجلس کي يو جنتي سړی را داخل سي، دلږ وخت تېرېدو وروسته يو انصاري صحابي مجلس ته راغلی ، په دوهمه ورځ هم دغسي پېښه وسوه او په دريمه ورځ هم وسوه. حضرت عبدالله بن عمر ﷺ يوه شپه دغه انصاري صحابي مېلمه کړ، دعبدالله بن عمر ﷺ داسي ګومان و ،چې دغه صحابي به ډېر عبادت کوي (چې رسول الله ﷺ په جنتي يادکړ.)خو هغسي نه وه بلکي هغه انصاري صحابي څو اذکار وويل بيا تر سهاره پوري بيده و ، عبدالله بن عمر ﷺ ورته وفرمايل:زه ستالوري ته ځکه راغلم ،چې تا وازمويم ،چې ته څومره عبادت کوې؟ ترڅو زه په تا پسي اقتدا وکړم هغه صحابي ورته وويل :زه خو خاص عبادت نه کوم مګر يو کار کوم هغه داچې دمسلمان سره په زړه کي حسد او ضد نه ساتم.(۱)

۱: اخرجه احمد من طريق عبدالرزاق ثنا معمر عن الزهري ،اخبر انس ﷺ وهو اسناد صحيح، مسند احمد ، ج : ۳ ص : ۱۶۶، مسندات انس ﷺ

سرچينه: تعليم الاسلام راډيو/www.taleemulislam-radio.com

(c) ketabton.com: The Digital Library

کوم ځایونه ،چې بیان سوه په ټولو ځایونو کې اقتدا په دیني کارونو کې داطاعت او پیروی په معنا راغلې ده په ځانګړې ډول په لومړنیو دوو حدیثونو کې په خصوصي ډول داقتداء لفظ دابوبکر رضی الله عنه داطاعت لپاره استعمال سوی دئ. همدا لامل دئ ،چې په پورتني حدیث کې ،چې دعمر او ابوبکر رضی الله عنهما داقتدا خبره سوې ده موخه ځینې داده ،چې تاسو ددوی دوو په دیني چارو کې پیروي او اطاعت وکړئ ، همدې کارته تقلید ویل کیږي.

دعبدالله بن عمرو رضی الله عنهما څخه په بخاري او مسلم کې روایت سوی دئ ،چې رسول الله صلی الله علیه وسلم فرمایلي دي:

۲: " إن الله لا يقبض العلم انتزاعا ينتزعه من العباد ولكن يقبض العلم بقبض العلماء حتى إذا لم يبق عالما اتخذ الناس رءوسا جهالا فسئلوا فأفتوا بغير علم فضلوا وأضلوا "([1])

ژباړه : باور وکړئ الله جل جلاله دخلکو څخه علم داسي نه پورته کوي ،چې دخلکو دزړونو څخه علم وباسي بلکې په داسي ډول يې پورته کوي ،چې علماء مړه سي ، هیڅ عالم به پاته نه سي خلک به خپل رئیسان جاهلان وټاکي نو خلک به پوښتني ځني کوي هغوی به بېله علمه فتواوي ورکوي ، خپله به هم ځانونه ګمراه کوي او نور به هم ګمراه کوي.

پورته حدیث ته که وکتل سي په ښکاره معلومیږي ،چې دفتوا کار علماوو ته سپارل سوی دئ یعني داچې عام خلک به پوښتني ځني کوي او علماء به جوابونه ورکوي.همدا دتقلید حقیقت دئ.

---

[1]: مشكوة المصابيح ج : ۱ ص : ۳۳ ، كتاب العلم ،لومړی فصل.

سرچینه: تعلیم الاسلام راډیو www.taleemulislam-radio.com/

(c) ketabton.com: The Digital Library

په پورتني حديث کي يوه بله مهمه خبره هم دپام وړ ده هغه داچي رسول الله ﷺ ديوې داسي زمانې دراتګ خبر ورکړی دئ ،چي په هغه زمانه کي به علماء له منځه ځي او جاهلان خلک به فتواوي ورکوي ، په داسي زمانه کي علماء له منځه تللي وي او جاهلان فتواوي ورکوي په داسي زمانه کي به نو خلکو ته پرته له دې ،چي دپخوانيو علماوو تقليد وکړي بله به کومه لاره ورته پاته وي؟ ځکه علماء به له منځه تللي وي پاته خلک به جاهلان وي او نه به بل داسي څوک وي،چي مستقيما دقرآن او حديث څخه استنباط وکړي په داسي حالت کي به پرته له دي ،چي دپخوانيو علماوو ،چي وفات سوي وي تقليد وکړل سي بله لاره به نه وي. ددې حديث څخه دا معلومه سوه ،چي که په دنيا کي مجتهدين علماء موجود وه نو ددوی څخه دي دمسائلو پوښتني وکړل سي او بيا دي يې تقليد وکړل سي او که په دنيا کي داسي عالم پاته نه سو نو بيا دي دهغو علماوو تقليد وکړل سي ،چي ددنيا څخه تللي او رحلت يې کړی وي او دجاهلانو دفتواوو تقليد دي نه کړي.

په بل حديث کي راغلي دي:

٣: وعن أبي هريرة رضي الله عنه قال : قال رسول الله صلى الله عليه وسلم : " من أفتي بغير علم كان إثمه على من أفتاه..... " . رواه أبو داود(١)

دابوهريرة رضي الله عنه څخه روايت دئ ،چي رسول الله ﷺ وفرمايل: کوم سړي که دعلم پرته فتوا ورکړل نو ګناه به يې هم دده په غاړه وي.

پورتني حديث هم دتقليد پر ثبوت باندي ښکاره دليل دئ ځکه په پورتني حديث کي ويل سوي دي ،چي چا غلطه فتوا ورکړل نو ټوله

١: مشكوة المصابيح ، ج : ١ ص : ٣٧ ، كتاب العلم ، فصل الثاني

سرچينه: تعليم الاسلام راډيو www.taleemulislam-radio.com/

(c) ketabton.com: The Digital Library

ګناه دده پر غاړه لويږي نو که تقليد جايز نه واى نو ټوله ګناه ولي پرده باندي لوېدل بلکي پر مستفتي باندي به هم ګناه واى ،چي ولي يې ددغه مسئلې دصحت تحقيق نه دئ کړى.

دپورته خبري په نظر کي نيولو سره داخبره ثابته سوه ،چي کوم کس ،چي علم نه لري پر هغه باندي فقط دومري خبره لازمه ده ،چي دخپلو معلوماتو له مخي ديوه داسي عالم څخه پوښتنه وکړي ،چي هغه په قرآن او حديث باندي پوهيږي نور نو که هغه عالم غلطه فتوا ورکړل ټوله ګناه يې دهغه عالم پر غاړه ده ، پوښتونکى دګناه څخه خلاص دئ ګناه يې يوازي پر عالم باندي ده.

په يوه بل روايت کي راځي:

٤: وعن إبراهيم بن عبد الرحمن العذري قال : قال رسول الله صلى الله عليه وسلم : " يحمل هذا العلم من كل خلف عدوله ينفون عنه تحريف الغالين وانتحال المبطلين وتأويل الجاهلين " . رواه البيهقي(۱)

ژباړه : دابراهيم بن عبدالرحمن العذري رحمه الله څخه روايت دئ ، دى وايي ،چي رسول الله صلى الله عليه وسلم وفرمايل: دا علم به دهر راتلونکي نسل هغه ثقه خلک زده کوي ،چي دغلوکونکو تحريف ، ددرواغجنانو درواغ او دجاهلانو تاويل به ليري کوي.

په پورتني حديث کي دجاهلانو او باطلو انسانانو بدي بيان سوې ده او دا ويل سوي دي ،چي دجاهلانو دتاويل او درواغو ردول دعلماوو فريضه ده ، همدا ډول په حديث کي په ښکاره ډول ويل سوي دي ،چي څوک په قرآن او حديث کي مجتهدانه بصيرت نه لري هغوى نسي کولاى ،چي پر خپل فهم او فکر باندي اعتماد وکړي بيا دقرآن او حديث

۱: مشكوة ، ج : ۱ ص : ۳۷، كتاب العلم ، الفصل الثاني.

سرچينه: تعليم الاسلام راډيو/www.taleemulislam-radio.com

(c) ketabton.com: The Digital Library

تاويلات وکړي،پکار داده ،چي دقرآن او حديث دښه پوهاوي لپاره دعلم څښتنانو ته رجوع وکړل سي. په پورتني حديث کي داخبره په ښکاره ډول بيان سوې ده ،چي دقرآن او حديث تاويلات يوازي دلوړو عالمانو کار دئ هغه خلک ،چي په علم کي پوره مهارت نه لري هغوی هيڅ حق نه لري ،چي دقرآن او حديث تاويلات وکړي او ددې کار په حديث کي په کلکه بدي او مذمت بيان سوی دئ ، دپورته خبرو څخه معلوميږي ،چي دقرآن او حديث دتاويل لپاره لږ علم بسنه نه کوي بلکي ددې کار لپاره مجتهدانه بصيرت او پوره مهارت ته اړتيا سته .

په بخاري شريف کي تعليقًا او په مسلم شريف کي سندا يو حديث راغلی دئ ،چي ابوسعيد خدري رضي الله عنه روايت کوي ،چي ځينې اصحابان مبارکان نبوي مسجد ته نا وخته راتلل نو رسول الله صلى الله عليه وسلم هغوی ته دوختي راتللو او په مخکني صف کي ددربدو امر وکړ او ټينګار يې پر وکړ او دايې هم ورته وفرمايل:

ايتموا بي ولياتم بكم من بعدكم.([1])

ژباړه : تاسو ماته وګورئ او په ماپسي اقتدا وکړئ، نور خلک دي تاسوته وګوري هغوی دي په تاسو پسي اقتدا وکړي.

درسول الله صلى الله عليه وسلم ددغه مبارکي وينا دوه مطلبه کېدای سي يو داچي مخکني خلک دي رسول الله صلى الله عليه وسلم ته وګوري او اقتدا دي پسي وکړي او دشا خلک دي دمخکي صف خلکو ته وګوري او اقتدا دي پسي وکړي.

دوهم مطلب دادئ ،چي اصحابان دي ژر ، ژر راسي څو درسول الله صلى الله عليه وسلم دلمانځه طريقه ښه زده کړي ځکه هغه نسلونه ،چي وروسته رائي

[1]: صحيح بخاري باب الرجل ياتم بالامام ويأتم الناس بالماموم ، ج : ۱ ص : ۶۹.

سرچينه: تعليم الاسلام راډيو/www.taleemulislam-radio.com

(c) ketabton.com: The Digital Library

هغوی به داصحابانو څخه درسول الله ﷺ دلمانځه طريقه زده کوي ، په دوی پسي به اقتدا کوي او ددوی تقليد به کوي.

دپورتني حديث په شرح کي حافظ ابن حجر رحمه الله ليکي :

وقيل معناه تعلموا مني احكام الشريعة ويتعلم منكم التابعون بعدكم وكذالك اتباعهم الي انقراض الدنيا.(۱)

ژباړه : ځينو ويلي دي ،چي دپورتني حديث معنا داده ،چي تاسو زما څخه دشريعت احکام زده کړئ، تابعين به ستاسو څخه شرعي احکام زده کړي، همدا ډول به ددوی متبعين شرعي احکام ددوی څخه زده کوي او دا لړی به ددنيا تر پای ته رسېدو پوري روانه وي.

په مسند احمد کي حضرت سهل بن معاذ دخپل پلار څخه روايت کوي :

ان امراة اتته فقالت يارسول الله انطلق زوجي غازيا وكنت اقتدي بصلاته اذا صلى وبفعله كله فاخبرني بعمل يبلغني عمله حتى يرجع.(۲)

ژباړه : يوه ښځه رسول الله ﷺ ته راغلل او ورته وې ويل : اې دالله جل جلاله رسوله ﷺ! زما خاوند غزا ته تللی دئ، زما خاوند داسي و ،چي کله به يې لمونځ کاوه ما به اقتدا پسي کول بلکي په ټولو لونځو کي ما په خپل خاوند پسي اقتدا کول او دهغه پيروي به مي کول، اوس ما ته يو داسي کار راوښيه ،چي زه دخپل خاوند سره په ثواب کي برابره سم څو دی ښرته راځي.

۱: فتح الباري ج : ۲ ص : ۱۷۱ ، ط: ميريه ، س : ۱۳۰۰

۲: مسند احمد ، ج: ۳ ، ص : ۴۳۹ مسند معاذ بن انس رضي الله عنه واورده الشيمي رحمه الله في مجمع الزوائد وقال رواه احمد وفيه ذبان بن فائد وثقه ابوحاتم وضعفه جماعة وبقية رجاله ثقات ، الفتح الرباني ج : ۱۴ ص: ۱۶ ، فضل المجاهدين.

سرچينه: تعليم الاسلام راډيو www.taleemulislam-radio.com/

(c) ketabton.com: The Digital Library

پورته حديث ته كه وكتل سي په ښكاره ډول ځني معلوميږي ،چي هغې ښځي رسول الله ﷺ ته وويل ،چي زه دخپل خاوند تقليد كوم ، په لمانځه او نور كارونو كي يې اطاعت كوم، رسول الله ﷺ ددې دتقليد خبره واوربده هيڅ ملامتي يې نه پر وويل ،چي ته ولي تقليد كوې؟ حضرت عبدالله بن عمرو رضي الله عنهما په ترمذي كي روايت كوي ،چي رسول الله ﷺ فرمايي: په كوم كس كي ،چي دوه خصلتونه پيدا سي الله جل جلاله به هغه كس صابر او شاكر وليكي ، هغه خصلتونه دادي:

من نظر في دينه الي من هو فوقه فاقتدى به ونظر في دنياه الي من هو دونه فحمد لله.(۱)

ژباړه : كه چا په دين كي هغه چاته وكتل ،چي تر ده لوړ و او بيا يې پيروي وكړه او په دنيا كي يې و هغه چاته وكتل ،چي تر ده كښته وي بيا يې دالله جل جلاله حمد ووايه.

داصحابانو ﷺ په وخت كي ددوی تقليد كول

داصحابانو ﷺ په زمانه كي هم زيات ځايونه په تقليد عمل سوی دئ يعني كومو اصحابانو ،چي به دعلم لپاره زيات وخت نه سواى مصرفولاى يا به يې په يوه خاصه مسئله كي په خپل فكر سره اجتهاد نه سواى كولاى نو دنورو داسي اصحابانو څخه به يې پوښتنه كول ،چي هغوی به په قرآن او حديث كي پوهه درلوده بيا به دوی عمل په كاوه او تقليد به يې كاوه . پاته دي نه وي ،چي ددا سي اصحابانو څخه مطلق او مشخص دواړه تقليد ونه ثابت دي ، دمطلق تقليد خو دومره پيښي سته

۱: جامع ترمذي بشرح ابن العربي رحمه الله ج : ۹ ص : ۱۳ ابواب القيامة.

سرچينه: تعليم الاسلام راډيو www.taleemulislam-radio.com/

(c) ketabton.com: The Digital Library

،چې درست کتاب ځني جوړيږي خو ديلګي لپاره به يې څو مثالونه دلته راوړو:

۱ : عن ابن عباس قال: خطب عمر بن الخطاب الناس بالجابية وقال: يا أيها الناس من أراد أن يسأل عن القرآن فليأت أبي بن كعب ومن أراد أن يسأل عن الفرائض فليأت زيد بن ثابت ومن أراد أن يسأل عن الفقه فليأت معاذ بن جبل ومن اراد أن يسأل عن المال فليأتني فإن الله جعلني له والياً وقاسماً. رواه الطبراني في الأوسط (۱)

ژباړه : ابن عباس رضي الله عنه فرمايي: عمر بن خطاب رضي الله عنه په جابيه ځای کي خطبه وويل ،په خطبه کي يې داسي وفرمايل: اې خلکو! که څوک غواړي ،چې قرآن زده کړي نو ابی بن کعب رضي الله عنه ته دي ورسي ، که څوک غواړي ،چې ميراث زده کړي زيد بن ثابت رضي الله عنه ته دي ورسي، که څوک په فقه کي زده کړه غواړي معاذ بن جبل رضي الله عنه ته دي ورسي او که څوک مال غواړي ماته دي راسي ځکه الله جل جلاله والي او وېشونکی ګرځولی يم.

په پورتنۍ خطبه کي حضرت عمر رضي الله عنه په ښکاره خلکو ته امر کړی دئ ،چې تاسو په فقه ، ميراث او تفسير په علومو کي دهمدغو علومو ماهرينو ته مراجعه وکړئ ، پوهه ځني تر لاسه کړئ او بيا عمل په وکړئ ، دا هم څرګنده ده ،چې خلک دوه ډوله دي ځينې هغه خلک دي ،چې پوهه په يوشي کي تر لاسه کولای سي خو ددليل دزده کولو جوګه نه وي ، ځينې بيا داسي کسان دي ،چې پوهه ددليل سره تر لاسه

۱: ذكر الهيثمي رحمه الله وفيه سليمان بن داود بن الحصين لم ار من ذكره. مجمع الزوائد ، ج : ۱ ص : ۱۳۵، باب اخذ كل علم من اهله. قلت ذكره ابن ابي حاتم في الجرح والتعديل، ج : ۲ ، قسم : ۱ ص : ۱۱۱، والخطيب في تاريخ بغداد ج : ۱ ص : ۶۲، فلم يصف احدهما بجرح وتعديل، وهو ابن لداود بن الحصين رحمه الله ، تقي.

سرچينه: تعليم الاسلام راډيو/www.taleemulislam-radio.com

(c) ketabton.com: The Digital Library

کولای سي، پورتنۍ خبره دواړو ډلو کسانو ته راجع ده يعني کوم کسان ،چي ددليل جوګه دي هغه دي دعلماووڅخه پوهه ددليل سره ترلاسه کړي او کوم کسان ،چي ددليل جوګه نه دي هغه دي پوهه ترلاسه کړي ددليل غوښتنه دي نه کوي ددليل پرته دي عمل په وکړي.

داصحابانو په زمانه کي کومو اصحبانو ،چي به خپل ځانونه ددې جوګه نه ګڼل ،چي دقرآن او حديث څخه دي استنباط وکړي هغو به دعلم دماهرينو اصحبانو څخه پوښتنه کول ، مسايل به يې ځني زده کول او بيا به يې عمل په کاوه ،چي مثالونه به يې وروسته راسي.

۲ : عَنْ سَالِمِ بْنِ عَبْدِ اللَّهِ عَنْ عَبْدِ اللَّهِ بْنِ عُمَرَ أَنَّهُ سُئِلَ عَنْ الرَّجُلِ يَكُونُ لَهُ الدَّيْنُ عَلَى الرَّجُلِ إِلَى أَجَلٍ فَيَضَعُ عَنْهُ صَاحِبُ الْحَقِّ وَيُعَجِّلُهُ الْآخَرُ فَكَرِهَ ذَلِكَ عَبْدُ اللَّهِ بْنُ عُمَرَ وَنَهَى عَنْهُ.([1])

ژباړه : سالم بن عبدالله رضي الله عنه فرمايي: دعبدالله بن عمر رضي الله عنه څخه پوښتنه وسوه ،چي ديوه کس پر بل سړي باندي تر ټاکلي وخت پوري مال باندي وي دمال مالک پوروړی ته ووايي ،چي زه به څه مال درته معاف کړم خو ته تر ميعاد مخکي ماته زما قرض راکړه ـ داسي کړنه جايز ده که يا؟ ابن عمر رضي الله عنه دا کړنه خوښه نه کړه او هغه کس يې ځني منعه کړ.

پورتنۍ مسئله ،چي ابن عمر رضي الله عنه جواب کړه په دغه مسئله کي کوم ځانګړی آيت يا حديث نه دئ راغلی ، کوم جواب ،چي ابن عمر رضي الله عنه ووايه دا دده خپل اجتهاد و ، ابن عمر رضي الله عنه ددليل پرته هغه ته جواب

[1]: موطا امام مالک، ص : ۲۷۹،ماجاء في الربا في الدين.

سرچينه: تعليم الاسلام راډيو/www.taleemulislam-radio.com

(c) ketabton.com: The Digital Library

ووايه هغه کس هم ددليل پرته ومانه دکوم دليل غوښتنه يې ونه کړه، همدغه کار ته تقليد ويل کيږي.

۳: عن عبدالرحمن قال سالت محمد بن سيرين عن دخول الحمام ، فقال : كان عمربن الخطاب رضي الله عنه يكرهه.(۱)

ژباړه : عبدالرحمان وايي ،چې ما دمحمد بن سيرين رحمه الله څخه پوښتنه وکړه ،چې دغسل لپاره حمام ته تلل جايز دي؟ ده په جواب کي راته وويل: حضرت عمر رضي الله عنه داکار نه خوښاوه.

تاسو وګورئ ! محمد بن سيرين رحمه الله څومره جليل القدر تابعي دئ بيا هم دحضرت عمر رضي الله عنه فقط په دومره وينا قناعت کوي ،چې هغه يې يوازي مکروه ګڼي او دهيڅ ډول دليل غوښتنه نه کوي سره ددې ،چې په دې اړه زيات مرفوع حديثونه هم سته ،چې يو يې خپله حضرت عمر رضي الله عنه روايت کړی دئ:

۴: عن سُلَيْمَانُ بْنُ يَسَارٍ أَنَّ أَبَا أَيُّوبَ الْأَنْصَارِيَّ خَرَجَ حَاجًّا حَتَّى إِذَا كَانَ بِالنَّازِيَةِ مِنْ طَرِيقِ مَكَّةَ أَضَلَّ رَوَاحِلَهُ وَإِنَّهُ قَدِمَ عَلَى عُمَرَ بْنِ الْخَطَّابِ يَوْمَ النَّحْرِ فَذَكَرَ ذَلِكَ لَهُ فَقَالَ عُمَرُ اصْنَعْ كَمَا يَصْنَعُ الْمُعْتَمِرُ ثُمَّ قَدْ حَلَلْتَ فَإِذَا أَدْرَكَكَ الْحَجُّ قَابِلًا فَاحْجُجْ وَأَهْدِ مَا اسْتَيْسَرَ مِنْ الْهَدْيِ.(۲)

ژباړه : سليمان بن يسار رحمه الله فرمايي: ابو ايوب انصاري رضي الله عنه دحج لپاره راوتلی وو ،چې نابېره پر نازيه نومي ځای باندي ،چې مکې ته پرلاري ديوځای نوم دئ ـ سورلی يې ورکه سوه ، دلوی اختر دمياشتي پر لسمه نېټه ورسېدئ پر دغه وخت دحج دارکانو وخت تېر سوی و ، ابوايوب انصاري رضي الله عنه دعمر رضي الله عنه لوري ته ورغلی خپل ټول حالات يې

۱: اخرجه مسدود (المطالب العالية للحافظ ابن الجر ، ج ۱ ص : ۵۱ ، ح : ۱۸۷)

۲: موطا امام مالک ص : ۱۴۹ ، هدي من فاته الحج.

سرچينه: تعليم الاسلام راډيو www.taleemulislam-radio.com/

(c) ketabton.com: The Digital Library

ورته بيان کړ، يعني پوښتنه يې ځني وکړه ،چې زما څخه دحج مناسک تېر سوه زه اوس څه وکړم؟ عمر رضي الله عنه په جواب کي ورته وويل: ته ورسه داسي کړني وکړه لکه يو عمره والا ،چې يې کوي يعني دعمرې ارکان ترسره کړه، بيا ځان حلال کړه کله ،چې راتلونکی کال راسي بيا دحج ارکان ترسره کړه کوم حيوان ،چې دي په توان وي هغه هديه کړه بيا ځان حلال کړه.

په پورتني حديث کي که تاسو وګورئ ابو ايوب انصاري رضي الله عنه دحضرت عمر رضي الله عنه څخه دمسئلې پوښتنه وکړه هغه جواب ورکړ، کله ،چې ابو ايوب انصاري رضي الله عنه جواب واوربدئ دهيڅ دليل غوښتنه يې ونه کړه بلکي دحضرت عمر رضي الله عنه پر پوهه او علم يې اعتماد وکړ او بيا يې عمل په وکړئ ، نه هم حضرت عمر رضي الله عنه ابو ايوب انصاري رضي الله عنه ته دليل وړاندي کړ، همدې کار ته تقليد ويل کېږي.

٥: وعن مصعب بن سعد قال كان أبي إذا صلى في المسجد تجوز وأتم الركوع والسجود وإذا صلى في البيت أطال الركوع والسجود والصلاة قلت يا أبتاه إذا صليت في المسجد جوزت وإذا صليت في البيت أطلت قال يا بني إنا أئمة يقتدى بنا.(۱)

مصعب بن سعد رضي الله عنه فرمايي: زما پلار سعد ،چې به کله په مسجد کي لمونځ کاوه نو په مختصر ډول به يې لمونځ کاوه خو کله ،چې به يې په کور کي لمونځ کاوه نو ډېر اوږد به يې کاوه ، ماپوښتنه ځني وکړه ،چې اې پلاره ! ته په کور کي اوږد او په مسجد کي مختصر لمونځ کوې په دې کي څه حکمت دئ؟ پلار په جواب کي راته وويل: اې زويه! موږ دقوم امامان يو خلک په موږ پسي اقتداء کوي که موږ په مسجد کي

۱: رواه الطبراني في الكبير ورجاله رجال الصحيح. مجمع الزوائد للهيثمي ج : ۱ ص : ۱۸۲ ، باب الاقتداء بالسلف.

سرچينه: تعليم الاسلام راډيو/www.taleemulislam-radio.com

(c) ketabton.com: The Digital Library

اوږد لمونځ وکړو خلک به يې هم کوي او داکار به پر ځان لازم وګڼي حال داچي دومره اوږد لمونځ لازم نه بلکي تقوا ده.

دپورتني روايت څخه معلوميږي چي دمخورو اصحابانو داقوالو ترڅنګ ددوی مبارکانو دافعالو تقليد هم کېږي يعني داچي تش ددوی افعال وليدل سي په کټ مټ ډول يې تقليد وسي ، په داسي حالت کي ،چي يوازي ددوی په ليدلو په اعمالو کي تقليد کېږي ، ددليل غوښتولو خو هيڅ فکر هم نه پيداکېږي همدا وجه ده چي دوی مبارکان به دومره باريکيو ته متوجه کېدل.

په موطا امام مالک رحمه الله کي روايت دئ:

أَنَّ عُمَرَ بْنَ الْخَطَّابِ رَأَى عَلَى طَلْحَةَ بْنِ عُبَيْدِ اللَّهِ ثَوْبًا مَصْبُوغًا وَهُوَ مُحْرِمٌ فَقَالَ عُمَرُ مَا هَذَا الثَّوْبُ الْمَصْبُوغُ يَا طَلْحَةُ فَقَالَ طَلْحَةُ يَا أَمِيرَ الْمُؤْمِنِينَ إِنَّمَا هُوَ مَدَرٌ فَقَالَ عُمَرُ إِنَّكُمْ أَيُّهَا الرَّهْطُ أَئِمَّةٌ يَقْتَدِي بِكُمْ النَّاسُ فَلَوْ أَنَّ رَجُلًا جَاهِلًا رَأَى هَذَا الثَّوْبَ لَقَالَ إِنَّ طَلْحَةَ بْنَ عُبَيْدِ اللَّهِ كَانَ يَلْبَسُ الثِّيَابَ الْمُصَبَّغَةَ فِي الْإِحْرَامِ فَلَا تَلْبَسُوا أَيُّهَا الرَّهْطُ شَيْئًا مِنْ هَذِهِ الثِّيَابِ الْمُصَبَّغَةِ.(۱)

ژباړه : عمر رضي الله عنه طلحة بن عبيدالله رضي الله عنه داحرام په حالت کي وليدئ ،چي رنګ سوي جامې يې اغوستي وې ، عمر رضي الله عنه پوښتنه وکړه ،چي اې طلحة! دادي څنګه رنګ سوي جامې اغوستي دي؟ طلحة رضي الله عنه په جواب کي وويل : اې اميرالمؤمنين! داجامې په داسي رنګ ، رنګ کړل سوي دي ،چي خوشبويه نه دي ، (داسي رنګ سوي جامې ،چي خوشبويي ونه لري په احرام کي اغوستل جايز دي،) عمر رضي الله عنه ورته وفرمايل: اې طلحة! تاسو امامان ياست خلک ستاسو کړنو ته ګوري بيا ستاسو پيروي کوي، که يو ناپوه او ناخبره کس ستاسو رنګ سوي

۱: مسند احمد ، ج ۱ ص : ۱۹۲ ، ح : ۶۲۶ ، احاديث عبدالرحمن بن عوف رضي الله عنه

سرچينه: تعليم الاسلام راډيو www.taleemulislam-radio.com/

(c) ketabton.com: The Digital Library

جامې وويني نو هغه به ووايي ،چې طلحة بن عبيدالله رضي الله عنه رنګ سوي جامې اغوستي وې نو هغه به هم داکار وکړي خو دافکر به نه کوي ،چې طلحة بن عبيدالله رضي الله عنه داسي رنګ سوي جامې اغوستي وې ،چې خوشبويي يې نه درلوده ، دوی به دافرق نه کوي هرډول رنګ سوي جامې به اغوندي.

يوه ورځ حضرت عمر رضي الله عنه عبدالرحمن بن عوف رضي الله عنه په داسي حالت کي وليدئ ،چې يو ډول موزې يې په پښو وې نو حضرت عمر رضي الله عنه ورته وويل:

...فَقَالَ عُمَرُ عَزَمْتُ عَلَيْكَ لَانَزَعْتَهُمَا فَإِنِّي أَخَافُ أَنْ يَنْظُرَ النَّاسُ إِلَيْكَ فَيَقْتَدُونَ بِكَ(۱)

ژباړه : زما قصد سي ،چې دغه موزې در څخه وکاږم ،ځکه زه وېرېږم ،چې خلک به تا وويني او ستا پيروي به وکړي.

پورتنيو درو پيښو ته که وکتل سي په څرګند ډول معلوميږي ،چې هغه اصحابان ،چې په علم کي يې مهارت درلودئ سره ددې ،چې دهغو داقوالوتقليدکېدئ ددوی دافعالو تقليدهم کېدئ داچي يوازي دهغه دعمل په ليدلو سره يې تقليد کېږي په داسي صورت کي بېخي ددليل غوښتلو فکر لاهم نه پيداکېږي همدا وجه وه چې دوی مبارکانو به په خپلو اعمالو ترسره کولو کي ډېر احتياط څخه کار اخيستی او نورو ته به يې هم دا توصيه کول ،چې په اعمالو کي داحتياط څخه کار واخلي.

۷: وعن حارثة بن مضرب قال كتب عمر إلى أهل الكوفة قد بعثت عمارا أميرا وعبد الله بن مسعود معلما وزيرا وهما من النجباء من أصحاب محمد صلى الله عليه وسلم من أهل بدر فاقتدوا بهما واسمعوا من قولهما ... (۱)

۱: الاستيعاب لابن عبدالبر تحت الاصابة ج : ۲ ص : ۳۱۵، ولاصابه للحافظ ابن حجر رحمه الله ج : ۲ ص ۳۶۱، ولاعلام الموقعين لابن القيم ، ج ۲ ص : ۱۷۱.

سرچينه: تعليم الاسلام راډيو/www.taleemulislam-radio.com

(c) ketabton.com: The Digital Library

ژباړه : دحارثة بن مضرب څخه روايت دئ ،چې حضرت عمر رضي الله عنه عبدالله بن مسعود رضي الله عنه دکوفې خلکو ته ولېږئ او بيا يې دکوفې خلکو ته يو ليک وليکئ په ليک يې دوی ته وليکل: ما تاسو ته عمار بن ياسر رضي الله عنه دامیرپه توګه در ولېږئ او عبدالله بن مسعود رضي الله عنه مي دمعلم او وزيرپه توګه در ولېږئ دوی دواړه درسول الله صلى الله عليه وسلم دسپېځلو اصحابانو څخه دي ، بدريان صحابه دي تاسو يې تقليد وکړئ او ددوی ويناوو ته غوږ کښېږدئ.

۸:... فَمَنْ عَرَضَ لَهُ مِنْكُمْ قَضَاءٌ بَعْدَ الْيَوْمِ فَلْيَقْضِ بِمَا فِي كِتَابِ اللَّهِ فَإِنْ جَاءَ أَمْرٌ لَيْسَ فِي كِتَابِ اللَّهِ فَلْيَقْضِ بِمَا قَضَى بِهِ نَبِيُّهُ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَإِنْ جَاءَ أَمْرٌ لَيْسَ فِي كِتَابِ اللَّهِ وَلَا قَضَى بِهِ نَبِيُّهُ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَلْيَقْضِ بِمَا قَضَى بِهِ الصَّالِحُونَ فَإِنْ جَاءَ أَمْرٌ لَيْسَ فِي كِتَابِ اللَّهِ وَلَا قَضَى بِهِ نَبِيُّهُ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وَلَا قَضَى بِهِ الصَّالِحُونَ فَلْيَجْتَهِدْ رَأْيَهُ...(۲)

ژباړه : حضرت عبدالله بن مسعود رضي الله عنه دقضاء اصول بيانول په اصولو بيانولو کي يې داسي وفرمايل: کوم چاته که دقضا معامله ور دغاړه سوه نو فيصلې دي دالله جل جلاله په کتاب (قران) سره کوي ، که يې دکومي مسئلې حل په قرآن کي پيدا نه کړ ، نو درسول الله صلى الله عليه وسلم داحاديثو په رڼا کي دي فيصله کوي ، که يې په قرآن او نبوي احاديثو کي حل پيدا نه کړ ، نو دصالحينو او سلفو علماوو دويناوو مطابق دي مسئله حل کړي

۱: رواه الطبراني ورجاله رجال الصحيح غير حارثة وهو ثقة.مجمع الزوائد ، ج : ۹ ص: ۲۹۱، ط : المكتبة الشاملة.

۲: سنن النسائي ، ج :۲ ، ص : ۳۰۵ ، كتاب ادب الاقضية ، الحكم بالاتفاق اهل العلم وسنن الدارمي ، ج : ۱ ص : ۵۴ ، مقدمة ، باب الفتيا وما فيه من الشده.

سرچينه: تعليم الاسلام راډيو www.taleemulislam-radio.com/

(c) ketabton.com: The Digital Library

که يې په درو واړو کي حل پيدا نه کړ، نو په خپل اجتهاداو رايه دي مسئله حل کړي.

په پورتني روايت کي عبدالله بن مسعود ﷺ څلور مرتبې بيان کړي دي لومړی داچي مسئله به دقرآن په رڼا کي حليږي ، دوهمه مرتبه داحاديثو ده ، دريمه مرتبه دسلفو صالحينو دويناوو ده ، څلورمه مرتبه داجتهاد او قياس ده.

په پورتنی روايت کي يوه خبره زياته دپام وړ ده هغه داچي لومړی مرتبه دقرآن ده دوهمه مرتبه دحديث ده نو په کومه مسئله کي ،چي قرآن ته رجوع وسي هيڅ يو عقل لرونکی کس ددې مطلب دا نه اخلي ،چي په داسي صورت کي دي نو حديث ښځي له پامه وغورځول سي او دقرآن تفسير ، ترجمه او مطلب اخستل دي په خپل فکر او رايه سره وسي بلکي دټولو علماوو پردې خبره اتفاق دئ ،چي دقرآن په تفسير کي بايد لومړی حديث ته رجوع وسي او دقرآن تشريح به داحاديثو په رڼا کي کېږي که يې تشريح په احاديثو کي موجوده وه. که داسي ونه کړو يعني دقرآن تشريح داحاديثوپه رڼاکي ونه کړو نوحتما به داسي وايو ،چي زناکونکی ،چي کله زنا وکړي په قرآن کي ورته سل درې سزا ټاکل سوې ده اوس نو که احاديثو ته رجوع ونه کړل سي نو بايد وويل سي ،چي رجم په قرآن کي نه سته په دې عمل نه کړل کېږي (العياذ بالله) ځکه دزنا حکم واضح دئ کوم تفصيل ته اړتيانه لري حال داچي دا ټول امت پردې خبره اتفاق دئ ،چي رجم په احاديثوثابت دئ بايد عمل په وسي . همدا ډول دصالحينوويناوو ته دريم مقام ورکړل سوی دئ په دې لحاظ که څوک په قرآن او احاديثو عمل کوي ددې معنا دا نه ده ،چي دصالحينو ويناوو ته دي هيڅ پاملرنه کېږي بلکي دقرآن او احاديثو تشريح اوتفصيل به دصالحينو او اسلافو دويناوو مطابق کېږي،

سرچينه: تعليم الاسلام راډيو www.taleemulislam-radio.com/

(c) ketabton.com: The Digital Library

ددوی دفيصلو په رښا کي به په قرآن او حديث عمل کېږي ، دتقليد مفهوم اومطلب دادئ ،چي که کومه مسئله دقرآن او حديث څخه په څرګنده توګه نه معلومېدل نو بيا دي دېلاييلو ممکنو معانيو څخه ديوې معنا په ټاکلوکي ديوه مجتهد قول ته وکتل سي او هغه معنا دي وټاکل سي لکه مخکي ،چي يې بيان وسو ،چي عبدالله بن مسعود رضي الله عنه يو څوک قاضي ټاکلی و او بيا يې ورته توصيه کول.

دپورته خبرو څخه دا معلوميږي ،چي تقليد کول يوازي دجاهل کار نه بلکي علماوو ته هم پکاردئ ،چي په احکامو کي پر خپلو رايو باندي اعتماد ونه کړي بلکي داسي څوک ،چي په علم کي تر ده لوړ وي هغه ته دي ورګوري او دويناوو تقليد دي يې وکړي دا بيا بېله خبره ده ،چي دجاهل او عالم دتقليد ترمنځ توپير سته ،چي وروسته به يې بيان راسي.

دپورتنی تشريح څخه دعلامه ابن القيم دويناوو ټول اعتراضات جواب سوه ،چي دپورتنی روايت پر استدلال باندي يې کړي وه.(۱)

۹ : كان ابن عمر رضي الله عنه لايقرء خلف الامام ، قال فسالت القاسم بن محمد عن ذالک فقال ان تركت فقد تركه ناس ، يقتدي بهم وان قرئت فقد قرءه الناس يقتدي بهم ، وكان القاسم ممن لايقرء.(۲)

ژباړه : حضرت سالم بن عبدالله رحمه الله فرمايي: ابن عمر رضي الله عنه په امام پسي قرئت نه وايه نو ما دحضرت قاسم بن محمد رحمه الله څخه پوښتنه

۱: اعلام الموقعين ، ج ۲ ص : ۱۷۸.

۲: موطا امام محمد رحمه الله ، ص : ۹۶ ، اصح المطابع ، باب القرءة خلف الامام وفيه اسامة بن زيد المدني وثقه يحيي بن معين وابن عدی رحمه الله وضعفه بعضهم موقال ، الحافظ في التقريب صدوق بهم.

سرچينه: تعليم الاسلام راډيو www.taleemulislam-radio.com/

(c) ketabton.com: The Digital Library

وکړه ،چي ابن عمر رضي الله عنه ولي په امام پسي قرئت نه وايي ، حضرت قاسم رحمه الله په جواب کي راته وويل: که غواړي ،چي په امام پسي قرئت ووايي کولای سي ځکه ډېرو داسي کسانو په امام پسي قرئت ويلی دئ ،چي ددې جوګه دي ،چي اقتدا پسي وسي او که ته غواړې ،چي قرئت په امام پسي نه ووايي نو هم کولای سي ځکه ډېر داسي کسان سته ،چي په امام پسي يې قرئت نه دئ ويلی او هغه داسي کسان دي ،چي ددې وړ دي ،چي اقتدا پسي وسي.

حضرت قاسم رحمه الله ،چي دسترو تابعينو څخه دئ او دمدينې داوو سترو فقهاوو له ډلي څخه دئ هغه په څرګند ډول دا جمله ويلې ده ،چي کله ددلايلو تعارض راسي نو بيا دي دهر امام په ښه نيت تقليد وکړل سي.

عن الحسن انه سئله رجل اتشرب من ماء هذه السقاية التي في المسجد فانها صدقة ، قال الحسن : قدشرب ابوبكر وعمر رضي الله عنهما من سقاية ام سعد فمه.([1])

ژباړه : په کنز العمال کي دطبقات ابن سعد په حواله يو روايت دئ ،چي دحضرت حسن رضي الله عنه څخه يو چا پوښتنه وکړه ،چي ته دمسجد ددغه اوبو څخه اوبه څيښې حال داچي داصدقه دي؟ حضرت حسن رضي الله عنه په جواب کي ورته وويل: حضرت ابوبکر رضي الله عنه او حضرت عمر رضي الله عنه دام سعد دصدقه سوي ويالې څخه اوبه څيښلي دي نو ما هم دغسي وکړه لکه دوی دوو مبارکانو ،چي کړی وه.

که دغه روايت ته وکتل سي نو ګويا حضرت حسن رضي الله عنه يوازي دشيخينو دعمل تقليد وکړ، دکوم دليل غوښتنه يې ونه کړه.

[1]: كنزالعمال ، ج ۳ ص : ۳۱۸، كتاب الزكات فصل في المصرف.

سرچينه: تعليم الاسلام راډيو/www.taleemulislam-radio.com

(c) ketabton.com: The Digital Library

پورته ،چې بيان سوه دا دمبارکو اصحابانو دتقليد څو مثالونه وه ،چې په لنډ ډول بيان سوه که نه نو په دغه ډول په کتابونو کي خورا زياتي پيښي راغلي دي.

علامه ابن القيم فرمايي:

والذين حفظت عنهم الفتوى من اصحاب رسول اللهﷺ مائة ونيف وثلاثون نفسا مابين رجل وامراة.([1])

ژباړه : کومي فتواوي ،چې درسول اللهﷺ داصحابانو څخه ساتل سوي دي څه باندي يو سل او دېرش فتواوي دي ،چې نارينه او ښځينه دواړه پکښي داخل دي.

پورته فتواوي ،چې اصحابانو کړي دي په دغه فتواوو کي دواړي طريقې په کار لوېدلي دي يعني داچې ځيني فتواوي داسي دي ،چې دقرآن او حديث څخه دليل ورته ويل سوی دئ او دځينو لپاره بيا دليل نسته بيله دليله فتواوي صادري سوي دي ،چې مثالونه يې مخکي بيان سوه.

دنورو مثالو لپاره دي لاندي کتابونه مطالعه کړل سي:

كتاب الاثار للامام ابي حنيفة ، مصنف عبدالرزاق ، مصنف ابن ابي شيبةرحمه الله ، شرح معاني الاثار ، للطحاوي ، المطالب العالية للحافظ ابن حجر.

دپورته کتابونو په څېر نور کتابونه هم سته ،چې دتقليد مثالونه پکښي وي.

❁❁❁

[1]: اعلام الموقعين لابن القيم، ج ۱ ص : ۹.

سرچينه: تعليم الاسلام راډيو/www.taleemulislam-radio.com

(c) ketabton.com: The Digital Library

داصحابانو په زمانه کي شخصي تقليد

پورته ،چي کوم مثالونه بيان سوه دمطلق تقليد مثالونه وه يعني داچي داصحابانو دتقليد مثالونه وه ،چي کله به يې ديوه عالم تقليد کړی و او کله به يې دبل عالم تقليد کړی و، ديوه خاص فرد تقليد يې نه و کړی داصحابانو دتقليد داسي ډېر مثالونه هم سته ،چي شخصي تقليد يې کړی وي يعني ديوه خاص فرد تقليد يې کړی وي لکه ،چي ځيني مثالونه يې په لاندي ډول دي:

لومړی نظير:

أَنَّ أَهْلَ الْمَدِينَةِ سَأَلُوا ابْنَ عَبَّاسٍ رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُمَا عَنْ امْرَأَةٍ طَافَتْ ثُمَّ حَاضَتْ قَالَ لَهُمْ تَنْفِرُ قَالُوا لَا نَأْخُذُ بِقَوْلِكَ وَنَدَعُ قَوْلَ زَيْدٍ.(۱)

ژباړه: دمدينې څه خلکو دابن عباس رضي الله عنه څخه دهغه ښځي په اړه پوښتنه وکړه ،چي تر طواف زيارت وروسته حايضه سي ،چي دغه ښځه به دطواف وداع لپاره پاتيږي او که دطواف وداع پرته تلای سي يعني داچي طواف وداع دې ته معاف دئ که يا؟ ابن عباس رضي الله عنه ورته وويل : هو ، تلای سي، هغو خلکوورته وويل : موږ ستا په خبره دزيد رضي الله عنه قول نه سو پرېښودای.

پورتنی روايت دعبدالوهاب ثقفي له طريقه هم روايت سوی دئ په دغه روايت کي دمدينې دخلکو وينا داسي رانقل سوې ده:

لانبالي افتينا او لم تفتنا ،زيد بن ثابت يقول لاتنفر.(۱)

۱: رَوَاهُ خَالِدٌ وَقَتَادَةُ عَنْ عِكْرِمَةَ ، بخاري ، كتاب الحج ، باب اذا حاضت المراة بعد ما افاضت . ح : ۱۶۳۹

سرچينه: تعليم الاسلام راډيو/www.taleemulislam-radio.com

(c) ketabton.com: The Digital Library

ژباړه : که ته موږ ته فتوا راکړې او که يې را نه کړې موږ ستا په فتوا عمل نه کوو ځکه دزيد ﷺ فتوا داسي ده ،چې دغه ښځه دطواف پرته نه سي تلای.

پورتنی روايت دمسند ابوداود طيالیسي له طريقه هم روايت سوی دئ په دغه روايت کي دمدينې دخلکو وينا داسي رانقل سوې ده:

لانتابعک يا ابن عباس رضي الله عنهما! وانت تخالف زيدا فقال سلوا صاحبتکم ام سليم رضي الله عنها.(۲)

ژباړه : اې ابن عباسه! په دغه مسئله کي موږستا پيروي نه کوو ځکه ته دزيد څخه په دې مسئله کي مخالفت کوې، ابن عباس رضي الله عنهما ورته وفرمايل: تاسو مدينې ته تر رسېدو وروسته دام سليم څخه پوښتنه وکړئ ، زما خبره صحيح ده.

په پورتنی پېښه کي دابن عباس رضي الله عنهما او دمدينې دخلکو دخبرو څخه دوې خبرې په څرګند ډول معلوميږي لومړی داچې دمدينې خلکو دزيد بن ثابت رضي الله عنه شخصي تقليد کاوه ، ددې دوينا پرته يې دبل چا وينا نه منل بلکي داسماعيلي معجم څخه داهم معلوميږي ،چې ابن عباس رضي الله عنهما دخپلې فتوا دثبوت لپاره دام سليم او نور اصحابانو ﷺ احاديث هم بيان کړي دي ځکه کله ،چې ابن عباس رضي الله عنهما مدينې منورې ته راغلی خلک ملاقات ورته راغلل او ورته وې ويل:

وجدنا الحديث ماحدثتنا.(۳)

ژباړه : موږ هغه حديث پيدا کړ، ،چې تا موږ ته بيان کړی و.

---

[۱]: فتح الباري ، ج : ۳ ، ص: ۴۶۸، ط :ميريه ، کال : ۱۳۰۰ ، عمدة القاري ، ج : ۴ ، ص : ۷۷۷.

[۲]: مسند ابوداود الطيالیسي ، ص : ۲۲۹ ، مرويات ام سليم رضي الله عنها

[۳]: عمدة القاري ، ج : ۴ ، ص : ۷۷۷.

سرچينه: تعليم الاسلام راډيو/www.taleemulislam-radio.com

(c) ketabton.com: The Digital Library

داچي دمدينې دخلکو دزيد ﷺ پر علم او فتوا باندې اعتماد و ، نو کله ،چې يې دابن عباس ﷺ فتوا دزيد ﷺ دفتوا څخه مخالفه وليدل نو ځکه يې دابن عباس ﷺ فتوا ونه منل، دوی يوازې دزيد ﷺ وينا دځان لپاره دليل وګرځاوه دابن عباس ﷺ دفتوا دنه منلو لپاره يې بل کوم دليل نه درلودئ.

دوهمه خبره دپورتنۍ پيښې څخه دامعلوميږي ،چې ابن عباس ﷺ خلک وليدل ،چې شخصي تقليد يې کاوه ده ځني منعه نه کړل ،چې دغسې تقليد شرک ، يا معصيت دئ دا مه کوئ بلکې دوی ته يې امر وکړ، ،چې تاسو دتحقيق لپاره ام سليم ته ورسئ او بيا ببرته زيد ﷺ ته رجوع وکړئ، کله ،چې دغه خلک مدينې ته ورسېده نو دابن عباس ﷺ دلارښوونې سره سم دتحقيق او څېړنې لپاره ام سليم ته ورغلل ، کله ،چې يې تحقيق وکړ، خبره هم هغسې وه لکه ،چې ابن عباس ﷺ وايه ، نو ببرته دزيد ﷺ ولوري ته راغلل ، زيد ﷺ هم څېړنه وکړه او په پايله کې دخپلې فتوا څخه واوښتې، وروسته بيا خلکو دغه حال ابن عباس ﷺ ته بيان کړ.

دپورتنيو روايتونو څرنګوالی مسلم ، نسائي ، بيهقي او داسې نورو کتابونو کړی دئ.(١)

ځينو خلکو ددغه دليل څخه داسې جواب ويلی دئ ،چې که دمدينې خلک مقلدين وای نو بيا ولې ام سليم ته ورتلل.(٢)

١: فتح الباري ج : ٣ ص : ٤٦٧ تر ٤٦٩

٢: تحريک ازادي فکر. ص ١٣٦ ، دمولانا محمد اسماعيل سلفي رحمه الله

سرچينه: تعليم الاسلام راډيو/www.taleemulislam-radio.com

(c) ketabton.com: The Digital Library

دپورتنۍ نيوکي بنياد پر غلط فهمۍ باندي ولاړ دئ ځکه دغير مقلدينو له آنده دتقليد څخه وروسته داحاديثو تقليد ګواګي حرام دئ حال داچي داسي نه ده ځکه تقليد فقط دې ته وايي ،چي يو څوک مستقيمًا دقران او احاديثو څخه دمسئلو استنباط نه سي کولای ، نه ظاهري تعارض رفع کولای سي او نه دناسخ او منسوخ توپير کولای سي ،همداسي ديوه مجتهد څخه دمسئلې سوال کوي او هغه جواب ورکوي ،دی يې ددليل پرته مني ، بيا عمل په کوي همدا دتقليد مفهوم دئ ، ددې معنا دانه ده ،چي دی نو ددې اجازه نه لري ،چي احاديث زده کړي او يا دي تر تقليد وروسته په احاديثو کي څېړنه وکړي بلکي تر تقليد وروسته هر وخت دمقلد پرمخ داحاديثو دزده کړي او تحقيق دروازه خلاصه ده همدا وجه ده ،چي په سلهاوو مقلدينو دخپل امام شخصي تقليد کړی دئ او ورسره يې دقرآنکريم تفاسير او داحاديثو شروح ليکلي دي، په کوم مسئله کي ،چي په څرګند ډول ورته معلومه سي ،چي نومورې مسئله دقرآن يا حديث څخه ښکاره مخالفه ده نو دخپل امام دتقليد پرځای په هغه حديث عمل کوي ،چي پوره تحقيق به يې وروسته راسي. همدا وجه ده ،چي کوم مقلد ته دخپل امام وينا دحديث خلاف معلومه سي دتحقيق حق لري دغه تحقيق دتقليد خلاف کار نه دئ ، په پورتنۍ پېښه کي دتقليد او تحقيق دواړو لپاره لاري سته ځکه پر دغه مهال زيد ﷺ ژوندی دئ هغه دتحقيق په پايلو خبر کړل سو ، زيد ﷺ ،چي کله خبر سو نو دخپل پخواني قول څخه يې رجوع وکړه بالاخره ددغه تحقيق په برکت دزيد ﷺ مقلدين دحديث دمخالف څخه خلاص سوه او دخپل امام دمخالفت څخه هم خلاص سوه، البته په پورتنۍ پېښه کي دمدينې دخلکو داخبره زياته دپام وړه ده ،چي ابن

سرچينه: تعليم الاسلام راډيو www.taleemulislam-radio.com/

(c) ketabton.com: The Digital Library

عباس رضي الله عنه ته يې وويل : مورِ دزيد رضي الله عنه خبره نه پرېږدو ، مورِ ستا په خبره عمل نه کوو . ددوی دغه وينا شخصي تقليد بلل کېږي.

دوهم نظير :

په بخاري شريف اونوروکتابونو کي يوه پېښه دهزيل بن شر حبيل څخه رانقل سوې ده ،چې ځينو خلکو دابو موسي اشعري رضي الله عنه څخه ديوې مسئلې پوښتنه وکړه ده مبارک جواب ورکړ، دليل يې ورته ووايه او دايې هم ورته وويل ،چې تاسو ددې مسئلې په اړه دعبدالله بن مسعود رضي الله عنه څخه هم پوښتنه وکړئ ، خلکو دعبدالله بن مسعود رضي الله عنه څخه پوښتنه وکړه دعبدالله بن مسعود رضي الله عنه فتوا دابوموسی اشعري رضي الله عنه دفتوا څخه خلاف وه ، خلک بيا راغلل ابو موسي اشعري رضي الله عنه ته يې خبر ورکړ، ،چې دعبدالله بن مسعود رضي الله عنه فتوا ستا دفتوا څخه خلاف ده ، ده مبارک په جواب کي ورته ووېل:

لاتسالوني مادام هذا الحبر فيكم.

ژباړه : تاسو زما څخه پوښتنه مه کوئ څو ،چې دغه ستر عالم يعني عبدالله بن مسعود رضي الله عنه په تاسو کي موجود وي.

مسند احمد بيا دغه الفاظ په لاندې ډول رانقل کړي دي:

لاتسالوني عن شيئ مادام هذا الحبر بين اظهركم.

ژباړه : تاسو زما څخه دهيڅ شي پوښتنه مه کوئ څو ،چې دغه ستر عالم يعني عبدالله بن مسعود رضي الله عنه په تاسو کي موجود وي.(١)

تاسو وګورئ ابو موسی اشعري رضي الله عنه خلکو ته مشوره ورکوي ،چې عبدالله بن مسعود رضي الله عنه ژوندی دئ تاسو هم دده مبارک څخه په ټولو

١: صحيح بخاري ، كتاب الفرائض ، باب ميراث ابنت ابن مع ابنت ، ج : ٢ ص : ٩٩٧، ح : ٦٢٣٩، مسند احمد ، ج : ١ ، ص : ٤٦٤، احاديث عبدالله بن مسعود رضي الله عنه

سرچينه: تعليم الاسلام راډيو www.taleemulislam-radio.com/

(c) ketabton.com: The Digital Library

مسئلو كي پوښتنه كوئ او هم دده تقليد كوئ ، دغه كار ته شخصي تقليد ويل كېږي.

ځيني خلک پر پورتنۍ خبره باندي داسي نيوکه كوي ،چي ابوموسى اشعري رضي الله عنه دعبدالله بن مسعود رضي الله عنه په شتون كي دخپل تقليد څخه خلک منعه كړل، دا په دې معنا دئ ،چي تقليد ښه كار نه دئ.

ابوموسى اشعري رضي الله عنه ،چي كله دخپل تقليد څخه خلک منعه كړل دا په دې معنا نه دئ ،چي دنورو اصحابانو تقليد دي نه كېږي ،هغو ته دي رجوع نه كېږي بلكي په هغه وخت كي لوى ، لوى اصحابان موجود وه ددوى مبارکانو دتقليد څخه هيڅا منعه نه سواى كولاى.

نيوكه كونكى زياتوي: دپورتنى خبري حاصل داكېږي ،چي دافضل په شتون كي دي مفضول ته رجوع نه كړل كېږي؟([1])

جواب دادئ: ،چي دغه پېښه په كوفه كي منځته راغلې ده په دغه زمانه كي تر عبدالله بن مسعود رضي الله عنه لوى عالم په كوفه كي نه و، دغه پېښه دحضرت عثمان رضي الله عنه په خلافت كي منځته راغلې ده.([2])

په دغه زمانه كي حضرت علي رضي الله عنه كوفې ته تشريف نه و راوړى له همدې امله ابن مسعود رضي الله عنه په دغه وخت كي تر ټولو لوى عالم و، ددې سره كه دابوموسي اشعري رضي الله عنه دوينا علت همدا سي ،چي دافضل په شتون كي دي مفضول ته رجوع نه كېږي نو بيا هم دده مبارک دخبرووخلاصه داده ،چي ابن مسعود رضي الله عنه ښه عالم دئ څو ،چي دى

[1]: تحريک ازادي فكر ، ص : ١٣٨

[2]: عمدة القاري ، ج : ١ ، ص : ٩٨ ، فتح الباري ، ج : ١٢ ، ص : ١٤.

سرچينه: تعليم الاسلام راډيو/www.taleemulislam-radio.com

(c) ketabton.com: The Digital Library

ژوندی وي ، دده په شتون کي دده څخه دمسئلو پوښتني کېږي او زما څخه هيڅ پوښتني مه کوئ ځکه په کوفه کي ترټولو ښه عالم دی دئ.

په معجم طبراني کي هم يو روايت راغلی دئ ،چي دابوموسي اشعري رضي الله عنه څخه درضاعت ديوې مسئلې پوښتنه وسوه ده په جواب کي همغه خبره وکړه ،چي پورته ذکر سوه يعني داسي يې وويل:

لاتسالوني عن شيئ ماأقام هذا بين اظهرنا من اصحاب رسول الله صلى الله عليه وسلم .

ژباړه : تاسو زما څخه دهيڅ شي پوښتنه مه کوئ ځو ،چي درسول الله صلى الله عليه وسلم داصحابانو ❤ څخه يو څوک په موږکي موجود وي.(١)

ابو موسي اشعري رضي الله عنه ،چي په کوم محيط اوچاپيريال کي اوسېدئ هغه پردې دلالت کوي ،چي ده مبارک کومه لارښوونه کړې ده يوازي دشخصي تقليد خبره ده. ددې څخه په څرګند ډول ثابتيږي ،چي داصحابانو ❤ په زمانه کي شخصي تقليد منعه نه و.

١: مجمع الزوائد ، ج : ٤ ص : ٢٦٢، باب الرضاع. په کنزالعمال کي دعبدالرزاق په حواله هم داسي جمله سته ،چي وايي:لافتيكم ماكان بها، ج : ٦ ، ص : ١٤٧

سرچينه: تعليم الاسلام راډيو/www.taleemulislam-radio.com

(c) ketabton.com: The Digital Library

دريم نظير:

په ترمذي، سنن ابوداود او داسي نورو کتابونو کي دمعاذبن جبل رضي الله عنه څخه يو روايت رانقل سوی دئ:

عَنْ مُعَاذِ بْنِ جَبَلٍ أَنَّ رَسُولَ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ لَمَّا أَرَادَ أَنْ يَبْعَثَ مُعَاذًا إِلَى الْيَمَنِ قَالَ كَيْفَ تَقْضِي إِذَا عَرَضَ لَكَ قَضَاءٌ قَالَ أَقْضِي بِكِتَابِ اللَّهِ قَالَ فَإِنْ لَمْ تَجِدْ فِي كِتَابِ اللَّهِ قَالَ فَبِسُنَّةِ رَسُولِ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ فَإِنْ لَمْ تَجِدْ فِي سُنَّةِ رَسُولِ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وَلَا فِي كِتَابِ اللَّهِ قَالَ أَجْتَهِدُ رَأْيِي وَلَا آلُو فَضَرَبَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ صَدْرَهُ وَقَالَ الْحَمْدُ لِلَّهِ الَّذِي وَفَّقَ رَسُولَ رَسُولِ اللَّهِ لِمَا يُرْضِي رَسُولَ اللَّهِ.([1])

ژباړه: معاذبن جبل رضي الله عنه وايي، چي رسول الله صلى الله عليه وسلم زه يمن ته لېږلم نو ما ته يې وويل: که تاته يوه مسئله راسي نو ته به څنګه فيصله کوې؟ ما ورته وويل: چي دالله جل جلاله دکتاب په رڼا کي به يې کوم، رسول الله صلى الله عليه وسلم راته وويل: که دغه مسئله په قرآن کي نه وه بيا به يې څنګه فيصله کوې؟ ما ورته وويل: دنبوي احاديثو په رڼاکي يې فيصله کوم، رسول الله صلى الله عليه وسلم راته وفرمايل: که دغه مسئله په احاديثو کي نه وه بيا به يې څنګه فيصله کوې؟ ما ورته وويل: بيابه يې په خپله رايه، فکر او اجتهاد سره فيصله کوم اوکوشش به کوم، چي حقه فيصله وکړم. رسول الله صلى الله عليه وسلم زما په دغه خبرو سره خوشاله سو او لاس يې زما پر سينه راکښيښودئ او وې فرمايل: الله جل جلاله لره دي حمد وي، چي دالله جل جلاله درسول صلى الله عليه وسلم قاصد ته يې دداسي تګ لاري توفيق ورکړ، چي دالله جل جلاله رسول صلى الله عليه وسلم په راضي کېږي.

---

[1]: سنن ابي داود، كتاب الاقضيه، باب الاجتهاد الراي في القضاء، ح: ٣١١٩، ج: ٩، ص: ٤٨٩، ط: المكتبة الشاملة، الاصدارالثاني.

سرچينه: تعليم الاسلام راډيو/www.taleemulislam-radio.com

(c) ketabton.com: The Digital Library

پورتنی روایت او پېښه دتقلید او اجتهاد په مسئله کي داسي ډېوه ده ،چي څومره غور او فکر پر کېږي په هغه کچه مشکلات له منځه په ځي . په دې روایت کي زمونږ اصلِ موخه یوه لوري ته ده هغه داچي رسول الله ﷺ دخپلو فقیه عالمانو اصحابو څخه یو تن فقیه عالم معاذ رضي الله عنه دیمن خلکو ته دقاضي اومعلم په توګه ولېږی او پرهغوی باندي يې دده اتباع او پیروي لازمه وګرځول. رسول الله ﷺ نه یوازي ،چي معاذ رضي الله عنه ته يې په قرآن اودحدیث دمسائلوحل وفرمایه بلکي ددې اجازه يې هم ورکړه ،چي په خپله رایه او فکر سره اجتهاد وکړي او بیا يې مسائلي په رښا کي حل کړي. داچي رسول الله ﷺ دیمن پر خلکو لازمه کړه ،چي دمعاذ رضي الله عنه اتباع وکړي په دې کي خو نو بل شی نه سي جوړېدای پرته له دې ،چي رسول الله ﷺ دوی ته دشخصي تقلید امر وکړ بلکي ورباندي لازم يې کړ.(١)

١: دشخصي تقلید لپاره ،چي ما کوم حدیث ددلیل په توګه وړاند کړ، پردغه استدلال باندي یو چا اعتراض کړی دئ،چي ما او زما په څېر نورو مقلدینو علماؤ ته مشرکین او کافران وایي، نومورې په خپل اعتراض کي لیکي: لومړی باید وکتل سي ،چي دغه حدیث صحیح دئ که یا؟(التحقیق في جواب التقلید)، نومورې کس ورپسي پر دغه حدیث باندي دابوداود دحاشیې ټول هغه اعتراضات رانقل کړی دي ،چي علامه جوزقاني رضي الله عنه پر نومورې حدیث باندي کړي دي.

ددغه اعتراض په اړه باید وویل سي ،چي کوم کس ،چي دغه اعتراضات کړي دي هغه خپله هم دتقلید مرتکب ګرځېدلی دئ ، بیا دا،چي دحدیث درد لپاره يې ولي یوازي دخپل کتاب لپاره دجوزقاني پر نیوکو باندي بسنه کړې ده دبل لوري څخه يې ولي کوم تردید نه دئ راوړی ، دوهم دا،چي دجوزقاني دنیوکو لپاره جوابونه سوي دي که ده یوازي دابن القیم رحمه الله تحقیق کتلی وای لابه يې شبهات رفعه سوي وای، ابن القیم دجوزقاني داعتراضاتو جوابونه کړي دي او ویلي يې دي د

سرچینه: تعلیم الاسلام راډیو/www.taleemulislam-radio.com

(c) ketabton.com: The Digital Library

معاذ ﷺ ،چي کله يمن ته تلی نو ديوه زور ځواکي واکمن په توګه نه بلکي ديومعلم او مفتي په توګه تللی دئ ، ځوک ،چي دا فکر کوي ددغه حديث تعلق دقضا او واکمنۍ سره دئ دافتا سره تعلق نه لري دا فکر بېخي درست نه دئ ځکه دبخاري شريف په يوه روايت کي راځي:

٦٢٣٧ - عَنْ الْأَسْوَدِ بْنِ يَزِيدَ قَالَ أَتَانَا مُعَاذُ بْنُ جَبَلٍ بِالْيَمَنِ مُعَلِّمًا وَأَمِيرًا فَسَأَلْنَاهُ عَنْ رَجُلٍ تُوُفِّيَ وَتَرَكَ ابْنَتَهُ وَأُخْتَهُ فَأَعْطَى الِابْنَةَ النِّصْفَ وَالْأُخْتَ النِّصْفَ.(١)

ژباړه : اسود بن يزيد رحمه الله فرمايي: موږ ته معاذ ﷺ دامير او معلم په توګه راغلی نو موږ ديوه کس په اړه پوښتنه ځني وکړه ،چي وفات سوی وي او ترشايې يوه خور او يوه لور پاته وي ،چي ميراث يې څنګه وېشل کېږي؟ معاذ ﷺ په جواب کي راته وويل: نيم مال يې دلور دئ او نيم مال يې دخور دئ.

پورتني روايت ته که وکتل سي نو معاذ ﷺ ديوه مفتي په توګه خلکو ته جواب ورکړی دئ او کوم دليل يې هم نه دی ورته بيان کړی او نه هغو ددليل غوښتنه کړې ده او بيادمعاذ ﷺ دغه فيصله هم قبوله سوې ده. معاذ ﷺ که څه هم په ښکاره دليل نه دئ بيان کړی خو دمعاذ ﷺ

معاذ ﷺ کوم حديث ،چي اصحابانو رانقل کړی دئ په هغو کي څوک متهم ، کذاب او مجروح نسته. همدا ډول ابن القيم دغه حديث دخطيب بغدادي په حواله ديوې بلي طريقې څخه هم رانقل کړی دئ او ويلي يې دي: عن عبادة بن نسي عن عبدالرحمن بن غنم عن معاذ...او بيا يې ليکلي دي: وهذا اسناد متصل ورجاله معروفون بالثقه. نوموړی عالم دپورتني تحقيق په تعقيب زياتوي: دغه حديث دامت دتلقي بالقبول په وجه هم ددې جوګه دئ ،چي په استدلال کي دي وکارول سي. اعلام الموقعين ، ج : ١ ص : ١٧٥ ، تر ، ١٧٦. نيوکه کونکی او دغه فکر کونکی مولانا محمد اسماعيل سلفي رحمه الله دئ ، تحريک ازادي فکر ، ص: ١٤٠

[1]: بخاري ، کتاب الفرايض ، باب الميراث ،ج : ٢ ، ص : ٩٩٧، ح :٦٢٣٧.

سرچينه: تعليم الاسلام راډيو/www.taleemulislam-radio.com

(c) ketabton.com: The Digital Library

فيصلې دقرآن او حديث سره مطابقي وې ځکه تاسو دمعاذ ﷺ يوې بلې فتوا ته وګورئ ،چې هلته ده مبارک درسول الله ﷺ حديث رانقل کړی دئ دده مبارک دغه فتوا په لاندې ډول ده:

عَنْ أَبِي الْأَسْوَدِ الدِّيْلِيِّ قَالَ كَانَ مُعَاذٌ بِالْيَمَنِ فَارْتَفَعُوا إِلَيْهِ فِي يَهُودِيٍّ مَاتَ وَتَرَكَ أُخًا مُسْلِمًا فَقَالَ مُعَاذٌ إِنِّي سَمِعْتُ رَسُولَ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَقُولُ إِنَّ الْإِسْلَامَ يَزِيدُ وَلَا يَنْقُصُ فَوَرَّثَهُ.(١)

ژباړه:ابي الاسود ديلمي ويلي دي ،چې معاذ ﷺ په يمن کې يوه مسئله ديهودي په اړه بيان کړه ،چې هغه مړ سوی و او ترشايې ورور مسلمان پاته سوی و په اړه يې داپوښتنه راپورته سوې وه ،چې دغه مسلمان ديهودي په مال کې ميراث ورلای سي که يا؟ معاذ ﷺ وفرمايل: ما درسول الله ﷺ څخه اوريدلي دي ،چې اسلام زيادت کوي کمښت نه کوي نو ځکه زما ځېرنه او فکر دادئ ،چې دمسلمانې په وجه بايد څوک دميراث څخه محروم نه سي، بالاخره معاذ ﷺ مسلمان ته ديهودي ورور ميراث ورکړ.(٢)

په پورتني روايت کې معاذ ﷺ داسي حديث په دليل کې ووايه ،چې دميراث دموضوع سره هيڅ اړه نه لري ، داچې ده مبارک داسي حديث وايه دا دده خپل اجتهاد او ځېرنه وه خو بيا هم ديمن خلکو هغه قبول کړ.

---

[١]: مسنداحمد ، ج : ٥ ، ص : ٢٣٠، او ١٣٦، ح : ٢١٠٤٥، واخرجه الحاكم رحمه الله وقال صحيح الاسناد لم يخرجاه، وقال الذهبي رحمه الله صحيح، مستدرک حاكم ، ج : ٤ ، ص: ٣٤٥،

[٢]: پاته دي نه وي ،چې دا دمعاذ ﷺ خپل تحقيق او فکر و که نه نو دجمهورو اصحابانو ﷺ او فقهاوو له انده مسلمان دکافر څخه ميراث نه سي ورلای ځکه رسول الله ﷺ فرمايي: لايرث المسلم من الكافر.

سرچينه: تعليم الاسلام راډيو www.taleemulislam-radio.com/

(c) ketabton.com: The Digital Library

په مسند احمد او معجم طبراني کي يو بل روايت هم راځي:

٢١٠٦٣ ... أَنَّ مُعَاذًا قَدِمَ عَلَى الْيَمَنِ فَلَقِيَتْهُ امْرَأَةٌ مِنْ خَوْلَانَ ... فَسَلَّمَتْ عَلَى مُعَاذٍ ... فَقَالَتْ مَنْ أَرْسَلَكَ أَيُّهَا الرَّجُلُ قَالَ لَهَا مُعَاذٌ أَرْسَلَنِي رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَتْ الْمَرْأَةُ أَرْسَلَكَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وَأَنْتَ رَسُولُ رَسُولِ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ أَفَلَا تُخْبِرُنِي يَا رَسُولَ رَسُولِ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَقَالَ لَهَا مُعَاذٌ سَلِينِي عَمَّا شِئْتِ...([1])

ژباړه: کله، چي معاذ رضي الله عنه يمن ته راغلی نو دخولان قوم څخه يوه ښځه ورته راغله سلام يې ورته ووايه او بيا يې ځني وپوښتل: اې سړيه! ته چا رالېږلی يې؟ معاذ رضي الله عنه ورته وويل: زه دالله جل جلاله رسول صلى الله عليه وسلم رالېږلی يم، ښځي ورته وويل: ايا ته رسول الله صلى الله عليه وسلم رالېږلی يې؟، دالله جل جلاله درسول صلى الله عليه وسلم استازی يې؟، اې دالله جل جلاله درسول استازې؟ ته موږ ته ددين احکام نه رانښيې معاذ رضي الله عنه ورته وويل: زما څخه دهر هغه شي په اړه پوښتنه وکړه، چي ستا خوښه وي؟.

دپورتني حديث څخه معلوميږي، چي معاذ رضي الله عنه يوازي دوالي او واکمن په توګه يمن ته نه و لېږل سوی بلکي معاذ رضي الله عنه درسول الله صلى الله عليه وسلم استازی او نماينده و، دده دنده داوه، چي الهي احکام خلکو ته ورزده کړي، همدا لامل و، چي هغې ښځي دده څخه پوښتنه وکړه او ده ورته وويل، چي ته زما څخه دهر هغه شي په اړه پوښتنه کوه، چي ستا زړه غواړي.

---

[1]: اورده الهيثمي في مجمع الزوائد، ج: ٤، ص: ٣٠٧، ٣٠٨، باب حق الزوج علي المرء وقال رواه احمد والطبراني من رواية عبدالحميد بن بهرام عن شهر وفيها ضعف وقد وثقا.

سرچينه: تعليم الاسلام راډيو www.taleemulislam-radio.com/

(c) ketabton.com: The Digital Library

دپورتني حديث په اخره کي هغې ښځي دمعاذ ﷺ څخه پوښتلي دي ،چي پر ښځه باندي دخپل مېړه څه حقوق دي؟ معاذ ﷺ داسلام داصولو مطابق جواب ورکړی دئ او دجواب په ويلو سره يې دې ته کوم آيت يا حديث ددليل په توګه نه دی ويلی ، ددې څخه دامعلوميږي ،چي معاذ ﷺ يوازي دانتظامي چارو دسرته رسولو لپاره نه و لېږل سوی بلکي معاذ ﷺ درسول الله ﷺ دنماينده په توګه ديمن خلکو ته ورغلی و او دايې دنده وه ،چي خلکو ته دشريعت احکام ورزده کړي او خلک دده تقليد وکړي.

بله خبره لاداده ،چي رسول الله ﷺ دمعاذ ﷺ په اړه داسي فرمايلي دي:

اعلمهم بالحلال والحرام.

ژباړه :په اصحابانو ﷺ کي ترټولو زيات په حلالو اوحرامو ښه عالم معاذ ﷺ دئ.(۱)

په بل ځای کي رسول الله ﷺ دمعاذ ﷺ په اړه داسي فرمايلي دي:

انه يحشر يوم القيامة بين يدى العلماء نبذه.(۲)

ژباړه : الله ﷻ به معاذ ﷺ دقيامت په ورځ داسي را وپاڅوي ،چي دعلماوو قيادت به کوي او ددوی څخه به دومره مخکي وي څومره ،چي غشي ځي ،ځکه معاذ ﷺ نه يوازي ،چي ديمن خلکو دده تقليد کاوه بلکي نورو اصحبانو ﷺ هم دده تقليد کاوه.

۱: رواه النسائي ،والترمذي وابن ماجة باسانيد صحيحة حسنة ، وقال الترمذي: هو حديث حسن، صحيح، تهذيب الاسماء واللغات للنووي رحمه الله ، ج : ۱ ، ص : ۹۹.

۲: اخرجه احمد في مسنده عن عمر ﷺ وفي رواية برثوة والرتوة والنبذة كلاهما رمية سهم. الفتح الرباني ، ج : ۱ ص : ۳۵۲.

سرچينه: تعليم الاسلام راډيو/www.taleemulislam-radio.com

(c) ketabton.com: The Digital Library

۲۱۰۵۲ - ... عَنْ أَبِي مُسْلِمٍ الْخَوْلَانِيِّ قَالَ أَتَيْتُ مَسْجِدَ أَهْلِ دِمَشْقَ فَإِذَا حَلْقَةٌ فِيهَا كُهُولٌ مِنْ أَصْحَابِ النَّبِيِّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ (وفي رواية كثير بن هشام فاذا هي ثلاثين كهلا من اصحاب رسول الله ﷺ) وَإِذَا شَابٌّ فِيهِمْ أَكْحَلُ الْعَيْنِ بَرَّاقُ الثَّنَايَا كُلَّمَا اخْتَلَفُوا فِي شَيْءٍ رَدُّوهُ إِلَى الْفَتَى فَتًى شَابٌّ قَالَ قُلْتُ لِجَلِيسٍ لِي مَنْ هَذَا قَالَ هَذَا مُعَاذُ بْنُ جَبَلٍ...(۱)

ژباړه : ابومسلم خولاني وايي:زه ددمشق دخلکو مسجد ته ورغلم که مي کتل په دې مسجد کي يوه ډله سپين ږيري اصحابان رضي الله عنهم ناست وه ، په يوه روايت کي راغلي دي ،چي دېرش تنه سپين ږيري اصحابان رضي الله عنهم ناست وه ، ناڅاپه مي يو ځوان وليدئ ،چي سترګي يې توري وي غاښونه يې سپين وه ځلېدل ، کله ،چي به داصحابانو رضي الله عنهم په يوه مسئله کي اختلاف سوه نو دغه ځوان ته به يې رجوع کول ، دغه ځوان به فيصله ورکول،ما دځنګ ديوه ملګري څخه پوښتنه وکړه ،چي داڅوک دئ؟ هغه ملګري راته وويل: دا معاذ بن جبل رضي الله عنه دئ.

تاسو وګورئ معاذ بن جبل رضي الله عنه داسي يو څوک و ،چي ويوې ډلې اصحابانو رضي الله عنهم دده تقليد کاوه او ده به يې اختلافي مسئلې ور فيصله کولې.

ديوه بل روايت الفاظ داسي راغلي دي:

اذا اختلفوا في شيئ اسندوه اليه وصدروا عن رايه.(۲)

ژباړه : کله ،چي به ددوی ترمنځ کومه اختلافي مسئله راغلل نو دغه مسئله به يې معاذ رضي الله عنه ته سپارل او ده رايه به يې قبلول.

۱: مسند احمد ، مرويات معاذ بن جبل ، ح :۲۱۰۵۲، ج : ۵ ، ص : ۲۳۶

۲: مسند احمد ، مرويات معاذ بن جبل ، ج : ۵ ، ص : ۲۳۳

سرچينه: تعليم الاسلام راډيو www.taleemulislam-radio.com/

(c) ketabton.com: The Digital Library

لنډه داچي معاذ رضي الله عنه دهغه ښو علماوو او فقهاوو له ډلي څخه دئ ،چي رسول الله صلى الله عليه وسلم خپله ورته (اعلم بالحلال والحرام) ورته ويلي دي او خپله اصحابانو رضي الله عنهم هم دده تقليد کړی دئ. کله ،چي رسول الله صلى الله عليه وسلم معاذ رضي الله عنه يمن ته ولېږی نو دقضاء څخه نيولې بيا ترپوره تعليم ، افتاء او نور مسؤليتونه يې ده ته حواله کړل ، رسول الله صلى الله عليه وسلم ديمن پر خلکو لازم وګڼل ،چي دده اطاعت وکړي او ديمن خلکو هم داسي وکړل دده تقليد يې وکړ، همدا دشخصي تقليد حقيقت دئ.

ځلورم نظير :

په سنن ابوداود کي روايت دئ :

٣٦٨ - ... عَنْ عَمْرِو بْنِ مَيْمُونٍ الْأَوْدِيِّ قَالَ قَدِمَ عَلَيْنَا مُعَاذُ بْنُ جَبَلٍ الْيَمَنَ رَسُولُ رَسُولِ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ إِلَيْنَا قَالَ فَسَمِعْتُ تَكْبِيرَهُ مَعَ الْفَجْرِ رَجُلٌ أَجَشُّ الصَّوْتِ قَالَ فَأُلْقِيَتْ عَلَيْهِ مَحَبَّتِي فَمَا فَارَقْتُهُ حَتَّى دَفَنْتُهُ بِالشَّامِ مَيِّتًا ثُمَّ نَظَرْتُ إِلَى أَفْقَهِ النَّاسِ بَعْدَهُ فَأَتَيْتُ ابْنَ مَسْعُودٍ فَلَزِمْتُهُ حَتَّى مَاتَ(۱)

حضرت عمرو بن ميمون رحمه الله عليه وايي : کله ،چي رسول الله صلى الله عليه وسلم معاذ رضي الله عنه يمن ته داستازي په توګه راو لېږئ نو ما دسهار په لمانځه کي دده تکبير واورېدئ ،چي اواز يې ډک او دروند و نو زما مينه ورسره پيدا سوه او بيا دده مبارک دمرګ تر مهاله زه ځني جلا نه سوم تر داسي بريده ،چي ما په خپل لاس باندي په شام کي دفن کړ، بيا په خلکو کي ښه عالم وليدئ نو زه ابن مسعود رضي الله عنه ته راغلم او دمرګ ترمهاله پوري ځني جلا نه سوم.

---

[۱]: ابوداود ، باب اذا اخر الامام الصلوة عن الوقت ، ج : ۱ ، ص : ٦٢، ومسند احمد ، ج : ۵ ، ص : ۱۳۱

سرچينه: تعليم الاسلام راډيو www.taleemulislam-radio.com/

(c) ketabton.com: The Digital Library

په پورتني روايت کي دحضرت ميمون رحمة الله عليه وينا ،چي زه دمعاذ رضي الله عنه سره ملګری وم تر هغه وخت پوري ،چي دی ژوندی و او بيا ،چي کله دی وفات سو نو ما ابن مسعود رضي الله عنه ته ځکه رجوع وکړه ،چي ابن مسعود رضي الله عنه تر معاذ رضي الله عنه وروسته ښه عالم و، دده مبارک دغه وينا پردې باندي دلالت کوي ،چي لومړی بايد هغه چا ته رجوع وکړل سي ،چي هغه ترټولو ښه عالم وي تر هغه وروسته بيا هغه چاته رجوع وکړل سي ،چي تر پاته خلکو ښه عالم وي مطلب داچي ميمون رحمة الله عليه دمعاذ رضي الله عنه په ژوند کي ابن مسعود رضي الله عنه ته هيڅ رجوع نه کول دمسائلو زده کړه يې يوازي دمعاذ رضي الله عنه څخه کول داچي ميمون رحمة الله عليه يوازي دمعاذ رضي الله عنه تقليد کوي او ابن مسعود رضي الله عنه ته دده په ژوند کي نه ورځي همدا دشخصي تقليد معنا ده.

څو بېلابېل مثالونه

۵ : داصحابانو رضي الله عنهم په څېر ډېرو تابعينو هم تقليد کړی دئ ځينو تابعينو يو صحابي دځان لپاره مقتدا ګرځولی دئ او ځينو بيا بل صحابي دځان لپاره مقتدا ګرځولی دئ او دوی مبارکانو يې شخصي تقليد کړی دئ لکه ،چي امام شعبي رحمة الله عليه فرمايي:

من سره ان ياخذ بالوثيقة في القضاء فلياخذ بقول عمر رضي الله عنه (۱)

ژباړه :که څوک په دې خوشالېږي ،چي په قضا کي وثيقه واخلي نو دعمر رضي الله عنه قول دي تينګ ونيسي.

٦ : حضرت مجاهد رحمة الله عليه فرمايي:

۱: اعلام الموقعين لابن القيم، ج : ۱ ص : ۱۵

سرچينه: تعليم الاسلام راډيو www.taleemulislam-radio.com/

(c) ketabton.com: The Digital Library

اذا اختلف الناس في شيئ فانظروا ما صنع عمر فخذو به.(۱)

ژباړه : کله ،چې دخلکوپه کومه مسئله کې اختلاف پيدا سي نو و دي ګوري ،چې عمر رضي الله عنه په دغه اړه څه کړي دي همدغسي دي وکړي.

۷ : دابراهيم نخعي په اړه اعمش رحمه الله عليه ليکي:

انه کان لايعدل بقول عمر رضي الله عنه وعبدالله رضي الله عنه اذا اجتمعا فاذااختلفا کان قول عبدالله رضي الله عنه اعجب اليه.(۲)

ژباړه : ابراهيم نخعي رحمه الله عليه دحضرت عمر رضي الله عنه او عبدالله رضي الله عنه په قول عمل کاوه کله ،چې به دوی دواړه سره متفق وه خو کله ،چې به يې په منځ کې اختلاف پيښ سو نو دابراهيم نخعي رحمه الله عليه دعبدالله رضي الله عنه په قول عمل کول خوښ وه.

۸ : حضرت ابوتميمه رحمه الله عليه فرمايي:

قدمنا الشام فاذا الناس مجتمعون يطيفون برجل ، قال قلت من هذا ، قالوا هذا افقه من اصحاب النبي صلى الله عليه وآله وسلم هذاعمر والبکائي رضي الله عنهما.(۳)

ژباړه : موږ شام ته راغلو که موکتل خلک پرې يو کس باندې شاوخوا راټول دي او پر راګرځي ، دی وايي ،چې مادیوه چا څخه پوښتنه وکړه ،چې دا کس څوک دئ؟ دوی راته وويل: دا په ژوندیو اصحابانوکې ترټولو ښه فقيه دئ.

۹ : امام محمدبن جرير طبري رحمه الله عليه فرمايي:

لم يکن احد له اصحاب معروفون حرروا فتياه ومذاهبه في الفقه غير ابن مسعود رضي الله عنه وکان يترک مذهبه وقوله لقول عمر رضي الله عنه وکان لايکاد يخالفه في شيئ من مذاهبه ويرجع

۱: اعلام الموقعين لابن القيم، ج : ۱ ص : ۱۵

۲: اعلام الموقعين لابن القيم، ج : ۱ ص : ۱۳، ۱۴

۳: اعلام الموقعين لابن القيم، ج : ۱ ص : ۱۴

سرچينه: تعليم الاسلام راډيو www.taleemulislam-radio.com/

(c) ketabton.com: The Digital Library

من قوله الي قوله وقال الشعبي كان عبدالله لايقنت ، وقال : ولوقنت عمر لقنت عبدالله.(۱)

ژباړه : دابن مسعود ﷺ پرته بل څوک داسي نسته ،چي دومره ډېر شاګردان دي يې وي، فتاواوي او فقهي مذاهب دي يې مدون سوي وي ،سره ددې ،چي ابن مسعود ﷺ دحضرت عمر ﷺ دومره تقليد کاوه ،چي خپله وينا يې دعمر ﷺ دوينا په مقابل کي پرېښوول په هيڅ شي کي يې ورسره مخالفت نه کاوه، امام شعبي رحمه الله فرمايي: ابن مسعود ﷺ قنوت نه لوستی ، که عمر ﷺ لوستلی وای نو ده هم خامخا لوستی.

پورته ،چي بيان سوه داټول دشخصي تقليد مثالونه وه البته يوه خبره دياډولو وړ ده هغه داچي تقليد دمقلد په اعتبار درجې لري ، ددغه درجو په اعتبار سره کله داسي ،چي يو مقلد سره ددې ،چي دخپل امام تقليد کوي مګر بيا هم په ځينو مسائلو کي ورسره اختلاف کوي ، دې ته هم شخصي تقليد ويل کېږي لکه ځيني حنفي مشايخ ،چي دامام ابوحنيفة رحمه الله په خلاف يې ځيني ځايونه فتوا ورکړې ده ،خو بياهم دوی ته دامام ابوحنيفة رحمه الله مقلدين ويل کېږي، ددې خبري پوره تفصيل به انشاء الله وروسته راسي. دپورتنيو خبرو په نظر کي نيولوسره ويلای سو ،چي ابن القيم رحمه الله دتقليد په وړاندي ،چي داصحابانو ﷺ او تابعينو داختلافاتو کوم مثالونه ويلي په هغو سره زموږ استدلال نه اغېزمن کېږي.(۲)

۱: اعلام الموقعين لابن القيم، ج : ۱ ص : ۱۶

۲: علامه ابن القيم رحمه الله ،چي دتقليد په خلاف کوم اوږد بحث کړی دئ او زياتي نيوکي او اعتراضونه يې باندي وارد کړي دي ددغه اعتراضونه لپاره پوره تفصيل

سرچينه: تعليم الاسلام راډيو www.taleemulislam-radio.com/

(c) ketabton.com: The Digital Library

حاصل داچي دپورتنيو روايتونو څخه داخبره په ثبوت رسيږي ،چي داصحابانو رضی الله عنهم په زمانه کي په دواړه تقليدونو يعني په شخصي او مطلق دواړو سره عمل سوی دئ ، داچي دوی مبارکانو دواړه ډوله تقليد کړی دئ نو حقيقت هم دادئ ،چي هغه کس ،چي داصل په اعتبار سره دقرآن او حديث څخه مستقيما دمسئلو استنباط نه سي کولای هغو ته دا جايزه او صحيح ده ،چي دواړه ډوله تقليد وکړي ځکه حضرت شاه والي الله محدث دهلوي رحمة الله عليه ليکي:

وليس محله فيمن لايدين الا بقول النبي صلی الله عليه وآله وسلم ولايعتقد حلالا الا ما احله الله ورسوله ولاحراما الا ما حرم الله ورسوله لكن لما يكن له علما بماقاله النبي صلی الله عليه وآله وسلم ولابطريق الجمع بين المختلفات من كلامه ولابطريق الاستنباط من كلامه اتبع عالما راشدا علي انه مصيب فيما يقول ويفتي ظاهرا متبع سنة رسول الله صلی الله عليه وآله وسلم فان خالف مايظنه اقلع من ساعته من غير جدال ولا اصرار فهذا كيف ينكره احد مع ان الاستفتاء ولافتاء لم يزل بين المسلمين من عهد النبي صلی الله عليه وآله وسلم ولافرق بين ان يستفتي هذا دائما او يستفتي هذا حينا وذالک حينا بعد ان يكون مجمعا علي ماذكرناه.(۱)

ژباړه : کوم څوک ،چي دتقليد په اړه بد وايي دهغه اطلاق پر هغه چا نه کېږي ،چي دالله جل جلاله اور سول الله صلی الله عليه وآله وسلم دوينا وو پرته دبل چا قول حجت او دليل نه مني ، عقيده يې داوي ،چي فقط کوم څه ،چي الله جل جلاله او رسول صلی الله عليه وآله وسلم حلال کړي دي هغه حلال دي او فقط کوم څه ،چي الله جل جلاله او

لرونکي او قناعت ورکونکي جوابونه يې دهر جز لپاره په ج: ۲ ص : ۴ تر ۶ پوري په انهارالسکن کي وګورئ ،چي داعلاء السنن مقدمه ده. همدا ډول وګورئ: الفائده الثالثة دمولانا حبيب احمد کيرانوي تاليف، ط : کرا،چي ، کال : ۱۴۷۸

[۱]: حجة الله البالغة ، ج : ۱، ص : ۵۲، ط: مكتبة سلفية لاهور، نېټه : ۱۴۶۵هـ ، عقد الجيد، ص: ۳۹، ط : مجتبايي ، ډهلی ، نېټه : ۱۴۴۴، هـ

سرچينه: تعليم الاسلام راډيو www.taleemulislam-radio.com/

(c) ketabton.com: The Digital Library

دهغه رسول ﷺ حرام کړي وي هغه حرام دي مګر داچي درسول الله ﷺ احاديث ورته معلوم نه وي ، نه درسول الله ﷺ دمتعارضو احاديثو په تطبيق پوهيږي ، نه درسول الله ﷺ داحاديثو څخه دمسائلو داستنباط په طريقه پوهيږي نو ځکه ديوه داسي عالم تقليد وکړي ،چي دهدايت لاره يې خپله کړې وي او په ښکاره دسنتو متبع وي نوموړی کس دي ددغه عالم اتباع او پيروي ځکه وکړي ،چي دده په آند نوموړی عالم حق ته رسېدلی وي او دده په ګومان نوموړی عالم پر هدايت او دسنت متبع وي خو کله ،چي دده دغه ګومان غلط ثابت سو نو دځه جنک جګړې پرته دده دتقليد څخه لاس واخلي، دداډول تقليد څخه څنګه انکار وکړل سي؟ لکه دفتوا او فتوا ورکولو سلسله ،چي درسول الله ﷺ دزمانې څخه راپيل ده ، کله ،چي پوښتنه کول جايز سوه نو بيا په دې کي هيڅ فرق نسته ،چي يو کس ديوه خاص عالم څخه پوښتنه کوي ،چي ورته شخصي تلقيد ويل کيږي او داچي کله ديوه عالم ، څخه پوښتنه کوي او کله بيا په بله مسئله کي دبل عالم څخه پوښتنه کوي ،چي ورته مطلق تقليد وويل سي. البته داخبره لازمي ده ،چي په پوښتل سوي عالم کي به پورته ذکر سوي شرطونه موجود وي.

شخصي تقليد ته اړتيا

اصلاً د شخصي او مطلق دواړو تقليدونو څخه په يوه باندي عمل کول جايز دي ،خو داچي الله ﷻ ددې وروستۍ زمانې پر علماوو باندي خپل خاص رحمت کړی دئ ، دوی ته يې داسي ذکاوت ، فکر او پوهه ورکړې ده ،چي دمعاصري زمانې بدلېدونکي حالات درک کولای سي او نظر ورباندي ورکولای سي ، دوی ديوه ځواکمن مصلحت پر بنسټ

سرچينه: تعليم الاسلام راډيو/www.taleemulislam-radio.com

(c) ketabton.com: The Digital Library

باندي داسي پربکړه کړې ده ،چې په دواړه ډوله تقليدونو کې دي يوازې په شخصي تقليد عمل وکړل سي يعني داچې کله مقلد ديوه امام خبره عملي کوي او کله دبل امام خبره عملي ددې پرځای دي ديوه امام تقليد دي وسي.

اوس پوښتنه داده ،چې دغه ځواکمن مصلحت نو څه شي دئ؟ دپورتنۍ پوښتنې په جواب کې بايد لومړی داخبره وسي او په ذهن کې وساتل سي ،چې خواهش پرستي هغه سخته او ناوړه ګناه ده ،چې ډېر وخت انسان تر کفره پوري رسوي، همدا لامل دئ ،چې په قرآنکريم کې په بېلابيلو ځايونو کې پر دې خبره باندې ټينګار سوی دئ ،چې انسان بايد په کلکه دخواهشت پرستۍ څخه ځان وساتي ، دقرآنکريم په ډېرو آياتونو او احاديثو کې ددې خبرې تلقين ورکړل سوی دئ ،چې تاسو بايددخواهش پرستۍ څخه ځانونه وژغورئ.

دخواهش پرستۍ څخه يو ډول داهم ده ،چې يوځوک بداو ګناه حرام بولي مګر دخواهش پرستۍ په وجه په دغه ګناه اوحرام کارلاس پوري کوي دا ډول خواهش پرستي که څه هم لويه ګناه ده مګر يوه ورځ نه يوه ورځ انسان پرخپله ګناه باندې پښېمانه کېږي او توبه ايستونکی جوړېږي.

دخواهشت پرستۍ دوهم ډول دادئ ،چې انسان دخواهشت پرستۍ په غلامۍ کې تر داسي بريده ورسېږي ،چې حلال حرام وبولي او حرام حلال وبولي او ددين څخه دلوبو ګين جوړ کړي ، ښکاره خبره ده ،چې دخواهشت پرستۍ دغه دوهم صورت زيات درونده او سخت تاوان لرونکی دئ. دفقه شريفي علماوو ثابته کړې ده ،چې دخلکو ديانت ورځ تربلې دتېټ والي پر لوري ځي که دمطلق تقليداجازه ورکړل سي نوډېر خلک به په قصده او ډېر خلک به دناپوهۍ په وجه په خواهشت

سرچينه: تعليم الاسلام راډيو/www.taleemulislam-radio.com

(c) ketabton.com: The Digital Library

پرستې اخته سي. دمثال په ډول دامام ابوحنيفة رحمة الله عليه پر مذهب دبدن څخه په وينه وتلو باندي اودس ماتيږي او دامام شافعي رحمة الله عليه پر مذهب دبدن څخه په وينه وتلو باندي اودس نه ماتيږي ، که ،چيري دمطلق تقليد اجازه ورکړل سي نو يوکس به دګرمۍ په موسم کي دامام ابوحنيفة رحمة الله عليه په مذهب وي په وينه سره به اودس ماتوي او نوی اودس به تازه کوي ، ديخنۍ په موسم کي به دامام شافعي رحمة الله عليه په مذهب وي په وينه سره به اودس نه ماتوي او نوی اودس به نه تازه کوي ،بې اودسه به پرلمانځه دريږي، همدا ډول دامام شافعي رحمة الله عليه مذهب دادئ ،چې که ديوچا پر بښځه باندي لاس ولګيدئ اودس يې مات دئ او دامام ابوحنيفة رحمة الله عليه پر مذهب ددغه کس اودس نه دئ مات. اوس خواهشت پرست يا ناپوه انسان به دخپلي اسانۍ په وجه په دغه ځای کي دامام ابوحنيفة رحمة الله عليه په مذهب وي ، دامام شافعي رحمة الله عليه له نظره به بې اوسه پرلمانځه باندي ودريږي ،مطلب داچې دکوم امام قول ،چې ده ته اسانه وي هغه به عملي کوي او دکوم امام قول ،چې ده ته ګران وي دهغه څخه به مخ اړوي همدا ډول به دده نفس دهغه امام ،چې دده دطبيعت سره يې قول سم دئ دهغه دقول پر صحت به شاهدي ورکوي، ددغه کار په کولو سره به نومورې کس په غير شعوري ډول په خواهشت پرستې اخته سوی وي او شرعي احکام به دنفساني خواهشات تابع محض ګرځېدلي وي ، که خدای مه کړه داسي وسي نو دداسي کړني په حرمت کي دمسلمان امت څخه هيچا اختلاف نه دئ کړی ، علامه ابن تيميه رحمة الله عليه دنومورې کار خرابي په ګوته کوي او فرمايي:

وقدنص الامام احمد وغيره ان ليس لاحد ان يعتقد الشيئ واجبا او حراما ثم يعتقده غير واجب او حراما ،ثم يعتقده غيره واجب اومحرم بمجرد هواه ،مثل ان يكون طلبالشفعه الجوار يعتقدها انها حق له ثم اذا طلبت منه شفعة الجوار اعتقدها انها ليس ثابتة او مثل من

سرچينه: تعليم الاسلام راډيو www.taleemulislam-radio.com/

(c) ketabton.com: The Digital Library

يعتقد اذاكان اخا مع جد ان الاخوه تقاسم الجد فاذا صار جدا مع اخ اعتقد ان الجد لالقاسم الاخوة... فمثل هذا ممن يكون في اعتقاده حل الشيئ وحرمته ووجوبه وسقوطه بسبب هواه هو مذموم مجروح خارج عن العدالة وقد نص احمد وغيره علي ان هذا لايجوز.([1])

ژباړه : امام احمد او نورو داخبره څرګنده کړې ده ،چې چا ته ددې خبري اجازه نسته ،چې شی دي واجب يا حرام وبولي او بيا دي دنفسي هوا په غوښتنه هغه شی نه واجب او نه حرام وبولي، دمثال په ډول کله ،چې نوموړی کس دچا څخه دشفع غوښتنه کوي نو دی دامام ابو حنيفة رحمة الله عليه مذهب اختياروي ،چې شفع دده حق دئ او که دده څخه چا دشفع غوښتنه وکړه نو دی دامام شافعي رحمة الله عليه مذهب اختياروي ،چې دشفع حق ثابت نه دئ. او يادا چې که ديو سړي ورور مړ سي او نيکه يې هم ژوندی وي نو دده دا عقيده وي يعني دهغه مذهب پيروان وي ،چې ورور د نيکه سره ميراث وړلای سي او که دی خپله نيکه وي لمسی يې مړسي نو دده دا عقيده وي يعني دهغه مذهب پيروان وي ،چې دنيکه سره ورور ميراث نه سي وړلای داسي کړنه يعني داچې دنفسي خواهشاتو په سبب ديو شي حلالوالی يا حرام والی ثابتوي او يا ديو شي دوجوب او جواز حکم کوي داسي کړنه بده ، غلطه او دعدالت څخه دباندي کړنه ده، امام احمد او داسي نورو علماوو په همدغه خبره سره تصريح کړې ده او داکار يې ناجايز ګڼلی دئ.

په بل ځای کي ليکي:

---

[1]: الفتاوى الكبري لابن تيميه رحمة الله عليه ، ج: ۲ ، ص : ۲۳۷ ، ط : دارالكتب الحديث مصر .التزام مذهب والمسائل التي يذكر فيها وجهان.

سرچينه: تعليم الاسلام راډيو www.taleemulislam-radio.com/

(c) ketabton.com: The Digital Library

يكونون في وقت يقلدون من يفسده وفي وقت يقلدون من يصححه بحسب الغرض والهوى ومثل هذا لايجوز باتفاق الائمة.

ژباړه : داسي خلک يو وخت دداسي امام تقليد کوي ،چي نکاح فاسدوي او بل وخت بيا دداسي امام تقليدکوي ،چي نکاح صحيح کوي دخپل نفسي هوا په وجه باندي داسي کړنه دټولو امامانو په آند نه ده جايزه.

څو کرښي وروسته ليکي:

ونظيرهذا ان يعتقد الرجل ثبوت شفعه الجوار اذا كان طالبا لها وعدم ثبوتها اذا كان مشتريا فان هذا لايجوز باالاجماع وكذا من صحة ولاية الفاسق في حاله نكاحه وبني علي فساد ولايته حال طلاقه لم يجز ذالک باجماع المسلمين ،ولوقال المستفتي المعين انا لم اكن اعرف ذالک وانامن اليوم التزم ذالک لم يكن ذالک لان ذالک يفتح باب التلاعب بالدين وفتح الذريعة الي ان يكون التحليل والتحريم بحسب الاهواء.(۱)

ژباړه : ددې مثال داسي دئ لکه يوسړی ،چي دشفع دعوه کوي نو دشفع پر ثبوت باندي عقيده لري خو کله ،چي بيا رانيونکی وي نو بيا دشفع دنه ثبوت عقيده لري، داکار دامت په اجماع سره حرام اوناروا دئ، همدا ډول کوم سړی ،چي دنکاح دقيام پر مهال دفاسق ولايت جايز بولي خو کله ،چي مغلظ طلاق ځني واقع سي نوبيا دفاسق ولايت بې ځايه بولي او نکاح فاسده بولي ،داکار دامت په اجماع سره حرام اوناروادئ او که کوم مستفتي ووايي ،چي دغه نوي لاره ماته پخوا معلومه نه وه اوس معلومات راته وسو زه اوس عقيده ورته لرم داخبره هم دمنلوړ نه ده ځکه په داسي کړنه سره ددې لاره خلاصيږي ،چي په

---

[1]: ايضا فتاواى ابن تيميمه ، ج : ۲ ص : ۲۸۵، ۲۸٦، فيمن تزوج امراة بولاية فاسق.

سرچينه: تعليم الاسلام راډيو www.taleemulislam-radio.com/

(c) ketabton.com: The Digital Library

دين خلک بازی وکړي او ددې ذريعه جوړه سي ،چې حلال او حرام دهوا پر بنسټ باندې صورت ونيسي.

حاصل داچې دخپل نفساني خواهشاتو پر بنسټ يو شی ته کله حلال او کله حرام ويل او يا دخپل ځاني ګټې په وجه باندې کله مذهب منل او کله نه منل لوی جرم او سخته ګناه ده آن تردې ،چې هيڅوک ورته روا او جايز کار نه وايي.

که څه هم په دې اړه زيات نصوص راغلي دي او دعلماوو څرګندوني هم په دې اړه خورا زيات دي خو موږ دلته يوازي دابن تيميه رحمۃ اللہ علیہ په ويناوو باندې بسنه وکړه ځکه کوم کسان ،چې تقليد ته جايز کار نه وايي هغه هم دابن تيميه رحمۃ اللہ علیہ علميت او لوړ منزلت پېژني، که څه هم ابن تيميه رحمۃ اللہ علیہ خپله هم شخصي تقليد نه مني مګر دا وايي ،چې څوک دخپلو خواهشاتو په وجه کله يوه مذهب ته ځي او کله بل مذهب دا کار دټول امت په اجماع سره جايز نه دئ.

څرنګه ،چې داصحابانو رضی اللہ عنہم او تابعينو په زمانه کې دالله جل جلالہ وړه زياته وه په هغه وخت کې مطلق تقليد جايز و ، ځکه په هغه وخت کې دا وړه نه وه ،چې خلک دي دخپلو ځاني خواهشاتو په وجه کله يو شی حلال وبولي او کله دي يې حرام وبولي يعني داچې کله دي ديوه مجتهد خبره ومني او کله دي دبل مجتهد خبره ومني ، په هغه وخت کې پر مطلق تقليد باندې هيڅ بنديز نه و کوم چا ،چې به مطلق تقليد کاوه هيڅا بد نه باندې ويل ، کله ،چې ددې وروستی زمانې فقهاوو وليدل ،چې دخلکو ديانت پر کمښدو دئ ، ورځ تربلې خلک دخپلو خواهشاتو تابع کېږي ، پر خلکو باندې خواهشات غالبه کېږي نو ځکه دغه فقهاوو ديوه انتظامي مصلحت په وجه باندې دا پريکړه وکړه ،چې شخصي تقليد دي لازم سي او مطلق تقليد دي پاته کړل سي يعني مطلق تقليد

سرچينه: تعليم الاسلام راډيو www.taleemulislam-radio.com/

(c) ketabton.com: The Digital Library

دي جايز نه سي كه څه هم دغه پربكړه يوه شرعي فتوا نه ده بلكي ديوه انتظامي مصلحت پربنسټ دغه پربكړه سوې ده.

دشخصي تقليد دوجوب وجهه دصحيح مسلم شارح شيخ الاسلام علامه نووي رحمة الله عليه داسي ليكلې ده:

ووجهه انه لوجاز اتباع اى مذهب شاء لافضي الي ان يلتقط رخص المذاهب متبعا هواه ويتخير بين التحليل والتحريم والوجوب والجواز وذالک يودي الي انحلال ربقه التكليف بخلاف العصر الاول فانه لم تكن المذاهب الوافية باحكام الحوادث مهذبة وعرفت فعلى هذا يلزمه ان يتجهد في اختيار مذهب يقلده علي التعين .([1])

ژباړه :دشخصي تقليد دوجوب وجه داده ،چې كه ددې اجازه وركړل سي ،چې هر سړي دي دخپلي خوښي جواب سوې مسئله رااخلي په هر مذهب كي ،چې دده دطبيعت سره سم حل سوې وي په هغه دي عمل كوي نو خلک به دخپلو نفساني هواوو تابع وګرځي ، حلالوالى ، حراموالى ، جواز او وجوب اختيار به دخلكو په لاس كي سي كوم شى ،چې په هرمذهب كي اسانه و هغه به عملي كوي اوكوم شي ، چې ګران وي هغه به نه كوي ، په لومړيو وختو كي مطلق تقليد ځكه جايز و ،چې په هغه وختو كي زيات نوي مسائلي نه وي حل سوي نو بناءً په اوس وخت كي لازمي ده ،چې هر څوک شخصي تقليد وكړي.

علامه نووي رحمة الله عليه په خپله ليكنه كي ويلي دي ،چې كه دمطلق تقليد بنكاره اجازه خلكو ته وركړل سي نو خلک به دخپل طبيعت مطابق حلال ، حلال بولي اوحرام به دخپل طبيعت مطابق حرام بولي ، دشرعي احكامو پابندي به بيخي له منځه ولاړه سي ، دلابنه روښانتيا لپاره

[1]: المجموع شرح المهذب ، للنووي رحمة الله عليه ، ج : ۱ ص : ۹۱، ط : مطبعه العاصمه قاهره ، مقدمه ، فصل في اداب المستفتي ، مسئله نمبر: ۳.

سرچينه: تعليم الاسلام راډيو www.taleemulislam-radio.com/

(c) ketabton.com: The Digital Library

ويلای سو ،چي داصحابانو رضی الله عنهم دزمانې څخه تراوسه پوري په زرهاوو علماء او مجتهدين راغلي دي دهر يوه په مذهب کي داسي اسانتياوي سته ،چي دنورو په مذهبو کي بيا نه وي، همدا ډول ټول مجتهدين داسي نه دي ،چي هيڅ غلطي ځني نه وي سوې بلکي دهر يوه په مذهب کي داسي څو مسئلې سته ،چي دامت دجمهورو علماوو له نظره خلاف وي . که دمطلق تقليد دروازه خلاصه پرېښوول سي او خلکوته اجازه ورکړل سي نو يقينا به خلک دمجتهدينو دمذهبونو څخه دخپلي خوښي مسئلې راټولي کړي او بيابه عمل په کوي نو يقينا به هغه خبره سي کومه ،چي امام نووي رحمۃ الله علیہ ورته اشاره کړې ده ، دمثال په ډول دامام شافعي رحمۃ الله علیہ پرمذهب باندي شطرنج کول جايز دي ، همدا ډول عبدالله بن جعفر ته ددې خبري نسبت کېږي ،چي دده له آنده موسيقي جايزه وه.(۱)

دحضرت قاسم رحمۃ الله علیہ څخه روايت دئ ،چي دده په آند صوري تصويره جايز دي.(۲)

امام اعمش رحمۃ الله علیہ ته ددې خبري نسبت کېږي ،چي دده پر مذهب باندي په روژه کي خوله بندول دسپېدو څخه نه بلکي دلمر ختو څخه پيليږي.(۳)

۱: انحاف السادة المتقين، للزبيدي رحمۃ الله علیہ ، ج : ۶ ، ص : ۴۵۸ ، ۴۵۸

۲: نووي شرح مسلم ،ج : ۲ ص : ۱۹۹، باب صورة الحيوان.

۳: روح المعاني للالوسي ، ج : ۲ ص : ۶۷، سورة بقرة الاية ۱۸۷ ، دعلامه الوسي رحمۃ الله علیہ څخه داسي جمله رانقل سوې ده ،چي ډېره دلچسپه ده: خالف الاعمش ولايتبعه الا الاعمي.

سرچينه: تعليم الاسلام راډيو www.taleemulislam-radio.com/

(c) ketabton.com: The Digital Library

حضرت عطاء بن ابي رباح رحمة الله عليه فرمايي: كه داختر ورځ دجمعې دورځي سره برابر سي نو په دغه ورځ باندي دماپښين لمونځ نسته او نه دجمعې لمونځ سته بلكي تر مازديګر پوري هيڅ لمونځ نسته.(۱)

دداودظاهري رحمة الله عليه او ابن حزم رحمة الله عليه څخه داسي رانقل سوي دي ،چي څوک كه دكومي ښځي سره نكاح كول غواړي نو دهغې ښځي كتل داسي جايز دي ،چي لوڅه وي.(۲)

ابن سحنون رحمة الله عليه او څه نورو علماوو ته ددې خبري نسبت كېږي ،چي ددوی له آنده دښځي سره په دبره كي وطي كول جايزدي.(۳)

حاصل داچي كه هر چا ته اجازه وركړل سي ،چي مطلق تقليد وكړي نو ډېر خلک به داسي وي ،چي دخپل نفس دپيروی په وجه به هر هغه مسئله ،چي يې خوښه سي په هغه به عمل كوي بلكي دټولو مذهبونو څخه به اسانه ، اسانه مسئلې راټولي سي يو نوی دين او مذهب به ځني جوړ سي او ددغه مذهب او دين بنسټ ايښودونكي به نفس اوشيطان وي، ددين څخه به دلوبو يو شی جوړ سي داسي كړنه دهيڅ مذهب په رښا كي جايزه نه ده لكه ،چي حضرت معمر رحمة الله عليه فرمايي:

لو ان رجلا اخذ بقول اهل المدينة في استماع الغناء واتيان النساء في ادبارهن ، وبقول اهل مكة في المتعة والصرف وبقول اهل الكوفة في المسكر شر عباد الله.(٤)

۱: تهذيب الاسماء واللغات للنووي رحمة الله عليه ، ج : ۱ ، ص : ۳۳۴.

۲: تحفة الاحوذي للمباركپوري، ج : ۲ ، ص : ۱۷۰، فتح الملهم ، ج : ۳ ص : ۴۷۶.

۳: تلخيص الحبير للحافظ ابن حجر رحمة الله عليه، ج : ۳ ، ص: ۱۸۶، ۱۸۷.

۴: تلخيص الحبير للحافظ ابن حجر رحمة الله عليه، ج : ۳ ، ص: ۱۸۷، كتاب النكاح، نمبر ۱۵۴۲، عقد الجيدو ص: ۶۲.

سرچينه: تعليم الاسلام راډيو/www.taleemulislam-radio.com

(c) ketabton.com: The Digital Library

ژباړه : که يو څوک دموسيقۍ داورېدلو او دښځو سره دلواطت اړونده دمدينې دخلکو څه خبري ومني، دمتعي اوصرف اړونده دمکې دخلکو څه خبري ومني ، دمنشياتو اړونده دکوفې دخلکو څه خبري ومني نو دغه کس به دالله جل جلاله دشريرو بندګانو څخه وي.

همدا وجه ده ،چې وروستيو فقهاوو شخصي تقليد لازمي ګرځولی دئ څو خلکو ددې لاره پيدا نه سي ،چې حلال او حرام دخپلو طبيعتونو سره برابر وټاکي.

علامه عبدالرؤف مناري رحمه الله عليه په دې اړه خورا تفصيلي بحث کړی دئ نوموړی عالم ددغه مسئلې اړونده ابن الهمام رحمه الله عليه قول رانقل کړی دئ اوليکلي يې دي:

والغالب ان مثل هذا التزامات لكف الناس عن تتبع الرخص ([1])

ژباړه : غالبه داده ،چې دغه التزامات له دې امله دي ،چې خلک دنفسي غوښتنو پر بنسټ داسانيو دلټولو څخه منع کړل سي.

علامه ابواسحاق شاطبي رحمه الله عليه په خپل کتاب الموافقات کي په دې اړه تفصيل واړه بحث کړی دئ اوويلي يې دي:

دبېلابيلو مذاهبو څخه اسانه شيان راجمع کول او بيا عمل په کول سخت ناروا دئ.

نوموړي عالم پر دغه موضوع باندي خورا زيات دلايل ويلي دي په لړ کي يې دمالکي مذهب ديوه مشهور عالم مازري رحمه الله عليه پېښه رانقل کړې ده ،چې دده مبارک څخه پر يوه غير مشهور قول باندي دفتوا غوښتنه وسوه ده نه ومنل او په جواب کي يې وويل:

---

[1]: فيض القدير ، شرح جامع الصغير للمناوي رحمه الله عليه ، ج : ۱ ص : ۲۱۱

سرچينه: تعليم الاسلام راډيو www.taleemulislam-radio.com/

(c) ketabton.com: The Digital Library

ولست ممن يحمل الناس علي غير المعروف المشهور من مذهب مالك رحمه الله عليه واصحابه لان الورع قل ،بل كاد يعدم والتحفظ علي الديانات كذالک وكثرت الشهوات وكثر من يدعي العلم ويتجاسر علي الفتوي فيه فلو فتح لهم باب في مخالفت المذهب لاتسع الخرق علي الراقع، وهتكوا حجاب هيبة المذهب وهذا من المفسدات التي لاخفاء بها.(۱)

ژباړه: زه دهغو خلکو څخه نه يم ،چي خلک دې ته اماده کړم ،چي دامام مالک رحمه الله عليه او دده دملګرو په غير مشهورو اقوالو باندي عمل وکړي ځکه اوس خلک په تقوا کي کم راغلي دي بلکي تقوا ببخي له منځه تللې ده ، ددينداري دساتني احساس کم سوی دئ ، دخلکو نفساني خواهشات زيات سوي دي ،دعلم دعوه کونکي زيات سوي دي ،په معاملاتوکي په فتوا وركول کي تېز او دلاوره دي، له همدې امله که دمالکي مذهب څخه دمخالفت دروازه خلاصه سي نو داصلاح تر هڅې به فساد ډېر سي ، دمذهب دويري (دبدبې) ،چي کومه پرده غورېدلې ده هغه به څيري سي ، دايو داسي فساد دئ ،چي دخلکو څخه هيڅ پټ نه دئ او نه څوک ځني منکر کېدای سي.

علامه شاطبي رحمه الله عليه زياتوي:

فانظر كيف لم يستجز وهو المتفق علي امامته الفتوي بغير مشهور المذهب ، ولابغير مايعرف منه بناء علي قاعدة مصلحية ضرورية ، اذ قل الورع والديانة من كثير ممن ينتصب لبث العلم والفتوي ،كما تقدم تمثيله فلو فتح لهم هذا الباب لانحلت عري المذهب بل جميع المذاهب.(۲)

۱: **الموافقات للشاطبي ، ج : ۴ ، ص : ۱۴۶، كتاب الاجتهاد**

۲: **الموافقات للشاطبي ، ج : ۴ ، ص : ۱۴۶، ۱۴۷، كتاب الاجتهاد ، الطرف الاول ، مسئله : ۳ ، فصل : ۵**

سرچينه: تعليم الاسلام راډيو/www.taleemulislam-radio.com

(c) ketabton.com: The Digital Library

ژباړه : تاسووګورئ ! علامه مازري رحمة الله عليه څنګه دمالکي مذهب په غيرمشهورو اقوالو باندي فتوا غلطه وبلل، دده مبارک دغه وينا دمصلحت اوضرورت دقاعدې پر بنسټ بنا ده ځکه دډېرو هغو خلکو څخه تقوا او ديانت کم سوی دئ ،چې دعلم او فتوا په نشر اوخپراوي کي بوخت دي ، لکه مخکي ،چې يې مثالونه تېر سوه ، که دوی ته دمالکي مذهب دباندي اجازه ورکړل سي نو نه يوازي مالکي مذهب بلکي ټول مذهبونه به له منځه ولاړسي.

ابن خلدون رحمة الله عليه دشخصي تقليد دسببونو په اړه داسي ليکلي دي:

ووقف التقليد في الامصارعند هؤلاء الاربعة ودرس المقلدون لمن سواهم وسد الناس باب الخلاف وطرقه لما كثر تشعب الاصطلاحات في العلوم ولما عاق عن الوصول الي رتبة الاجتهاد ولماخشي من اسناد ذالک الي غير اهله ومن لايوثق برايه ولابدينه فصرحوا بالعجز والاعواذ وردوا الناس الي تقليد هؤلاء كل من اختص به من المقلدين وخطروا ان يتداول تقليدهم لما فيه من التلاعب .([1])

ژباړه: په ټولوښارونو کي دځلورو امامانو تقليد حصرکړل سوی دئ دنورواامامانو تقليدله منځه تللی دئ ، خلکو دځلورو امامانو سره داختلافاتودروازه بنده کړې ده يو لامل يې دادئ ،چې دعلومو اصطلاحات په لاس راوړل خورا پېچل سوي دي او داجتهاد تر بريده رسېدل ګران کار جوړ سوی دئ، بل لامل يې دادئ ،چې که داجتهاد لاره خلاصه سي نو دنااهله خلکو په لاس به اجتهاد ورسي ، که داسي وسي نو داسي خلک به داجتهاد څخه ګټه پورته کړي ،چې دهغوی رايه او نظر داعتماد وړ نه وي همدا لامل و ،چې علماوو داجتهاد څخه عجز

[1]: مقدمة ابن خلدون رحمة الله عليه ، ص: ۴۴۸، ط : مكتبة تجاريه كبر مصر، كتاب : ۱ ، باب : ۹، فصل : ۷.

سرچينه: تعليم الاسلام راډيو www.taleemulislam-radio.com/

(c) ketabton.com: The Digital Library

اعلان کړ، او خلک يې دځلورو امامانو شخصي تقليد ته را وبلل او دا يې هم خلکو ته وښوول ،چې دوی دي مذهبونه بدلول او رابدلول نه کوي يعني داچې کله يو مذهب انتخابوي او کله دي بل مذهب انتخابوي داسي دي نه کوي ځکه که داسي کړنه جايز سي نو په دين به دبازيو کولو سبب جوړ سي ، حاصل داچې داصحابانو رضي الله عنهم په زمانه کي شفافيت او صفوف زيات و په هغه وخت کي مطلق تقليد کېدئ ځکه ددوی سره درسول الله صلى الله عليه وسلم دملګرتيا فيوضات وه او ددوی نفسونه بېخي مغلوب وه په ځانګړي ډول په شرعي احکامو کي پر دوی باندي بېخي ددې وېره نه وه ،چې دوی دي دخواهشاتو پيروي وکړي ، همداوجه وه ،چې په هغه وخت کي شخصي او مطلق دواړه تقليدونه جايز وه ځکه په هغه کي دنفسي خواهشاتو دپيروۍ وېره نه وه ، وروسته ،چې دغه وېره پيداسوه نو تقليد يوازي په شخصي تقليد کي منحصر سو.

حقيقت دادئ ،چې که داسي نه وای سوي يعني يوازي دشخصي تقليد دلزوم پربېکړه نه وای سوې نو شرعي احکام به پر بې ساري ډولو باندي څرګند سوی وای په دين کي به داسي تفرق رامنځته سوی وای ،چې حل به يې بيا ناشونی وای.

حضرت شاه ولي الله رحمة الله عليه ليکي:

واعلم ان الناس كانوا في المائة الاولى والثانية غير مجتمعين علي التقليد لمذهب واحد بعينه وبعد المائتين ظهر فيهم التذهب للمجتهدين باعيانهم وقل من كان لايعتمد علي مذهب بعينه وكان هذا هو الواجب في ذالک الزمان .([1])

[1]: الانصاف في بيان سبب الاختلاف ، ص : ۵۷ تر ۵۹، باب : ۴ ، ط: مجتبائي ، كال : ۱۹۳۵، اردو ترجمه والا.

سرچينه: تعليم الاسلام راډيو www.taleemulislam-radio.com/

(c) ketabton.com: The Digital Library

ژباړه : پوه سئ! په لومړۍ اودوهمه پيړۍ کي خلک پر يوه مذهب باندي راغونډ نه وه تر دوو پيړيو وروسته دټاکلي مجتهد دتقليد رواج پيل سو تر داسي بريده ،چي ډېرکم خلک داسي پيدا کېدل ،چي ديوه مذهب تقليد به يې نه کاوه.

ځينو خلکوته داسوال پيداکېږي ،چي کوم شی داصحابانو رضي الله عنهم په زمانه کي لازمي نه و اوس نوولي لازمي سي په دې اړه ده مبارک قناعت بخشه جواب ويلی دئ اوفرمايلي يې دي:

قلت الجواب الاصلي هو ان يكون في الامة من يعرف الاحكام الفرعية من ادلتها التفصيلية ، اجمع علي ذالک اهل الحق ومقدمة الواجب واجبة ، فاذا كان للواجب طرق متعددة وجب تحصيل طريق من تلک الطرق من غير تعين ،واذا تعين له طريق واحد وجب ذالک الطريق بخصوصه ... وكان السلف لايكتبون الحديث ثم صار يومنا هذا كتابة الحديث واجبة لان رواية الحديث لاسبيل لها اليوم الامعرفة هذه الكتاب وكان السلف لايشتغلون بالنحو واللغة وكان لسانهم عربيا لايحتاجون الي هذه الفنون ثم صاريومناهذا معرفة اللغة العربية واجبة لبعد العهد عن العرب الاول وشواهد ما نحن فيه كثيرة جدا وعلي هذا ينبغي ان يقاس وجوب التقليد لامام بعينه فانه قد يكون واجبا وقد لايكون واجبا.

ژباړه: ددغه پوښتنې په جواب کي وايم ،چي په حقيقت کي خو بايد په امت کي داسي وي ،چي شرعي احکام ددلايلو سره په تفصيلي ډول پېژني څو خلک مسائلي ځني زده کړي اوبيا عمل په وکړي ، پردې خبره باندي دټول امت اجماع ده البته دواجب لپاره مقدمه هم واجب دي يعني داچي که دواجب دادا لپاره ډيري لاري وي نو ديوې لاري په انتخاب سره دواجب غوښتنه پوره کېږي او که دواجب ادا لپاره يوه لاره وي نو دهمدې لاري لاسته راوړل هم واجب دي دمثال په ډول زمونږ اسلافو احاديث نه ليکل خو زمونږ په زمانه کي داحاديثو ليکل واجب دي ځکه ددې پرته بله لاره نه پاته او نه درواىت لپاره بل مرجع کېدای سي

سرچينه: تعليم الاسلام راډيو www.taleemulislam-radio.com/

(c) ketabton.com: The Digital Library

همدا ډول زمونږ اسلاف په صرف ، نحو او دلغتو په علوموبوخت نه وه ځکه عربي ژبه دهغو مورنۍ ژبه وه ، دوی صرف ، نحو او داسي نورو علومو ته اړتيا نه درلوده مګراوس دعربي ژبي زده کړه واجب ګرځېدلې ده مګر مونږ داسي نه يو ځکه مونږ دعربو څخه ډېر ليرې يو حتما پورتنيو فنونو ته اړتيا لرو.

ددې څخه دا معلومه سوه ،چې دزمانې تغير او بدلون په وجوباتو کې هم بدلون راوستای يعني داچې يو شی په يوه زمانه کې واجب نه وي وروسته بيا واجب سي لکه پورته ،چې يې مثالونه ذکر سول ددغه جملې څخه شخصي تقليد هم دئ ،چې په تېره زمانه کې واجب نه و او اوس واجب ګرځېدلی دئ

شاه ولي الله رحمۃ اللہ علیہ ليکي:

فاذا كان انسان جاهل في بلاد الهند وماوراء النهر وليس هناک عالم شافعي ولامالكي ولاحنبلي ولا كتاب من كتب هذه المذاهب وجب عليه ان يقلد لمذهب ابي حنيفة رحمۃ اللہ علیہ ويحرم عليه ان يخرج من مذهبه لانه حينئذ يخلع من عنقه ربقه الشريعة ويبقي سدى مهملا، بخلاف ما اذا كان في الحرمين.([1])

ژباړه : ک،چيري کوم ناپوه کس په هندوستان او يا ماوراء النهر کې وي او هلته نه شافعي ، نه مالکي او نه حنبلي عالم وي ، نه ددغه مذهبونو څخه کوم کتاب وي پر نومورې کس باندې دامام ابوحنيفة رحمۃ اللہ علیہ تقليد واجب دئ ، همدا ډول ددې مبارک مذهب څخه وتل ورته حرام دي ځکه په دغه حالت کې نومورې کس دشريعت دپابندۍ څخه بېخي ازادېږي او که په حرم شريف کې و بيا نو هر مذهب ،چې يې خوښ وي هغه انتخابولای سي.

[1]: الانصاف ، ص : ٦٩ تر ٧١ .

سرچينه: تعليم الاسلام راډيو www.taleemulislam-radio.com/

(c) ketabton.com: The Digital Library

ددې وروستۍ زمانې علماوو ،چې دشخصي تقليد په مټ دکومو لويو ګناهونو مخه نيولې ده شاه ولي الله رحمة الله عليه اشاره ورته کړې ده او ليکلي يې دي:

وبالجملة فالمتذهب للمجتهدين سر الهمه الله تعالي العلماء وجمعهم عليه من حيث يشعرون او لايشعرون.(۱)

ژباړه : خلاصه داچې مذهب انتخابول داسي يو پټ سر دئ ،چې الله جل جلاله دعلماوو په زړونو کي واچوئ او دوی يې په شعوري او غيرشعوري توګه باندي متفق کړل.

په بل ځای کي شاه ولي الله رحمة الله عليه ليکي :

ان هذه المذاهب الاربعة المدونة المحررة قد اجتمعت الامة او من يعتد به منها علي جواز تقليدها الي يومنا هذا وفي ذالک من المصالح ما لايخفي لاسيما في هذه الايام التي قصرت فيها الهمم جدا واشربت النفوس الهوي واعجب کل ذي راي برايه.(۲)

ژباړه : بېشکه دغه څلورمذهبونه ،چې تدوين سوې دي او په ليکلي ډول پاته دي ، ددغه مذهبونود تقليد پرجواز باندي دټول امت اجماع ده، په دغه کار کي ،چې کومي ځانګړتيا وي سته ېښي ښکاره دي په ځانګړې توګه زمونږ په زمانه کي ،چې همتونه ټيټ سوي دي او خواهشت پرستۍ دخلکو په رګونو باندي ننوتلي دي کوم کسان ،چې نظر لري هغه هريو پر خپل نظر باندي پرېکړه کوي.

دشخصي تقليد دلزوم يو څرګند مثال

۱: الانصاف ، ص : ۶۴

۲: حجة الله البالغة ، ج : ۱ ص : ۵۴. باب حكاية اهل الناس قبل المائة الرابعة وبعدها.

سرچينه: تعليم الاسلام راډيو www.taleemulislam-radio.com/

(c) ketabton.com: The Digital Library

حضرت شاه ولي الله رحمة الله عليه فرمايلي دي:
په لومړيو پيړيو کي خلک ديوه تاکلي مجتهد پر تقليد باندي راجمع نه وه وروسته بيا دشخصي تقليد پر کولو باندي متفق سوه او شخصي تقليد واجب وګرځېدئ ، يو ښکاره مثال يې دحضرت عثمان رضي الله عنه په زمانه کي دقرآن راجمع کېدل دي، دابن جرير رحمة الله عليه او نورومشهور نظرونو مطابق حضرت عثمان رضي الله عنه داوو حروفو څخه شپږ حروف له منځه يو وړل يوازي دقريشو حرف يې پرېښودئ نور ټول حروف يې وسوځل ، تاسو وګورئ درسالت په زمانه کي ، حضرت ابوبکر رضي الله عنه دخلافت په زمانه کي اودحضرت عمر رضي الله عنه په خلافت کي دپورتني کار اجازه نه وه بلکي داوو قرئتونو څخه ،چې به هر چا غوښتي هغه به يې لوستلای سوای خو کله ،چې حضرت عثمان رضي الله عنه پوه سو ،چې که دغه اختلاف پاته سي نو ددغه اختلاف څخه به فتنه جوړه سي نوځکه يې ددې اقدام وکړ او هغه شپږ حروف يې له منځه يووړل او يو دقريشو حرف يې پرېښودئ او پرهمدې حرف باندي يې تلاوت لازم وګرځاوه.
حافظ ابن جرير طبري رحمة الله عليه دپورتنۍ خبري لامل داسي بيانوي:
فكذالک الامة امرت بحفظ القرآن وقرائته وخيرت في قرائته باى الاحرف السبعة شاءت قرئت ، لعله من العلل اوجبت عليها الثبات علي حرف واحد قرائته بحرف واحد ، ورفض القرائت بالاحرف الستة الباقية.([1])
ژباړه : همدا ډول ټول امت ته امر کړل سوی و څو دقرآن حفظ وکړي او تلاوت يې وکړي خوپه دې لاره کي اختيار ورکړل سوی و ،چې داوو حروفو څخه يې هر حرف خوښ وي پر هم هغه طريقه دي يې وايي خو

[1]: تفسير ابن جرير طبري رحمة الله عليه ج : ۱ ص : ۱۹

سرچينه: تعليم الاسلام راډيو/www.taleemulislam-radio.com

(c) ketabton.com: The Digital Library

دځينو لاملونو په وجه پر امت باندې لازمه کړل سوه څو پريوه حرف باندې تلاوت وکړي او پاته شپږ حروف پريږدي.

داسي پوښتنه حتما پيدا کيږي ،چې درسول الله ﷺ په زمانه کي اوه واړه حرفونه ويل جايز وه وروسته ناجايز سوه يوازي يوه طريقه جايز سوه نو کوم شی ،چې درسول الله ﷺ په زمانه کي جايز و هغه شی نو ولي وروسته ناجايز وګرځېدئ؟

ددغه سوال په جواب کي ابن جرير طبري رحمه الله ليکي:

امت په لومړيو کي داوو واړو حروفو اجازه ورکړل سوې وه ،چې تلاوت باندې وکړي خو دغه کار پردوی باندې واجب يا فرض نه و، وروسته امت په دې کي مصلحت وليدئ ،چې يوازي يوه حرف پاته او نور له منځه ولاړ سي نو همداسي يې وکړل هغه يو حرف يې پرېښودئ او نور يې له منځه يو وړل.

ابن جرير طبري رحمه الله زياتوي:

كان الواجب عليهم من الفعل مافعلوا اذاكان الذي فعلوا من ذالک كان هو النظر للاسلام واهله فكان القيام بفعل الواجب عليهم بهم اولي من فعل مالو فعلوه كانوا الي الجناية الي الاسلام واهله اقرب منهم الي السلامة من ذالک.([1])

ژباړه :کوم کار ،چې ددوی مبارکانو دنده وه هغه کار دوی ترسره کړ،کوم کار،چې دوی ترسره کړی دئ يعني داوو حروفو څخه يې يو پرې ايښی دئ او نور يې له منځه وړي ددوی مبارکانو دغه کار داسلام او مسلمانانو لپاره زيات ګټمن دئ تر هغه ،چې دا کار يې نه وای ترسره کړی دهغه فتنه به داسلام او مسلمانانو لپاره زياته وای.

[1]: تفسير ابن جرير ، ج : ۱ ، ص : ۲۲ ، مقدمة.

سرچينه: تعليم الاسلام راډيو www.taleemulislam-radio.com/

(c) ketabton.com: The Digital Library

پورته بحث ،چې ذکر سو دا دابن جرير رحمه الله دنظر سره برابر و خو ددې نظر پرته دحضرت عثمان رضي الله عنه دکړني ،چې داوو حرفونو څخه يې يو پرېښودئ په اړه بل نظر هم سته ،چې امام مالک رحمه الله ، علامه ابن قتيبة رحمه الله ، ابوالفضل الرازي رحمه الله ، علامه ابن الجزري رحمه الله او داسي نورو لوړو علماوو غوره کړی دئ . دغه علماء وايي ،چې حضرت عثمان رضي الله عنه نور شپږ حروف لمنځه نه دي وړي بلکي هغه حروف اوس هم په تواتر سره سته ، لوستل کېږي او محفوظ دي دحضرت عثمان رضي الله عنه يوازنی کار داو ،چې يو دقرآنکريم اړونده ده يو ټاکلی رسم الخط وټاکی.(۱)

دغه دوهم نظر ته زياتو علماوو رجحان ورکړی دئ په هر صورت که دغه نظر ومنل سي نو داهم دشخصي تقليد لپاره يو ښه مثال دئ ځکه ،چې دحضرت عثمان رضي الله عنه تر دغه کار وړاندي قرآنکريم په ډول ، ډول رسم الخطونو باندي ليکل کېدئ او ترتيب يې هم بېل ،بېل و ده مبارک دخاص مصحلت پر بنسټ دټولو رسم الخطونو څخه يو خاص رسم الخط وټاکی ، خاص ترتيب يې ورکړ، دنورو رسم الخطونو جواز يې له منځه يو وړئ او وې سوځل ، يوازي ټاکلی رسم الخط يې پرېښووئ.(۲)

په هر صورت کي که حضرت عثمان رضي الله عنه نور حروف لمنځه وړي وي يو يې پرې ايښي وي ، که يې خاص رسم الخط ټاکلی وي په دواړو صورتو

۱: ددغه نظر دپوره تفصيل لپاره وګورئ : غرائب للنيشاپوري رحمه الله بهامش ابن جرير ، ج : ۱ ص : ۲۱ ، فتح الباري ، ج : ۹ ، ص : ۲۵، ۲۶. ط : بهيه

۲: ددغه موضوع دپوره تحقيق لپاره دي دشيخ الاسلام محمد تقي صاحب علوم القران کتاب وکتل سي.

سرچينه: تعليم الاسلام راډيو www.taleemulislam-radio.com/

(c) ketabton.com: The Digital Library

کي دتقليد لپاره مثال دئ او دا حال په کټ مټ ډول مخته راغلی دئ ځکه داصحابانو رضی الله عنهم اوتابعينو په زمانه کي شخصي تقليد واجب نه و ، وروسته علماوو ديوه خاص مصلحت پربنسټ باندي شخصي تقليد لازم وګرځاوه همدا وجه ده ،چي دغه کار ته بدعت نه ويل کېږي ځکه دحضرت عثمان رضی الله عنه پورتنی کړنه دتقليد دجواز لپاره ښه دليل دئ.

که ،چيري امت ته ديوې ځانګړي موخي لپاره څو لاري ورکړل سوي وي نو دوی دهغو لارو څخه يوه لاره وټاکي دخپلي زمانې داصلاحاتو په نظر کي نيولو سره او دفساد دله منځه وړلو لپاره دا کار کولای سي ،چي يوه لاره وټاکي او نوري پريږدي، دشخصي تقليد اړونده په دې لړ کي نور څه نه دي سوي.

دځلور مذهبونو تخصيص

کله ،چي دشخصي تقليد حقيقت او اړتيا څرګنده سوه نو يو بل سوال پيدا کېږي هغه داچي شخصي تقليد لازم سوه نو بيا ولي دځلورو خاصو امامانو تخصيص وسو؟ ،چي خامخا به ددغه څلورو مذهبونو تقليد کېږي دبل مذهب تقليد جايز نه دئ حال داچي نور وتلي علماء هم سته لکه سفيان ثوري رحمة الله عليه ، امام اوزاعي رحمة الله عليه ، عبدالله بن مبارک رحمة الله عليه ، اسحاق بن راهوية رحمة الله عليه ، امام بخاري رحمة الله عليه ، ابن ابي ليلي رحمة الله عليه ، ابن شبرمة رحمة الله عليه ، حسن بن صالح رحمة الله عليه او داسي نور ډېر علماء او مجتهدين وه دهغو تقليد ولي نه کېږي ،چي ددغه څلورو خاصو امامانو تقليد کېږي؟ ددغه پوښتني جواب دادئ ،چي دپورتنيو علماوو ،چي نومونه يې دئينو وليکل سوه او دئينو نومونه، نه دي ليکل سوي دنه تقليد لامل يې مجبوريت دئ ځکه ددوی مبارکانو

سرچينه: تعليم الاسلام راډيو www.taleemulislam-radio.com/

(c) ketabton.com: The Digital Library

مذهبونه په مدون او ليکلي ډول نه دي ساتل سوي ، که ددوی مذهبونه په مدون شکل باندي پاته وای نو يقيني خبره ده ،چي ددوی تقليد به هم داسي کېدای لکه ددغه څلور مذهبونو تقليد ،چي کېږي ، وجه يې هم داده ،چي ددغه علماوو نه کتابونه په مدون شکل پاته دي او نه يې دمذهب علماء سته نو ځکه ددوی دتقليد لپاره هيڅ لاره نه ده پاته.

مشهور محدث علامه عبدالرؤف مناري رحمۃ اللہ علیہ دامام ذهبي رحمۃ اللہ علیہ څخه داسي نقل کړی دئ:

ويجب علينا ان نعتقد ان الائمة الاربعة والسفيانين والاوزاعي وداود الظاهري واسحاق بن راهوية وسائر الائمة علي هدى ...وعلي غير المجتهد ان يقلدمذهبا معينا...لكن لايجوز تقليد الصحابة وكذا التابعين كما قاله امام الحرمين من كل من لم يدون مذهبه فيمتنع تقليده غير الاربعة في القضاء والافتاء لان المذاهب الاربعة انتشرت وتحررت حتي ظهر تقييد مطلقها وتخصيص عامها بخلاف غيرهم لانقراض اتباعهم وقد نقل الامام الرازي رحمۃ اللہ علیہ اجماع المحققين علي منع العوام من تقليد اعيان الصحابة واكابرهم.([1])

ژباړه : پر مورډ باندي لازمه ده ،چي داسي عقيده ولرو ،چي څلور ګوني امامان ، سفيان ثوري ، سفيان بن عينه ، امام اوزاعي ، داود ظاهري اسحاق بن راهوية او نور ټول امامان پر هدايت باندي دي ...کوم کس ،چي خپله مجتهد نه وي پر هغه کس باندي واجبه ده ،چي ديوه خاص امام تقليد وکړي ...البته دحرمينو دامام په آند دهغه اصحابانو ، تابعينو او امامانو ،چي مذهب يې مدون نه وي تقليد يې نه دئ جايز ، دڅلورو امامانو ماسوا دبل چا پر قول باندي په قضا او افتاء کي پربکړه کول جايز نه دي ځکه څلور ګوني مذاهب خپاره سوي ، ليکل سوي دي ،

[1]: فيض القدير ، شرح الجامع الصغير للمناوي رحمۃ اللہ علیہ ج : ۱، ص : ۲۱۰، حديث اختلاف امتي رحمة

سرچينه: تعليم الاسلام راډيو www.taleemulislam-radio.com/

(c) ketabton.com: The Digital Library

دعامو الفاظو تخصيصات او دمطلق الفاظ قيود يې څرګند سوي دي او دنورو مذهبونو پيروان له منځه تللي دي ، امام رازي رحمه الله پر دې خبره باندي دامت اجماع رانقل کړې ده ،چې عوام خلک دي داصحابانو او نورومخورو اکابرينو دتقليد څخه منع سي.

پورتني خبره علامه نووي رحمه الله داسي رانقل کړې ده:

وليس له المتذهب بمذهب احد من ائمة الصحابة رضي الله عنهم وغيرهم من الاولين وان كانوا اعلم واعلي درجة من بعدهم لانهم لم يتفرغوا لتدوين العلم وضبط اصوله وفروعه فليس لاحد منهم مذهب مهذب محرر مقرر وانما قام بذالک من جاء بعدهم من الائمة الناحلين لمذاهب الصحابة والتابعين القائمين بتمهيد احكام الوقائع قبل وقوعها الناهضين بايضاح اصولها وفروعها كمالک رحمه الله وابي حنيفة رحمه الله([1])

ژباړه : اصحابان رضي الله عنهم او دلومړي پيړۍ وتلي او مخور علماء که څه هم دعلم او مرتبې له اړخه تر وروستيو علماوو لوړ دي مګر دوی ته ددې زمنه نه ده برابره سوې ،چې دوی دي خپل علم تدوين کړي ، داصولو او فروعو مسائلي دي ضبط کړي همدا لامل دئ ،چې هيڅوا ته ددې اجازه نسته ،چې په دوی کي دي ديوه تقليد وکړي ځکه په دوی کي يو هم داسي کس نه دئ پيدا سوی ،چې ليکلی او ټاکلی مذهب دي ولري پر همدې بنسټ باندي دفقه شريفي تدوين وروستيو علماوو ته پاته سوی دئ داسي امامان ،چې داصحابانو رضي الله عنهم او تابعينو مذاهب يې دګل،چين په ځير راټول کړل او داسي مسائل او احکام يې وضع کړل ،چې لاپښې سوي نه وه ، دوی مبارکانو خپل مذاهب ، اصول او فروع څرګند او تدوين کړل لکه امام مالک رحمه الله او امام ابو حنيفة رحمه الله.

[1]: المجموع شرح المذهب للنووي رحمه الله ج : ۱ ص : ۹۱ ، فصل في اداب المستفتي.

سرچينه: تعليم الاسلام راډيو www.taleemulislam-radio.com/

(c) ketabton.com: The Digital Library

که څه هم پردې موضوع باندې دډېرو علماوو اقوال سته مګر موږ دلته یوازې دلنډوالي او اختصار په وجه ددووعلماوو ویناوي رانقلوو ځکه دغه علماء دعلم او دیانت په اعتبار سره تر نورو لوړ مقام لري نوموړي دوه علماءیو ابن تیمیه رحمۃ اللہ علیہ دئ او بل شاه ولي الله محدث دهلوي رحمۃ اللہ علیہ دئ.

علامه ابن تیمیة رحمۃ اللہ علیہ په خپله فتاوا کي لیکي:

وليس في الكتب والسنة فرق في الائمة المجتهدين بين شخص وشخص فمالک والليث بن سعد والاوزاعي والثوري هؤلاء ائمة في زمانهم وتقليد كل منهم كتقليد الاخر لايقول مسلم انه يجوز تقليد هذا دون هذا ولكن من منع من تقليد احد هؤلاء في زماننا فانما يمنعه لاحد شيئين احدهما اعتقاده انه لم يبق من يعرف مذاهبهم وتقليد الميت فيه خلاف مشهور فمن منعه قال هؤلاء موتى ومن سوغه قال لابد ان يكون في الاحياء من يعرف قول الميت الثاني ان يقول الاجماع اليوم قد انعقد علي خلاف هذا القول ... واما اذا كان القول الذي يقول به هؤلاء الائمة او غيرهم قد قال به بعض علماء الباقية مذاهبهم فلاريب انه قوله مؤيد بموافقة هؤلاء ويعتضد به.([1])

ژباړه: دقرآن او حدیث په اعتبار سره دمجتهدینو اوامامانو ترمنځ کوم توپیر نسته .امام مالک رحمۃ اللہ علیہ ، سفیان الثوري رحمۃ اللہ علیہ اوزاعي رحمۃ اللہ علیہ لیث بن سعد رحمۃ اللہ علیہ دغه ټول دخپلي زمانې امامان وه داسي يې تقليد کړي لکه دنورو ،چې تقليد کړي هیڅ مسلمان داسي نه سي ویلای ،چې په دغه امامانو کي دیوه امام تقليد جايز نه دئ او دبل امام تقليد جايز دئ البته دکوموامامانو تقليد ،چې منعه کړل سوی دئ ددوو وجوهاتو له امله سوی دئ:

[1]: الفتاوى الكبري لابن تيمية رحمۃ اللہ علیہ ، ج : ۲ ص : ۴۴۶، فيمن صلي خلف الصف منفردا.

سرچینه: تعلیم الاسلام راډیو www.taleemulislam-radio.com/

(c) ketabton.com: The Digital Library

لومړی داچي ،چي دهغو امامانو پيروان پاته سوي نه دي ، داسي څوک نسته ،چي دهغو امامانو دمذهبونو په اړه دي ورته پوره معلومات وي ، اودوفات سوي په تقليد کي دعلماوو خپل منځی اختلاف خورا مشهور دئ ، څوک دوفات سوي امام تقليد جايز نه بولي او څوک ،چي يې جايز بولي هغه وايي حتما به په ژوندو کي داسي څوک وي ،چي دوفات سوي عالم په اقوالو پوره علم لري. داچي دچا دمذهب په اړه پوره معلومات نه وي نو دداسي چا نو څنګه تقليد وسي، دکومو امامانو مذهبونو ته ،چي زياته توجه سوې ده که څه هم دغه امامان وفات سوي دي يعني ژوندي نه دي خو تر دوی وروسته علماء يې دمذهب په اړه پوه او ژور معلومات لري او پيروان يې هم پاته دي له همدې امله ددوی تقليد لازمي دئ.

دوهمه وجه دهغو علماوو دمذهبونو دنه پاتېدو داده ،چي دامت اجماع ددوی دقول خلاف واقع سوي ده .کومه خبره ،چي دهغه علماوو څخه پاته وي ،چي ددې مجتهدينو دقول سره برابر وي نو دشک پرته دوروستيو علماوو وينا دهغه پخوانيو علماوو دوينا تائيد کوي.

يو بل مخور او ستر عالم شاه ولي الله محدث دهلوي رحمه الله عليه په خپل کتاب عقد الجيد کي په دې اړه خورا تفصيلي بحث کړی دئ او ددغه موضوع لپاره يې ېبل باب ټاکلی دئ او دهغه باب نوم دئ: (باب تاکيد الاخذ بهذه المذاهب الاربعة والتشديد في ترکها والخروج عنها) ددغه باب پيل په لاندي الفاظو سوی دئ:

سرچينه: تعليم الاسلام راډيو www.taleemulislam-radio.com/

(c) ketabton.com: The Digital Library

اعلم ان في الاخذ بهذه المذاهب الاربعة مصلحة عظيمة وفي الاعراض عنها كلها مفسدة كبيرة ونحن نبين ذالک بوجوه ...الخ (۱)

ژباړه : پوه سئ! دځلور ګونو مذهبونو په غوروالي کي لوی مصلحت پروت دئ ،چي مخ ځني اړول ډېر لوی فساد منځته راوړي او دا موږ په څو وجوهاتو بيانوو :

ترپورتنۍ خبري وروسته شاه صاحب رحمة الله عليه ياد وجوهات په پوره تفصيل سره بيان کړي ، ددغه ټولو وجوهاتو دلته دعربي متن سره بيانول خورا اوږ کار دئ ځکه اوږدوالی منځته راوړي موږ يې دلته يوازي خلاصه بيانوو :

۱ : په شريعت دپوهاوي لپاره داسلافو پر ويناووباندي اعتمادکول دټول امت په اجماع لازمي دئ ،مګردايوه خبره لازمي ده هغه داچي هغه وخت ددوی مبارکانوپر ويناوو باندي اعتماد کېدای سي ،چي دغه ويناوي په صحيح سند ترموږپوري راسېدلي وي اويا په صحيح ډول تدوين سوي وي ، داهم لازمي ده ،چي وروستيوعلماوو ددوی پرويناووباندي شروحي کړي وي ، ددوی ويناوي يې څرګندي کړي وي او که ددوی يو نظر دځو معناوو احتمال لري نو يوه خاصه معنايې ځني ټاکلې وي اوتر بحث کولو وروسته يې راجح کول ځني معلوم کړی وي ، همدا ډول کله داسي وي ،چي ديوه مجتهد قول عام وي مګر دده دغه قول څخه کوم خاص صورت مراد دا وي ،چي يوازي هغه علماء په پوهيږي ،چي په دنوموړي مجتهد په مذهب کي برلاسی او معلومات ولري ، دا هم لازمي ده ،چي ددغه مذهب علماء به داسي صورتونه

۱: عقد الجيد في احكام الاجتهاد والتقليد ، ص : ۳۱ ، ط : مجتبائي،ډهلی دمولانا محمد حسن نانوتوي رحمة الله عليه ، داردو ترجمې سره.

سرچينه: تعليم الاسلام راډيو www.taleemulislam-radio.com/

(c) ketabton.com: The Digital Library

واضح کړي او ټاکلي وي او دداسي مسائلو علتونه به يې څرګند کړي ، په کوم مذهب کي ،چي داشرطونه موجود وي يعني دغه کارونه ورته سوي دهغه مذهب تقليد کېدای سي او که پورتني کارونه ،نه وي ورته سوي دهغه مذهب تقليد نه سي کېدای ، موږ ،چي ا وس وګورو نودځلورمشهورو مذهبونو پرته دبل مذهب لپاره پورته کارونه ، نه دي سوي ، يوازي زيديه او امامية ډلي ددې څخه مستثني دي ځکه هغوی بدعتيان (روافض) دي دهغوی تقليد کول او يا يې پر ويناووباندي اعتمادکول جايز نه دئ.

۲: شاه ولي الله رحمة الله عليه دځلورګونو مذهبونو دتقليد دوهمه وجه داسي بيان کړي ده:

رسول الله ﷺ فرمايي:

اتبعواالسواد الاعظم.

ژباړه : تاسو دسواد اعظم پيروي وکړئ.

داچي دځلورومذهبونوپرته نور حق مذهبونه نسته نو ځکه دځلور مذهبونوپيروي کول دسواد اعظم اتباع ده او ددې څلورو مذهبونو څخه مخالفت دسواد اعظم څخه مخالفت دئ.

۳: شاه والي الله رحمة الله عليه دځلورګونو مذهبونو دتقليد دريمه وجه داسي بيان کړي ده:

که چيري دځلورو مذهبونو پرته دنورو مجتهدينو پر قول دفتوا اجازه ورکړل سي نو عُلَمَاءِ سُوء (خواهش پرسته علماء) به دخپلو نفساني خواهشاتو په وجه خپله وينا او فتوا دسلفو علماوو څخه يوه پخواني مشهور عالم ته منسوبوي او دا به وايي ،چي دا وينا فلانکی عالم کړي ده او دهغه څخه ثابته ده ، همدا لامل دئ ،چي دکوم مذهب

سرچينه: تعليم الاسلام راډيو www.taleemulislam-radio.com/

(c) ketabton.com: The Digital Library

دځرګنوالي لپاره ،چې زيات شمېر علماء بوخت وي دداسي مذهب په پيروي کي پورتنی خطر موجود نه وي .
پاته دي نه وي ،چې په ټوله دنيا کي داسي نه ده بلکي دځينو مجتهدينو ځينو اقوال پيدا کېږي مګر ددغه اقوالوپه وړاندي ددې سخته وېره ده ،چې دغه ويناوي به غلطي تعبير سوي وي نو ځکه ځان ځني ژغورل لازمي دئ څو ددې لاره ډب سي ،چې خلک دخپلي خوښي پايله ځني وباسي.([1])

دتقليد بېلابيلي درجې

الله ﷻ لره دي حمد وي دپورتني بحث څخه دا خبره ثابته سوه ،چې دځلورو مذهبونو څخه ديوه مذهب تقليد کول لازمي دئ ، يعني داچې دځلورو امامانو څخه ديوه امام پر شخصي تقليدباندي زيات ټينګار کېږي.
اوس موږ تاسو ته يو اړين او ګټور وړانديز کوو ،چې دتقليد ددرجو اړونده دئ يعني داچې تقليد بېلابېلي درجې لري او دتقليد دبېلوالي له امله بېلابېل احکام لري ، که ددغه درجو توپير ونسي نو زيات تاوانونه به رامنځته سي کوم خلک ،چې پرتقليد باندي نيوکي او اعتراضونه کوي زماله آنده دوی دتقليد ددرجو ترمنځ توپير نه سي کولای او يا دتقليد درجې نه ورته معلوميږي نظر ځني اړوي موږ ددغه درجو بيان په لاندي ډول باندي کوو :

---

[1]: عقد الجيد في احكام الاجتهاد والتقليد ، ص : ۳۱ ، ۳۳، ط : مجتبائي،ډهلی دمولانا محمد حسن نانوتوي رحمه الله عليه ، داردو ترجمې سره.

سرچينه: تعليم الاسلام راډيو/www.taleemulislam-radio.com

(c) ketabton.com: The Digital Library

والله الموفق للحق والصواب.

سرچينه: تعليم الاسلام راډيو/www.taleemulislam-radio.com

(c) ketabton.com: The Digital Library

دعوامو خلکوتقليد

ترټولو وړاندي دعوامو دتقليد درجه ده دلته په دې ځای کي دعوامو خلکو څخه لاندي کسان مراد دي:

الف : هغه خلک ،چي دعربي ژبي اونورو اسلامي علومو اړونده هيڅ معلومات نه لري نور علوم لازم نه دي په هغه کي که معلومات لري او که يې نه لري خو دلته يوازي اسلامي علوم مراد دي.

ب : هغه کسان ،چي په عربي ژبه پوهيږي مګر په تفسير ، فقه ، حديث او نورو اړونده ديني علومو داسي نه پوهيږي ،چي پر استاد باندي يې ويلي وي او په حقيقي ډول په پوه وي.

ج : هغه کسان ،چي په رسمي ډول داسلامي علومو څخه فارغه وي مګر په تفسير، حديث او فقه کي پوره مهارت ، بصيرت او برلاسی نه لري.

پورته درې ډلي خلک ،چي ذکر سوه درې واړه ډلي دعوامو په لړليک کي داخل دي يعني داچي په تقليد کي دعوامو په څېر دي دتقليد په موضوع کي ددوی اودعوامو حکم يو دئ. ددغه خلکو لپاره پرته له دې ،چي محض تقليد وکړي بله چاره نه لري ځکه په دوی کي هيڅ داسي استعداد نه سته ،چي دوی دي مستقيما دقرآن او حديث څخه استنباط وکړي.يا دي دمتعارضو احاديثو تطبيق وکړي او بيا دي دترجيح فيصله وکړي له همدې امله پردغه کسانو باندي لازمه ده ،چي دوی ديوه مجتهد لمن ټينګه ونيسي دهغه څخه ديني احکام زده کړي او بيا عمل په وکړي ځکه دوی خپله اجتهاد نه سي کولای نوبله چاره نه

سرچينه: تعليم الاسلام راډيو/www.taleemulislam-radio.com

(c) ketabton.com: The Digital Library

لري پرته له دې ،چې تقليد وکړي لکه ،چې علامه خطيب بغدادي رحمۃ اللہ علیہ ليکي:

اما من يسوغ له التقليد فهو العامي الذي لايعرف طرق الاحكام الشرعية فيجوز له ان يقلد عالما ويعمل بقوله ... ولانه ليس من اهل الاجتهاد فكان فرضه التقليد كتقليد الاعمي في القبلة فانه لما لم يكن معه آلة الاجتهاد في القبلة كان عليه تقليد البصير فيها.([1])

ژباړه : داچې چاته تقليد جايز دئ ؟ هغه عام سړی دئ هغه سړی ،چې دشرعي احکامو طريقې نه ورته معلوميږي نو داسي کس ته پکاړده ،چې ديوه عالم تقليد وکړي او بيا يې په وينا عمل وکړي ... ځکه داسي کس داجتهاد کولو جوګه نه دئ نو پرده باندي تقليد کول فرض دئ لکه ړوند سړی ،چې په قبله کي دليدونکي کس تقليد کوي په داسي حال کي ،چې درانده سره دقبلې پيدا کولو کومه آله شتون نه لري دداسي رانده لپاره لازمي ده ،چې دليدونکي کس دقبلې په تعين کي تقليد وکړي.

ددغه مرتبې لرونکي کس ته هيڅ جايزه نه ده ،چې ددلائلو په بحث ځان مشغول کړي يا دا ،چې راجح قول په خپل فکر سره پيدا کړي او بيا په هغه عمل وکړي ځکه داسي کس ددې جوګه نه دئ ،چې دمجتهدينو دلايل سره پرتله کړي او بيا پردې پربکړه وکړي ،چې دغه قول راجح دئ او دامرجوح دئ ، دغه کس ته فقط دومره پکار ده ،چې دکوم مجتهد شخصي تقليد وکړي او عمل په وکړي ترداسي بريده که داسي کس ته يو حديث په مخه ورغلی ،چې دده دامام دنظر سره مخالف و بيا هم دده لپاره لازمي او فرض ده ،چې دخپل امام تقليد وکړي اودحديث په اړه

[1]: الفقيه المتفقه للخطيب البغدادي ،ج : ۱ ، ص : ۶۸ ، ط: دارالافتاء السعودية ، رياض . نښته : ۱۳۸۹هـ.

سرچينه: تعليم الاسلام راډيو/www.taleemulislam-radio.com

(c) ketabton.com: The Digital Library

دي داسي فکر وکړي ،چي زه دحديث په مفهوم پوه سوی نه يم او يا دي داسي فکر وکړي ،چي زما دامام سره حتما داسي قوي دليل سته ،چي تردې حديث قوي دئ .

که څه هم په ښکاره داخبره ډېره عجيبه معلوميږي ،چي مقلد دي دحديث عمل پريږدي دمجتهد قول دي عملي کړي او دحديث دي تاويل کړي مګر دداسي مقلد لپاره ،چي اوس موږ بحث کوو بله چاره نسته ځکه که دغه ډول مقلد په حديث عمل کولو باندي اجازه ورکړل سي اوددې اجازه ورکړل سي ،چي هر کله دي دخپل امام قول دحديث څخه مخالف وليدئ دامام قول پرېږده په حديث عمل کوه نو يو لوی تاوان به رامنځته سي او پايلي به يې ډيري خطرناکه وي ، بالاخره به دغه کس په يولويه ګمراهي کي لوېدلی وي ځکه دقران او حديث څخه دمسائلو استنباط خوار وسيع ، عميق او پراخ فن دئ که ديو کس ټول عمر هم په دغه فن کي مصرف سي بيا هم ورته ګرانه ده ،چي دقران او حديث څخه دي دمسائلو استنباط وکړي ځکه ډېر وخت داسي پېښيږي ،چي ديوه حديث څخه يو مفهوم ثابت سي مګر دقرآن او حديث دنورو دلايلو په رڼا کي ېښي بل مفهوم ثابت سي اوس نو که ،چيري يو عام سړی دحديث په ليدلو سره دحديث په ظاهري معنا باندي عمل وکړي ددې څخه به ډول ، ډول ګمراهياني پيدا سي.

دلاروښانتيا لپاره ويلای سم ،چي زما خپله تجربه ده ،چي څوک دقرآن او حديث باندي په عميق ډول پوه نه وي او عميقه مطالعه يې نه لري دحديثو کتابونه مطالعه کړي او بيا عمل ورباندي کوي دداسي کس څخه به ستره اشتباه سوې وي لار ورکی او ګمراه سوی به وي ځکه زما يودوست ،چي تعليم لرونکی او دمطالعې سره يې هم زياته مېنه درلوده په ځانګړي ډول دحديثو مطالعه يې ېښي زياته کول ، دده په ذهن کي

سرچينه: تعليم الاسلام راډيو www.taleemulislam-radio.com/

(c) ketabton.com: The Digital Library

داشي کښېناستلی و ،چي که زه کوم حديث پيدا کړم ،چي دحنفي مذهب ځخه مخالف وي نو زه به په حديث عمل کوم او مذهب به پرېږدم ، يوه ورځ يې زما په مخکي يو چاته وويل ،چي دانسان ددبري څخه ،چي کوم باد راووزي ،چي اواز او بڼ ونه لري اودس نه په ماتيږي ده ،چي دا خبره وکړه زه پوه سوم ،چي دا غريب په حديث نه دئ پوه سوی ما ډيري خبري ورته وکړې ده په جواب کي راته وويل ،چي زه څنګه ترحديث تېر سم ما په حديث کي ليدلي دي ،چي دغه ډول باد اودس نه ماتوي ، بيا ما په پوره تفصيل بيان ورته وکړ، ،چي ته په حقيقت نه يې پوه سوی دحديث مفهوم داسي نه دئ لکه تا ،چي فهمولی دئ، ده په جواب کي راته وويل ،چي داخو زه ډډېره وخته په دې عقيده ،چي دغه باد اودس نه ماتوي ، خدای خبر ،چي داسي ما څومره لمونځونه کړي وي يعني څومره لمونځونه به مي بې اودسه کړي وي.

داچي نومورې کس په دومره لويه غلطي اخته سوی و، لامل يې داوو ،چي ده خوارکي دترمذي شريف لاندي حديث ليدلی و :

عن ابي هريرة رضي الله عنه ان رسول الله صلى الله عليه وسلم قال : لاوضوء الا من صوت او ريح.

ژباړه : دابي هريرة رضي الله عنه څخه روايت سوی دئ ،چي رسول الله صلى الله عليه وسلم فرمايلي دي يوازي دهغه باد څخه اودس سته ،چي بڼ ولري او يابوی ولري.

دپورتني حديث ترڅنګ يې لاندي هم ليدلی دئ:

اذا كان احدكم في المسجد فوجد ريحا بين اليتيه فلايخرج حتى يسمع صوتا او يجد ريحا.([1])

[1]: جامع الترمذي ، ج : ۱ ص : ۳۱ ، باب ماجاء في الوضوء من الريح.

سرچينه: تعليم الاسلام راډيو www.taleemulislam-radio.com/

(c) ketabton.com: The Digital Library

ژباړه : کله ،چې ستاسو څخه يو کس دخپلوکوناټو په منځ کي باد محسوس کړي نو تر هغه دي دمسجد څخه نه وزي څو ،چې ددغه باد ږغ يې نه وي اورېدلی او يا يې بد بوی نه وي محسوس کړی.

هغه زما دوست ددغه حديث دظاهرالفاظو څخه دامقصد ترلاسه کړی و ،چې څوک که دباد احساس وکړي نو ترهغه يې اودس مات نه دئ څو ،چې ددغه باد ږغ يې اورېدلی نه وي او يا يې بد بوی محسوس کړی نه وي ، حال داچې دټولو فقهاوو پر دې خبره اتفاق دئ ،چې دغه حديث او ددغه حديث مفهوم دهغه چا لپاره دئ ،چې وسواسي او ډېر ژر يې په اودس ماتېدو کي شک پيدا کېږي نو ددغه کس لپاره داحکم دئ ،چې تر هغه پوري يې اودس نه ماتيږي څو ،چې دباد وتلو يې داسي يقين نه وي راغلی لکه ،چې يې ږغ واوري اويايې بوی محسوس کړي يعني داچې څوک ددغه باد ږغ واوري او يا يې بوی محسوس کړي نو يقيني خبره ده ،چې اودس يې ماتيږي ، هغه سړی ،چې وسواسي وي دهغه لپاره هم داحکم دئ ،چې هغه وخت يې اودس ماتيږي ،چې پوره يقين يې راځي.

همدا ډول په يو بل حديث کي راځي ،چې ددغه مطلب ښه څرګندوالی په راځي حديث په دې ډول دئ:

اذا كان احدكم في الصلوة فوجد حركةفي دبره احدث او لم يحدث فاشكل عليه فلاينصرف حتي يسمع صوتا اويجد ريحا.([1])

ژباړه : که ستاسو څخه يوه کس ته په لمانځه کي په کوناټو کي حرکت محسوس سو او داسي شک ورته پيدا سو ،چې دده به اودس مات

[1]: سنن ابي داود ، ج : ۱ ص : ۲۴ ، باب من شک في الحدث.

سرچينه: تعليم الاسلام راډيو/www.taleemulislam-radio.com

(c) ketabton.com: The Digital Library

سوی وي که يا؟ نو تر هغه پوري دي دلمانځه څخه نه ګرځي يعني اودس يې نه دئ مات څو ،چي اوازيې نه وي اورېدلی اويا يې بد بوی نه وي محسوس کړی.

همدا ډول په يو بل روايت کي راځي ،چي عبدالله بن زيد ﷺ فرمايلي : رسول الله ﷺ پورتنی جواب داسي چا ته ووايه ،چي وسواسي و دوسوسې په ناروغۍ باندي اخته و.

داچي احاديث په ېلاېيلو طريقو اوالفاظو سره راځي نو ،چي ټولي طريقې او الفاظ سره راجمع سي هغه کس مطلب ځني اخستلای سي ،چي په حديثو کي مهارت او برلاسی ولري يوازي ،چي څوک په کتاب کي حديث ووايي او يا يې يوازي ترجمه ولولي په دې کار سره دحديث څخه څوک صحيح مفهوم نه سي اخستلای او نه حقيقي مطلب ځني پورته کولای سي.

همدا ډول که هر چاته دا اختيار ورکړل سي ،چي که تا داسي حديث وليدئ ،چي ستا مذهب ورسره مخالف و نو خپل مذهب پرېږده په دغه حديث عمل کوه کېدای سي ،چي دغه کس ته دي دترمذي شريف لاندي حديث هم ترنظر تير سي ،چي راغلي دي:

عن ابن عباس ﷺ قال جمع رسول الله ﷺ بين الظهر والعصر وبين المغرب والعشاء بالمدينة من غير خوف ولامطر ، قال فقيل لابن عباس ﷺ ما اراد بذالک؟ قال : اراد ان لاتحرج امته.([1])

ژباړه : دابن عباس ﷺ څخه روايت دئ ،چي رسول الله ﷺ په مدينه منوره کي دماپښين او مازديګر لمونځه يوځای وکړه ، دمانبام او ماخوستن لمونځه يې يوځای وکړه ،هيڅ وېره او باران هم نه ، چا دابن

[1]: ترمذي ، ج : ۱ ص : ۴۶.

سرچينه: تعليم الاسلام راډيو/www.taleemulislam-radio.com

(c) ketabton.com: The Digital Library

عباس رضي الله عنه څخه پوښتنه وکړه ،چي رسول الله ﷺ ولي داکار وکړ؟ څه حکمت يې پکښي و؟ ابن عباس رضي الله عنه وفرمايل: درسول الله ﷺ داکار ددې لپاره و ،چي دده مبارک پر امت باندې څه تکليف رانسي.

دپورتني حديث دښکاره الفاظو څخه داسي معلوميږي ،چي هر څوک کولای سي ،چي په کور کي وي دعذر ، ويري او سفر پرته دماپښين لمونځ دمازديګر په وخت کي دمازديګر دلمانځه سره يوځای وکړي او دماښام لمونځ دماخوستن په وخت کي دماخوستن دلمانځه سره يوځای وکړي.

کله ،چي څوک پورتنی حديث ترنظر تير کړي او بيا خپل مذهب وګوري ،چي ددې حديث سره مخالف وي نو دی وايي ،چي زه خپل مذهب نه منم زه په دې حديث عمل کوم حال داچي څلور واړه مذهبونه او اهل حديث په يوه خوله پردې باور دي ،چي دعذر پرته جمع بين الصلاتين يعني ددوو لمونځونو په يوه وخت کي جمع کول ناجايز دي.

څرګنده خبره ده ،چي دقرآن اوحديث په رڼا کي نه يوازي داحنافو بلکي دڅلور واړه مذهبونو او اهل حديثو له آنده پورته حديث پر جمع صوري باندې محمول دئ.(۱)

حقيقت دادئ ،چي دپورتنی حديث مطلب دادئ ،چي رسول الله ﷺ دماپښين لمونځ په آخر وخت کي ادا کړ، اودمازديګر لمونځ يې په اول وخت کي ادا کړ، ددې مطلب داوو ،چي خپل امت ته داتعليم ورکړي ،چي په لومړی وخت کي هم يومسلمان لمونځ ادا کولای سي او په اخر کي يې هم ادا کولای سي څو دمسلمانانو څخه تکليف پورته سي

[۱]: تحفة الاحوذي للمبارکپوري، ج: ۱، ص: ۱٦٦، ۱٦۷.

سرچينه: تعليم الاسلام راډيو www.taleemulislam-radio.com/

(c) ketabton.com: The Digital Library

،همدا ډول رسول الله ﷺ دمانبام اوماخوستن په لمونځونو کي پورته کړنه ترسره کړه، په ښکاره داسي معلوميږي ،چي رسول الله ﷺ دوه لمونځونه پر يوه ځای باندي ادا کړه مګر په حقيقت کي يې په دوو وختونو کي ادا کړه همدې کار ته جمع صوري ويل کيږي.

پورته ،چي دوه حديثونه ذکرسوه يوازي دنمونې لپاره وه که نه نو داسي ډېر احاديث سته ،چي څوک په قرآن او حديث کي پوره مهارت نه لري او دا حديث وګوري نو خامخا به تېروتنه وکړي په غلطۍ به اخته سي ، همدا لامل دئ ،چي علماء وايي : کوم کس ،چي په ديني علومو کي پوره برلاسی نه لري هغه ته پکارده ،چي دحديث مطالعه دماهر استاد دلارښوونې پرته ونه کړي.

ترپورتنيو خبرو وروسته داخبره هم درسره ياد لرئ ،چي ديوه مجتهد امام تقليد هغه وخت کيدای سي ،چي دقرآن او حديثو په دلايلو کي تعارض محسوس سي ، همدا وجه ده ،چي کله په يوه مسئله کي دامام ابوحنيفة رحمه الله او امام شافعي رحمه الله ترمنځ اختلاف وي معلومه خبره ده ،چي ددغه دوو امامانو دواړو سره دلايل سته.

دتقليد کولو موخه داده ،چي که څوک دراجح او مرجوح دلايلو توپير نه سي کولای هغه ته پکارده ،چي مذهبونو څخه دي ديوه مذهب تقليد وکړي.

داچي په يوه اختلافي مسئله کي دامام ابوحنيفة رحمه الله او امام شافعي رحمه الله دواړو سره دلايل سته يعني هر يو دځان لپاره آيت يا حديث دليل لري نو ته ،چي په ديني علومو کي پوره معلومات نه لري ناڅاپه پر هغه حديث برابر سوې ،چي امام شافعي رحمه الله دليل په ويلی دئ تاته نو پکار نه ده ،چي ته نو دامام ابوحنيفة رحمه الله مذهب پرېږدې ځکه تاته مخکي هم دا معلومه ،چي امام شافعي رحمه الله خامخا يو دليل

سرچينه: تعليم الاسلام راډيو/www.taleemulislam-radio.com

(c) ketabton.com: The Digital Library

لري داچي امام ابو حنيفة رحمه الله دغه دليل پرې ايښی دئ خامخا بل دليل لري هغه داسي دليل دئ ،چي د امام شافعي رحمه الله تر دليل قوي او ټينګ دئ ته نو داسي مه کوه ،چي ددواړو امامانو دلايل دي نه وي مطالعه کړي خپل مذهب پربړدې بلکي دلته ،چي مور دکومي درجې دمقلد بحث کوو هغه داسي مقلد دئ ،چي ددلايلو دتوپير او تميز وړتيا نه لري يعني دا نه سي معلومولای ،چي ددواړو امامانودلايل سره پرتله کړي او بيا دي يودليل قوي او راجح وبولي او بل دليل دي ضعيف او مرجوح وبولي ځکه مخکي مور وويل ،چي ددغه درجې مقلد دتوپير او تميز وړتيا نه لري نو ځکه ده لره پکار ده ،چي يوازي دخپل امام تقليد وکړي او کله که يې داسي دليل وليدئ ،چي دده دمذهب خلاف و ورته پکار ده ،چي ووايي : دا داسي دليل دئ ،چي زه يې پوره په مفهوم نه يم پوه سوی اويا يې په محمل باندي زما عقل نه دئ رسېدلی.

ددې مثال داسي دئ لکه ،چي څوک ځان ديو هيواډپه قانون پوهول غواړي نو داسي نه کوي ،چي پر خپل سر باندي کتابونه مطالعه کړي بلکي دخپل سري کتابونوپرځای يو قانون پوه ته ورځي دهغه څخه زده کړه کوي،که دغه کس ديوه داسي قانون پوه څخه زده کړه کړې وي ،چي دهغه پوهه منل سوې وي ، پوښتونکي کس ته هم داثابته وي ،چي دغه کس زما سره دوکه نه کوي بلکي په صحيح ډول قانون راته ښيي اوس نو که دغه قانون پوه ده ته دقانون دکوم ټکي وضاحت اوځرنګوالی کړی وي نو دی پوره اعتماد باندي کوي ، که نومورې کس ته ،چيري يو ځای کوم کتاب په لاس ورسي او په هغه کتاب کي داسي يوه جمله وويني ،چي دقانون پوه دوينا سره په ټکر کي وي نو ده ته پکار نه ده چی دی دا ووايي ،چي قانون پوه پر غلطه باندي دئ ددې کتاب خبره صحيح ده بلکي ورته پکارد ه ،چي داسي فکر وکړي ،چي دقانون پوه

سرچينه: تعليم الاسلام راډيو www.taleemulislam-radio.com/

(c) ketabton.com: The Digital Library

خبره درسته ده اوزه په هغه عمل کوم داچي په دې کتاب کي دقانون دخبري خلاف وينا سوې ده نو اصلا زه ددې کتاب په جمله نه يم پوه سوی اوصحيح مطلب مي نه دئ ځني اخستی ځکه دقانون دکتابونو څخه هرڅوک صحيح مطلب نه سي پورته کولای بلکي ددې کار لپاره پوره مهارت او تجربې ته اړتيا سته.

پورتنی مثال پر قرآن او حديث باندي صادقيږي يعني داچي څوک دقرآن او حديث څخه دشرعي احکامو استنباط کوي کلکه دې ته اړتيا لري ،چي په ديني علومو کي پراخ مهارت اوبرلاسی ولري همدا لامل دئ ،چي زمونږ علماوو فرمايلي دي : عاموخلکو ته هيڅ اجازه نسته ،چي مستقيما دقرآن او حديث څخه دمسائلو استنباط وکړي بلکی دوی ته پکار ده ،چي فقيهو علماوو ته رجوع وکړي ، که فرضا يو عام سړي ته يوه مفتي غلطه فيصله ورکړي وي نو ددې مسئلې دغلطتيا ګناه پر عام سړي نسته بلکي ګناه يې پرمفتي ده او که عام سړی پر خپل سرباندي دحديثونو مطالعه وکړي او دخپل سوال جواب مستقيما دقرآن او يا حديث څخه واخلي او دی په خپله دغه جواب کي تېروتلی وي نو ګناه يې پر ده باندي ده ځکه دقرآن او حديث څخه مستقيما دمسائلو استنباط دده کار نه و بلکي ددده کار داو ،چي ديوه مفتي څخه دخپلي پوښتنې جواب وغواړي.

دپورتنی خبري دلاروښانتيا په موخه ويلای سو ،چي زمونږ دجمهورو علماوو له آنده په ښکر لګولو سره روژه نه ماتيږي ، يو ناخبره کس دمفتي څخه دښکر لګولو په اړه پوښتنه وکړي ،چي روژه په ماتيږي اوکه يا؟ مفتي صاحب په غلطی سره ورته وويل ،چي هو روژه ماته ده ، سړي فکر وکړ ، ،چي روژه دي ماته سوه ولاړی خوراک اوڅښاک يې وکړ، دغه کس ،چي روژه يې ماته نه وه په قصدي توګه يې خوراک او

سرچينه: تعليم الاسلام راډيو/www.taleemulislam-radio.com

(c) ketabton.com: The Digital Library

ځيښاک وکړ، په اړه يې هدايه ووايي ،چې پر دغه کس باندي يوازي قضا سته او کفاره باندي نه سته وجهه يې داسي بيانوي:

لان الفتوا دليل شرعي في حقه.

ژباړه: ځکه دغه عام سړي په اړه فتوا شرعي دليل دئ.

او که کوم کس دابوداود ،ترمذي اونورو کتابونوهغه حديث مطالعه کړي ،چې رسول الله ﷺ په روژه کي تېرېدئ پر ښکرلګونکي يې ستړکي وموښتي نو وې فرمايل:

افطر الحاجم والمحجوم.(۱)

ژباړه: دښکرلګونکي او ورلګونکي دواړو روژه ماته سوه.

که دپورتني حديث څخه څوک دا مطلب واخلي ،چې په ښکر لګولو سره هغسي روژه ماتيږي نو نور شيان هم وخوري ، امام ابي يوسف رحمه الله فرمايي ،چې پر دغه کس باندي قضااوکفاره دواړه لازم دي ځکه پردغه کس باندي دمفتي څخه پوښتنه کول لازم وه اوده پوښتنه ونه کړه. امام ابويوسف رحمه الله فرمايي:

لان علي العامي الاقتداء بالفقهاء لعدم الاهتداء في حقه الي معرفة الاحاديث.(۱)

۱: داحديث سندا صحيح دئ مګرپه صحيح بخاري کي يوبل حديث هم راغلی دئ ،چې رسول الله ﷺ په خپله دروژې پر مهال ښکر لګولی دئ. همدا ډول په نسائي کي هم يو حديث راځي ،چې ابوسعيدخدري رضي الله عنه روايت کړی دئ ،چې رسول الله ﷺ روژه نيونکي کس ته دښکر لګولو اجازه ورکړې ده. دپورتنيو احاديثو پر بنسټ امام ابوحنيفة رحمه الله ، امام مالک رحمه الله ، امام شافعي رحمه الله او نور جمهور علماء وايي ،چې د (افطر الحاجم والمحجوم) حکم يا خومنسوخ سوی دئ اويا رسول الله ﷺ دځه خاصي وجهي پربنسټ څه خاصو کسانو ته اجازه کړې ده اودې ته ورته نوري يوشمېر وجوهات هم راغلی دي. دلا زياتومعلوماتو لپاره وګورئ: تحفة الاحوذي ، ج : ۲ ص: ۶۴ ، ۶۵.

سرچينه: تعليم الاسلام راډيو www.taleemulislam-radio.com/

(c) ketabton.com: The Digital Library

ژباړه : ځکه پر عامي باندي لازمه ده ،چي دفقهاوو تقليد وکړي ځکه دی داحاديثو څخه دصحيح نتيجې ايستلو جوګه نه دئ.
خلاصه داچي دتقليد دغه لومړی درجه دعوامولپاره ټاکل سوې ده دوی ته پکار ده ،چي په هره مسئله کي دخپل امام تقليد وکړي ، په هرحالت کي دي دخپل امام په قول عمل کوي ، که يې داسي حديث پيدا کړ، ،چي دده دامام دوينا خلاف و نوداسي فکر دي وکړي ،چي زه ددې حديث په صحيح مطلب او مفهوم نه يم پوه سوی ،زما مذهب ،چي کوم حديث ددې مسئلې اړونده لري هغه حتما تردغه حديث قوي دئ ،دعام سړي لپاره ددې پرته بله هيڅ چاره نسته او که داسي ونه سي نو په دين کي به ډېر سخت او شديد اختلافات پيدا سي او دادين به پر ډېرو برخو ووېشل سي.

دجيد او متبحر عالم تقليد

دتقليد دوهمه درجه :

دتقليد دوهمه درجه دجيد اومتبحر عالم ده.
دمتبحر عالم څخه زموږ هغه څوک مراددئ ،چي داجتهاد مرتبې ته که څه هم نه وي رسېدلی مګر په اسلامي علومو کي يې پوره مهارت او پوهه دتکړه استادانو څخه ترلاسه کړې وي. دتاليف ، تصنيف اوتدريس په کارونو کي مشغول وي ، تفسير ، حديث ، فقه او ددوی اړونده اصول يې په ياد وي ، دهر ډول مسئلې په څېړنه کي دپخوانيو

---

[1]: هداية ، ج : ۱ ،ص : ۲۲۶،باب مايوجب القضاء والكفارة.

سرچينه: تعليم الاسلام راډيو/www.taleemulislam-radio.com

(c) ketabton.com: The Digital Library

مخورو علماوو دنظرياتو او ويناوو څخه ښه استفاده کولای سي ، همدا ډول ددوی دتصنيف دکړنلاري او استدلال څخه معلومات ولري.

شاه ولي الله رحمه الله ددا سي عالم تقليد د (متبحر في المذهب) په نوم ياد کړی دئ او په اړه يې ويلي دي:

فصل في المتبحر في المذهب وهو الحافظ لكتب مذهبه من شرطه ان يكون صحيح الفهم عارفا بالعربية واساليب الكلام ومراتب الترجيح متفطنا لمعاني كلامهم لايخفي عليه غالبا تقييد مايكون مطلقا في الظاهر والمراد منه المقيد واطلاق ما يكون مقيدا في الظاهر والمراد منه المطلق.([1])

ژباړه : متبحر في المذهب هغه کس دئ ،چې دخپل مذهب کتابونه يې ياد وي ، شرط يې دادئ ،چې صحيح الفهمه وي، په عربي ژبه او دکلام په طريقو به پوهيږي ، دخپل مذهب داقوالو دترجيح په مراتبو به پوهيږي ، دفقهاوو په ويناوو به ښه پوهيږي ، کوم کلام ،چې په ښکاره مطلق وي او په حقيقت هغه کي هغه کلام مقيد وي ده ته به يې معلومات کيږي پټ به باندي نه وي او يا داسي وي ،چې په ښکاره مقيد وي خو په معنا کي مطلق وي ددې معلومات به هم ورته وي.

داسي کس که څه هم داجتهاد مرتبې ته دنه رسيدلو له امله مقلد بلل کيږي مګر دخپل مذهب مفتي جوړيدای سي.

دپورتني کس تقليد دعوامو خلکو دتقليد څخه په لاندي شيانو کي بېل دئ:

۱ : دغه ډول عالم دعوامو په څېر يوازي په مذهب پوه نه وي بلکي دمذهب دپوهي ترڅنګ دمذهب په دلايلو هم لږ تر لږه پوه وي.

[1]: عقد الجيد ، ص : ۵۱

سرچينه: تعليم الاسلام راډيو/www.taleemulislam-radio.com

(c) ketabton.com: The Digital Library

۲: پورتنی عالم دیوه مفتي په حیث دخپل مذهب په ټولو ببلابیلو اقوالو خبر وي او ددې جوګه وي ،چې دخپل عرف او زمانې دمسائلو دحل لپاره دخپل مذهب یو قول اختیارولای سي اویا دیوه مذهب تشریح کولای سي، همدا ډول دهغه مسائلو حل دمذهب داصولو په رڼا کي کولای سي ،چې په پخوانیو کتابونو کي نه وې په اوس زمانه کي پیدا سوي وي.(۱)

۳: داسي عالم کولای سي ،چې کله ، کله دخپل مذهب دامام پرځای دبل مجتهد پر قول فتواورکړي ،چې شرایط یې د اصول الفقه او اصول الفتاوی په کتابونو کي موجود دي.(۲)

که ددوهمي درجې مقلد ،چې عالم دئ داسي حدیث یې پیدا کړ، ،چې دده دمذهب څخه خلاف و او ددې حدیث په مقابل کي کوم بل قوي دلیل هم نه و ، په دې اړه شاه ولي الله رحمه الله لیکي :

اذا وجد المتبحر في المذهب حديثا صحيحا يخالف مذهبه فهل له ان ياخذ بالحديث ويترک مذهبه في تلک المسئلة؟ في هذه المسئلة بحث طويل واطال فيها صاحب خزانة الروايات نقلا عن دستور السالكين فلنوردكلامه بعينه.

ژباړه : که یو متبحر عالم داسي حدیث پیدا کړ، ،چې دده دمذهب څخه مخالف و ، په دغه وخت کي نودغه عالم کولای سي ،چې خپل مذهب پریږدي که یا ؟په دې مسئله کي خورا اوږد بحث دئ او صاحب خزانة په

۱: ددغه کارونو دمفصل اصول اوقواعدو لپاره وګورئ: شرح عقود رسم المفتي لابن العابدين اواصول فتوا ، دواړه.

۲: داصول الفتاوا ترڅنګ وګورئ : ردالمحتار للشامي ، ج : ۲ ص : ۱۹۰، ۱۹۱، كتاب الحدود ، باب التعزير ، مطلب فيما اذا ارتحل الي غير مذهبه ، و جلد ۳ ، ص: ۲۰۰، كتاب السرقة، مطلب يعذر العمل بمذهب الغير الخ

سرچینه: تعلیم الاسلام راډیو/www.taleemulislam-radio.com

(c) ketabton.com: The Digital Library

پوره تفصيل سره ددستور السالكين څخه رانقل کړی دئ ،موږ يې دلته په کټ مټ ډول رانقلوو.

تر پورتنۍ خبري وروسته شاه ولي الله رحمه الله په تفصيلي ډول سره بحث کړی دئ او فرمايلي يې دي :

ځيني علماء په دې آنددي ،چې متبحر عالم ته پکار ده ،چې دخپل مذهب تقليد وکړي ځکه دی لا داجتهادمرتبې ته نه دئ رسېدلی ، بله وجهه داده ،چې کېدای سي ددې امام داسي يو دليل ليدلی وي ،چې ده نه وي ليدلی.

دزياتو علماوو نظرادئ ،چې داسي متبحر عالم کي دخپل امام دحکم ټول اړخونه څېړلي وي ، ټول دلايل يې ترنظرتېر کړی وي نو ده لره پکار ده ،چې دقوي حديث په مقابل کي خپل مذهب پرېږدي خو داخبره لازمي ده ،چې شرطونه به يې موجود وي شرطونه يې په لاندي ډول دي:

۱: لومړی شرط يې دادئ ،چې خپله به يې دمتبحر عالم او دعلم ټول اړين شرطونه پوره کړي وي.

۲ : دوهم شرط دادئ : کوم حديث ،چې ده ليدلی دئ دهغه اړوند به ده پوره باور تر لاسه کړی وي يعني داچې دټولو محدثينو له آنده به هغه حديث صحيح وي ، ځکه ډېر وخت داسي وي ،چې ديوه حديث په سند کي اختلاف وي ځيني يې صحيح بولي او ځيني يې ضعيف بولي کوم مجتهدين ،چې يې صحيح بولي هغه عمل په کوي اوکوم مجتهدين ،چې ضعيف بولي هغه عمل نه په کوي که داسي حديث وي نو حتماًدده امام دخپل نظر مطابق پر نومړي حديث باندي دضعف پرېکړه کړې ده او عمل يې نه دئ باندي کړی په داسي حديث سره متبحر عالم خپل مذهب نه سي پرېښوولای ځکه دی دومره علم نه لري لکه مجتهد ،چې يې لري.

سرچينه: تعليم الاسلام راډيو/www.taleemulislam-radio.com

(c) ketabton.com: The Digital Library

۳ : دريم شرط دادئ ،چي ددغه حديث په خلاف به بل کوم آيت يا حديث موجود نه وي.

۴ : څلورم شرط دادئ ،چي دغه حديث به داسي څرګند وي ،چي په معنا کي به يې هيڅ ناڅرګندتيا موجوده نه وي ، بلکي ښه ښکاره معنا به يې وي ځکه ډېر وخت داسي وي ،چي يو حديث دڅو معناوو احتمال لري او مجتهد په خپل بصيرت سره ددغه معناوو څخه يوه معنا ټاکلې وي ، په داسي حالت کي څوک نه سي ويلای ،چي دا حديث دمذهب څخه مخالف دئ بلکي په داسي حالت کي مقلد عالم نه سي کولای ،چي ددغه حديث بل مطلب واخلي ،چي دده دمذهب دامام څخه مخالف وي ځکه دتقليد موخه داده ،چي که يو آيت يا حديث دڅو معناوو لرونکی و ، نو ددې پرځای ،چي ته په خپل فکر اونظر سره ددغه معناوو څخه يوه ټاکې ديوه مجتهد نظر په دغه ځای کي ومنه او عملي يې کړه.

که دغه څلور واړه شرطونه موجود نه وه نوموړ داسي پرېکړه نه سو کولای ،چي مذهب دحديث څخه مخالف دئ اونه عالم ته ددې اجازه سته ،چي دمذهب تقليد پرېږدي او په حديث عمل وکړي.(۱)

۵ : داخبره هم لازمي ده ،چي پنځم شرط هم پکښې موجود وي ، پنځم شرط دادئ ،چي دغه حديث به دڅلور امامانو دنظر څخه مخالف نه وي ځکه که مخالف وي نو زيات تاوانونه او فسادونه لري ،چي مخکي يې بيان وسو.(۲)

۱: پورته څلور شرطونه دحکيم الامت مولانا اشرف علي تهانوي رحمه الله دکتاب الاقتصاد څخه اخستل سوي دي . کتاب الاقتصاد، ص : ۳۴ تر ۳۶ ، دڅوارلسمي شپې جواب، همدا ډول اوولسم مقصد ، ج : ۴۳، ۴۴.

۲: دغه شرط دعقد الجيد ، ص: ۵۸ څخه اخستل سوی دئ.

سرچينه: تعليم الاسلام راډيو/www.taleemulislam-radio.com

(c) ketabton.com: The Digital Library

په دې اړه دشيخ الاسلام علامه نووي رحمه الله اونورو ډېرو مخورو علماوو څرګندوني کړي دي ، شيخ الاسلام علامه نووي رحمه الله ليکي:

قال الشيخ ابوعمرو فمن وجد من الشافعية حديثا يخالف مذهبه نظر ان كملت الات الاجتهاد فيه مطلقا ، اوفي ذالک الباب او المسئلة كان له الاستقلال بالعمل به ، وان لم يكمل وشق عليه مخالفة الحديث بعد ان بحث فلم يجد لمخالفته عنه جواب شافيا فله العمل به ان كان عمل به امام مستقل غير الشافعي ، ويكون هذا عذرا له في ترک مذهب امامه هنا ، وهذا الذي قاله حسن متعين.([1])

ژباړه : شيخ ابوعمرو(ابن الصلاح) فرمايي: که يو شافعي مذهب کس داسي حديث پيداکړ،چي دده دمذهب څخه مخالف و ، دغه کس که داجتهاد مرتبې ته رسېدلی و، يا په دغه باب اويا په دغه مسئله کي داجتهاد مرتبې ته رسېدلی و نوپه دغه حديث باندي عمل کولای سي او که نه و رسېدلی ، پوره هلي ځلي يې وکړي دمخالفت لپاره يې کوم شافي جواب پيدا نه کړ، او دحديث مخالفت ورته ګران معلومېدئ کولای سي ،چي په دغه حديث عمل وکړي خو په دې شرط سره ،چي په دغه حديث باندي دامام شافعي رحمه الله پرته بل مستقل امام هم عمل کړی وی نو دداسي چا لپاره به عذر سي ،چي په دغه مسئله کي خپل مذهب پريږدي.علامه نووي رحمه الله فرمايي: دشيخ ابوعمرو ابن الصلاح دغه خبره ډېره غوره ده بايد عمل په وسي.

حضرت شاه ولي الله رحمه الله هم دغه خبره غوره ګڼلې ده او فرمايلي يې دي:

---

[1]: المجموع شرح مهذب ، ج : ۱ ، ص : ۱۰۵، مقدمة فصل في قول الشافعي اذا صح الحديث فهو مذهبي.

سرچينه: تعليم الاسلام راډيو www.taleemulislam-radio.com/

(c) ketabton.com: The Digital Library

والمختار ههنا هو قول ثالث ، هو ما اختاره ابن الصلاح وتبعه النووي رحمه الله وصححه الخ.(۱)

ژباړه : دريم قول غوره اوبهتر دئ ، نوموړی قول ابن الصلاح غوره کړی دئ ، امام نووي رحمه الله يې پيروي کړې ده او صحيح يې بللی دئ.

شاه ولي الله رحمه الله تر پورتنی وينا وروسته دعلامه نووي رحمه الله بيان رانقل کړی دئ او ليکلي يې دي:

داصول فقه دعلماوو تر منځ په دې خبره کي اختلاف سته ،چي يو کس په ټولو احکامو کي مجتهد نه وي مګر په يوه مسئله او يا يو باب کي داجتهاد مرتبه ورته حاصله سي. ځيني علماء په دې آند دي ،چي داسي نه سي کېدای بلکي يو کس ته ،چي داجتهاد مرتبه رسيږي هغه وخت رسيږي ،چي په ټولو احکامو کي مجتهدانه نظر ولري ، ځيني علماء بيا په دې آند دي ،چي يو اجتهاد تجزيه قبلولای سي او وايي ،چي په يوه باب او يا يوه مسئله کي هم چا ته داجتهاد مرتبه رسېدلای سي لکه ،چي علامه تاج الدين رحمه الله او علامه محلي رحمه الله ليکي :

(والصحيح جواز تجزئ الاجتهاد) بان تحصل لبعض الناس قوة الاجتهاد في بعض الابواب كالفرائض بان يعلم ادلته باستقراء منه او من مجتهد كامل وينظر فيها.

ژباړه: صحيح خبره داده ،چي اجتهاد تجزيه قبلولای سي ، په داسي ډول ،چي ځينو خلکو ته دي داجتهاد قوت په ځينو بابونو کي حاصل سي لکه په فرائضو کي ،چي داجتهاد قوت حاصلېدای سي البته ،چي ده ته په لټون او استقراء سره ټول دلايل معلوم وي او يا ديوه مجتهد په مرسته يې پر دلايلو باندي احاطه کړې وي.

علامه بناني رحمه الله دجمع الجوامع په شرحه کي ليکي:

۱: عقد الجيد ، ص : ۵۷ ، فصل في المتبحر في المذهب.

سرچينه: تعليم الاسلام راډيو www.taleemulislam-radio.com/

(c) ketabton.com: The Digital Library

ان الاجتهاد المذهبي قد يتجزء فربما يحصل لمن هو دون المجتهد الفتيا في بعض المسائل.([1])

ژباړه: يقيني خبره ده ،چې اجتهاد تجزيه کېدای سي دهمدې خبرې په نظر کي نيولو سره دغه مرتبه هغه چاته هم حاصلېدای سي ،چې دمجتهد الفتيا تر مرتبې يې مرتبه ټيټه وي.

همدا ډول داصول فخر اسلام بزدوي رحمه الله په شرحه کي علامه عبدالعزيز بخاري رحمه الله ليکي :

وليس الاجتهاد عند العامة منصبا لايتجزء بل يجوز ان يفوز العالم بمنصب الاجتهاد في بعض الاحكام. ([2])

ژباړه: اجتهاد داسي منصب نه دئ ،چې تجزيه نه سي قبلولای بلکي کېدای سي ،چې په ځينو مسئلو کي داجتهاد منصب يو عالم ته ورپه برخه سي او په بعضو مسئلو کي دي بيا داجتهاد مقام ورنه کړل سي.

امام غزالي رحمه الله ليکي:

وليس الاجتهاد عندي منصبا لايتجزء بل يجوز ان يقال للعالم بمنصب الاجتهاد في بعض الاحكام دون البعض. ([3])

ژباړه: زما په آند اجتهاد داسي منصب نه دئ ،چې تجزيه نه سي قبلولای بلکي کېدای سي ،چې په ځينو مسئلو کي داجتهاد منصب يو

---

[1]: ددغه اوپورته دواړه عبارتونولپاره وګورئ: حاشية البناني رحمه الله علي شرح جمع الجوامع ،ج : ۲ ص : ۴۰۳، ۴۰۴،ط : المكتبة التجارية الكبري مصر.

[2]: كشف الاسرار لعبدالعزيز البخاري رحمه الله ج : ۳ ص : ۱۱۳۷، باب معرفة احوال المجتهدين.

[3]: المستصفي للغزالي رحمه الله ج : ۲ ، ص : ۱۰۳ ، القطب الرابع في حكم المستثمر وهو المجتهد.

سرچينه: تعليم الاسلام راډيو www.taleemulislam-radio.com/

(c) ketabton.com: The Digital Library

عالم ته ورپه برخه سي او په بعضو مسئلو کي دي بيا داجتهاد مقام ورنه کړل سي.

علامه تفتازاني رحمه الله ليکي :

ثم هذه الشرائط انما هي في حق المجتهد المطلق الذي يفتي في جميع الاحكام ، وامام المجتهد في حكم دون حكم فعليه معرفة مايتعلق بذالک الحكم. (۱)

ژباړه : دغه شرائط دهغه چا لپاره دي ،چي مجتهد وي او په ټولو احکامو کي فتوا ورکوي او هغه مجتهد ،چي په يو حکم کي مجتهد وي په بل کي بيا مجتهد نه وي دهغه لپاره فقط په هغه خبرو علم پکار دئ ،چي په اړونده مسائلو پوري تعلق لري.

دپورتنی خبري اړونده مولانا امير علي رحمه الله وايي:

قوله وامام المجتهد في حكم . الخ فلابد له من الاطلاع علي اصول مقلده لان استنباطه علي حسبها فالحكم الجديد اجتهاد في حكم والدليل الجديد للحكم المروي تخريج.(۲)

ژباړه : هغه کس ،چي په ځينو مسائلو کي مجتهد وي هغه لره پکارده ،چي دهغه چا داستنباط په اصول علم لري ،چي دی يې مقلد دئ ځکه نوموړی کس دخپل امام تر تقليد لاندي استنباط کوي ، که ددغه اصولو مطابق کوم حکم صادرسي دې ته اجتهاد في الحکم وايي او که حکم دامام څخه رانقل سوی وي دليل يې وروسته ورته ويل سوی وي دې ته تخريج وايي.

علامه ابن الهمام رحمه الله هم داخبره غوره ګڼلې ده ،چي اجتهادتجزيه کيدای سي ،ده په څرګندو الفاظو ويلي دي ،چي کوم څوک ،چي مطلق

۱: التلويح مع التوضيح ، ج: ۲ ص : ۱۱۸ ، ط : مصر.

۲: التوشيح علي التلويح لمولانا اميرعلي رحمه الله ، ص : ۶۰۴ ، باب الاجتهاد، ط : نولکشور.

سرچينه: تعليم الاسلام راډيو www.taleemulislam-radio.com/

(c) ketabton.com: The Digital Library

مجتهد نه وي پرهغه باندي يوازي په مسائلو کي تقليد واجب دئ ،چي دي په هغه مسائلو کي داجتهاد مرتبې ته نه وي رسېدلی.

پورتنی عبارت امير بادشاه بخاري رحمه الله دشرحي سره مل ليکلی دئ(۱)

علامه زين الدين ابن نجيم رحمه الله هم په کټ مټ ډول پورتنی خبره کړې ده.(۲)

پاته دي نه وي ،چي علامه ابن امير الحاج رحمه الله د علامه زلمکاني رحمه الله څخه پرېکنده فيصله رانقل کړې ده او ليکي:

داجتهاد کلي شرايط لکه قوي استنباط ، دکلام اسلوب ، ددلايلو رد او قبول او داسي نور بنسټيز اصول تجزيه کېدای نه سي بلکي دجزوي اجتهادلپاره يې وجود هم لازمي دئ او دا کېدای سي ،چي په مسئله کي ددلايلو پر پرېکړه دي تجزيه قبوله کړي اوداهم ممکن دئ ،چي په ځينو مسائلوکي دي ټول شرايط راسي او په ځينومسائلوکي رانه سي.(۳)

۱: (غير المجتهد المطلق يلزمه) عند الجمهور التقليد وان كان مجتهدا في بعض المسائل الفقه او بعض العلوم ... (كالفرائض) ... (علي القول بالتجزي) للاجتهاد اي يلزمه التقليد بناء علي القول بان الاجتهاد يتجزء فيجوز ان يكون شخص مجتهدا في بعض المسائل دون بعض (وهو الحق) اي القول بالتجزي وهوالحق وانه عليه الاكثر (فيما لايقدر عليه من الاحكام) متعلق بالتقليد. تيسير التحرير لامير بادشاه البخاري رحمه الله ج : ۴ ، ص : ۲۴۶، مصطفي البابي مصر ، نېټه : ۱۳۵۱ هـ

۲: فتح الغفار بشرح المنار لابن نجيم مصطفى البابي مصر ، سنه : ۱۳۵۵ هـ ج : ۳ ، ص : ۳۷.

۳: فما كان من الشروط كليا كقوة الاستنباط ومعرفة مجاري الكلام وما يقبل من الادلة وما يرد ونحوه فلا بد من استجماعه بالنسبة الي كل دليل ومدلول فلاتتجزء

سرچينه: تعليم الاسلام راډيو/www.taleemulislam-radio.com

(c) ketabton.com: The Digital Library

په هر صورت داصولو دعلماوو دپورتينو څرګندونو په رڼا کي معلوميږي ،چي يومتبحر عالم ته که ديوې مسئلې ټول اړخونه معلوم وي، دټولو اړخونو دلايل يې ورته معلوم وي ، که څه هم په ټولو شرعي احکامو کي داجتهاد مرتبې ته نه وي رسېدلی خو په دغه يوه مسئله کي داجتهاد مرتبې ته رسېدلی وي ، پردغه عالم لازمه ده ،چي دخپل امام دپرېکړي خلاف پرېکړه وکړي او دا ووايي ،چي زما دامام پرېکړه دفلاني مشهور حديث خلاف ده بالاخره دخپل امام قول ترک کړي او په حديث عمل وکړي.

فقيه العصر حضرت مولانا رشيد احمد ګنګوهي رحمه الله داسي ليکي:

غرض دادئ ،چي که ددې امر ثبوت وسي ،چي دامام قول دقرآن يا حديث څخه خلاف دئ نو دامام قول پرېښودل په آيت يا حديث باندي عمل کول خو لازمي کار دئ مګر پوښتنه داده ،چي داڅېرنه به څنګه عوام خلک وکړي (يعني داچي عوام خلک دا کار نه سي کولای دادمتبحر في المذهب عالم کار دئ[۱])

دپورتنۍ مسئلې ښه تحقيق مولانا اشرف علي تهانوي رحمه الله کړی دئ موږ په دې ځای کي دده مبارک اړونده عبارت ټکي په ټکي رانقلوو که څه هم عبارت اوږد سي پروا يې نه کوو ځکه دده عبارت دموضوع اصلي مغزدئ ،حضرت مولانا اشرف علي تهانوي رحمه الله فرمايي:

تلک الاهلية وماكان خاصا بمسئلة او باب فاذا استجمعه الانسان كان فرضه في ذالک الجزء الاجتهاد . التقرير والتحرير لابن الامير الحاج، ج : ۳ ص: ۲۹۴.

[۱]: سبيل الرشاد ، دمولانا ګنګوهي رحمه الله تاليف، ص : ۳۰ او ۳۱ ، ط : ډهلی ، سنه : ۱۳۵۲ هـ س

سرچينه: تعليم الاسلام راډيو/www.taleemulislam-radio.com

(c) ketabton.com: The Digital Library

که کوم عالم ،چي ذکي الفهم، وسيع النظر او دقيق نظر لرونکی وي او ورته څرګنده سوه او يا عام سړي ته ديوه تقوا لرونکي عالم دځپړني څخه دزړه له صدقه څرګنده سوه ،چي دوهم لوري راجح دئ په دې ځای کي دي وکتل سي ،چي مرجوح لوری هم کوم شرعي دليل لري او که يا؟ که يې دليل درلودئ په دې صورت کي که ددې وړه وه ،چي په خلکو کي به فتنه ، شر او فساد منځته راسي نو دژغورلو په موخه دي بيا هم په مرجوح قول باندي عمل وکړي او دليل يې لاندي حديث دئ:

حضرت عايشة رضي الله عنها فرمايي ،چي رسول الله صلى الله عليه وسلم وفرمايل: تاته نه ده معلومه ،چي ستا قوم قريشو مکه مکرمه پر هغه بنياد نه ده جوړه کړې کوم ،چي ابراهيم عليه السلام جوړه کړې وه؟ عايشة رضي الله عنها وايي : ما ورته وويل: اې دالله جل جلاله رسوله صلى الله عليه وسلم! تاسو يې بېرته پر هغه طريقه جوړه کړئ کومه ،چي دابراهيم عليه السلام طريقه وه؟ رسول الله صلى الله عليه وسلم په جواب کي ورته وفرمايل: که دقريشو زمانه کفر ته نژدې نه وای نوما به خامخا همداسي کړی وای خو زما سره دا وړه ده ،چي که زه دغه کار وکړم خلک به دستي فکرمن سي او وبه وايي ،چي وګورئ! کعبه شريفه يې ونړول نو زه داسي نه سم کولای.

تاسو په پورته حديث کي فکر وکړئ معلومه خبره ده ،چي دکعبې جوړېدل پر ابراهيمي طريقه باندي راجح جانب دئ او نه جوړېدل يې مرجوح جانب دئ رسول الله صلى الله عليه وسلم دفتنې دويري څخه مرجوح جانب غوره کړ، او په همدې مرجوح جانب يې عمل وکړ او راجح جانب يې پرېښودئ.

همدا دحضرت عبدالله بن مسعود رضي الله عنه څخه روايت سوی دئ ،چي ده مبارک يو وخت په سفر کي څلور رکعته لمونځ ادا کړ، چاپوښتنه ځني وکړه ،چي تاسو خو پر حضرت عثمان رضي الله عنه باندي له دې امله نيوکه کول

سرچينه: تعليم الاسلام راډيو www.taleemulislam-radio.com/

(c) ketabton.com: The Digital Library

،چې هغه به په سفر کې څلور رکعته لمونځ اداکاوه او اوس تا خپله په سفر کې څلور رکعته لمونځ ادا کړ، دا ولې؟ ده مبارک په جواب کې وويل ،چې دا کار مې ځکه وکړ، ،چې دشر څخه وېرېدلم نو په دې وجهه ،چې شر اوفتنه رامنځته نه سي نو ځکه مې څلور رکعته لمونځ ادا کړ.

په پورته روايت کې که وکتل سي معلومه خبره ده ،چې دعبدالله بن مسعود ﷺ په آند په سفر کې څلور رکعته لمونځ کول مرجوح قول دئ اودوه رکعته لمونځ کول راجح قول دئ ده مبارک له دې امله ،چې فتنه رامنځته نه سي اوشر پېښ نه سي په مرجوح قول يې عمل وکړ او راجح قول يې پرېښودئ.

په هرصورت دپورته روايتونو څخه معلوميږي ،چې که دشر او دفتنې دپېښېدو وېره وه نو په مرجوح قول باندې عمل کول هم جايز دئ بلکې غوره او اولې کاردئ.

که ،چيرې داسي و ،چې په مرجوح قول باندې دعمل کېدو لپاره هيڅ لاره نه وه يعني داچې واجب پاتېدئ دواجب پاتېدو ګناه رامنځته کېدل ،دمرجوح قول لپاره دقياس پرته بل دليل نه و او دراجح قول لپاره صحيح حديث ددليل په توګه موجود و په داسي حالت کې دشک پرته په صحيح حديث باندې عمل کېږي او تقليد په دغه وخت کې بېخي جايز نه دئ ځکه اصل دين قرآن او حديث دئ ، دتقليد اصلي مقصد هم دادئ ،چې په قرآن او حديث باندې په صحيح ډول ، سلامتي او اسانۍ سره عمل راسي ،په داسي حالت کې ،چې دراجح قول لپاره قوي ، صريح او صحيح حديث موجود وي ، دمرجوح قول لپاره هيڅ دليل موجود نه وي بيا هم په مرجوح قول باندې عمل کول او تقليد په وجه ټينګ پر دربدل دهغه تقليد بلل کېږي ،چې په قرآن حديث او اودعلماوو په ويناووکې يې بدې بيان سوې ده ، پاته دي نه وي ،چې

سرچينه: تعليم الاسلام راډيو/www.taleemulislam-radio.com

(c) ketabton.com: The Digital Library

يوه خبره دياډولو وړه ده هغه داچي په داسي مسئله کي ،چي تقليد پرېښودل سي دخپل امام په وړاندي ګستاخي ، بې ادبي او يا په زړه کي بدګماني ،چي زما امام دحديث څخه مخالفت کړی دئ جايز کار نه دئ ځکه کېدای سي ،چي دا حديث ده ته رسېدلی نه وي ، يا په ضعيف سند سره ورته رسېدلی وي او يا ده په کومه شرعي قرينه ماول کړی وي له همدې امله دی معذور بلل کېږي ، بې ادبي ورسره کول او يا بدي خبري ورته کول جايز کار نه دئ ، داخبره هم بايد ياده سي ،چي دامام په علمي کمال کي نقص پيدا کول هم بې ادبي ده ځکه داسي پېښ سوي دي ،چي لوړو او مخورو اصحبانو ته تر يو وخته پوري احاديث نه وه رسېدلي ، ددوی ددغه حديثونو نه رسېدل ددوی علمي کمال کوم تاوان نه دئ رسولی او نه چا ددوی پر علمي کمال باندي دنقص خبره کړې ده سره ددې ،چي ددوی علمي کمال منل سوی و .

همدا ډول هغه مقلد ته بد رد ويل جايز نه دي ،چي دخپل امام پر خبره کلک ولاړ وي ، کلک مقلد وي او دده ګومان داوي ،چي دده دامام خبره دحديث څخه مخالفه نه ده او دده سره هم دومره علم نه وي ،چي دحديث او دخپل امام دقول ترمنځ دي توپير وکړي ، په پوره تفصيل دي يې پوه سي ، دغه مقلد دحديث صحت ته هم قايل وي مګر دده پر خپل امام باندي نېک ګومان وي ،چي زما امام دشريعت حکم دقرآن او حديث سره برابر کړی دئ زه دخپل امام دقول پوره اطاعت کوم، داسي مقلد ته بدرد ويل جايز نه دئ ځکه دی هم په شرعي دليل باندي متمسک دئ او دايې هوډ دئ ،چي دشريعت اتباع وکړي.

همدا ډول هغه چا ته هم بدرد ويل جايز نه دي ،چي ديوه قوي حديث په وجه يې دخپل امام تقليد په يوه خاصه مسئله کي پرې ايښی وي ځکه

سرچينه: تعليم الاسلام راډيو www.taleemulislam-radio.com/

(c) ketabton.com: The Digital Library

داسي اختلاف داسلافو علماوو څخه را روان دئ ددغه اختلاف اړونده علماوو ويلي دي :

خپل مذهب ظناً صواب ګڼل او محتمل خطاګڼل، بل مذهب ظناً خطا ګڼل او محتمل صواب ګڼل .

يعني داچي په غالب ګومان باندي خپل مذهب حق ګڼل او په لږ شک او احتمال سره خطا ګڼل ، بل مذهب په غالب ګومان سره خطا ګڼل او په لږ شک او احتمال سره حق ګڼل.

دپورته خبري څخه هغه نيوکه هم دفعه سوه ،چي ټول مذهبونه حق دي نو بيا ولي پريوه مذهب باندي عمل وکړل سي؟

لنډه داچي کله داخبره ثابته سوه ،چي بل هم دصواب احتمال لري نو دچا تضليل ، تفسيق کول او يا دبدعتي او وهابي لقب ورکول جايز نه دي ، همدا ډول دهغو سره حسد او عناد جايز نه دئ ، دهغو غيبت کول ، طعن او لعن پر ويل هم جايز نه دي.

دايوه خبره لازمي ده هغه داچي که څوک په عقايدو کي مخالفت وکړي او يا په اجتماعي اسلامي شيانو کي مخالفت وکړي او يا سلف صالحينو ته بد رد ووايي داسي کس داهل السنت والجماعت له ډلي څخه وتلی دئ ځکه اهل السنت والجماعت هغه کسان دي،چي په عقايدو کي اصحابانو ﷺ پر طريقه روان وي ددوی مبارکانو دعقايدو څخه هيڅ مخالفت نه کوي له همدې امله داسي څوک داهل سنت والجماعت څخه وتلی دئ او دبدعتيانو په ډله کي داخل دئ همدا ډول هغه څوک هم ډېر بد دئ ،چي په تقليد کي زياتی کوي ، دقران او حديث په مقابل کي تقليد غوره کوي قرآن او حديث پرېږدي ، ددغه

سرچينه: تعليم الاسلام راډيو/www.taleemulislam-radio.com

(c) ketabton.com: The Digital Library

دواړه ډلو څخه په کلکه باید ځانونه وساتل سي او ددوی سره دمناظرې ، خبرو او استدلال څخه هم باید ځانونه وساتل سي.(۱)

حقیقت دادئ ،چي مولانا تهانوي رحمه الله جل جلاله په مرسته داسي داعتدال لاره څېرلې اوبیان کړې ده ،چي که دزړه له کومي عمل په وکړل سي دمسلمانانو ډېري خپل منځي شخړي او جنجالونه به له منځه ولاړ سي.

دپورته شرطونو په شتون کي متبحر في مذهب عالم کولای سي ،چي په یوه مسئله کي ،چي قوي صریح او صحیح حدیث دلیل ولري دخپل امام څخه مخالفت وکړي ، سره ددې ،چي دغه عالم په دغه مسئله کي دخپل امام څخه مخالف سو خو بیا هم په ټولیزه توګه ورته مقلد عالم ویل کېږي، لکه ،چي ډېرو حنفي علماوو په ډېرو مسئلو کي دامام ابوحنیفة رحمه الله قول پرې ایښی دنورو علماوو پر قول یې فتوا کړې ده دمثال په ډول امام ابوحنیفة رحمه الله فرمایي: دانګورو پرته که دنورو شیانو دشرابو څخه دومره قدر وځیښل سي ،چي محض قوت په حاصل سي جایز دئ ، دامام ابوحنیفة رحمه الله ددغه قول څخه فقهاء کرام مخالف دي دخپل امام قول یې پرې ایښی دئ دنورو مذهبونو په رڼاکي یې دټولو شرابو پر حرمت باندي پرېکړه کړې ده او کوم شراب ،چي په کمه اندازه امام ابوحنیفة رحمه الله جایز کړي دي دوی حرام بللي دي ، همدا ډول دامام ابوحنیفة رحمه الله پر مذهب باندي زراعت (بزګري) جایز کارنه دئ ، مګر دده مبارک ددې قول څخه احناف علماء اوښتي دي او پرېکړه

۱: الاقتصاد في التقليد والاجتهاد ، دحضرت مولانا تهانوي رحمه الله تاليف ، ص: ۴۲ تر تر ۴۵ ، اوم مقصد.

سرچینه: تعلیم الاسلام راډیو www.taleemulislam-radio.com/

(c) ketabton.com: The Digital Library

يې کړې ده ،چې په بزګري کې د حاصل متناسب (ټاکلې برخه) اخيستل روا کار دئ.

دادوه مثالونه ،چې ذکر سوه دا داسې مسئلې دي ،چې دټولو متاخرينو علماوو پر اتفاق دئ که نه نو په انفرادي ډول داسې ډېرې مسئلې سته ،چې فقهاوو ديوه صحيح حديث په وجه خپل مذهب پرې ايښی وي او په حديث يې عمل کړی وي خو داخبره ډېره لازمي ده ،چې داډېر نازک کار دئ هر چا ته دا پکار نه ده ،چې ځان ته دي متبحر عالم ووايي او ځان دي د دې منصب څښتن او اهل وګڼي ځکه دا کار هرڅوک نه سي کولای هيچا ته جايزه نه ده ،چې دپورته شرايطو دپروا او رعايت پرته په شرعي احکامو کې لاس وهنه او تصرف وکړي.

مجتهد في المذهب

دريمه درجه:

دتقليد دريمي درجې ته مجتهد في المذهب تقليد ويل کېږي مجتهد في المذهب هغه چا ته ويل کېږي ،چې داستدلال او استنباط په بنسټيزو مسائلو کې ديوه مجتهد په مطلق ډول سره مقلد وي مګر دهغو اصولو او قواعدو لاندې په کښته جزي مسائلو کې د دې اهليت او وړتيا لري ،چې په مستقيم ډول سره دقرآن ،حديث او داصحابانو ﷺ داثارو څخه دمسائلو استنباط وکړي ، له همدې امله داسي عالم دخپل امام سره په ډېرو فروعي مسائلو کې اختلاف لري خو په ټوليزه توګه داصولو په لحاظ داسي چا ته مقلد ويل کېدای سي لکه په حنفي فقه کې امام ابويوسف رحمه الله او امام محمد رحمه الله ، په شافعي فقه کې امام مزني رحمه الله او امام ابوثور رحمه الله ، په مالکي فقه کې امام

سرچينه: تعليم الاسلام راډيو www.taleemulislam-radio.com/

(c) ketabton.com: The Digital Library

سخنون رحمه الله او امام ابوالقاسم رحمه الله ، په حنبلي فقه کي ابراهيم الحربي رحمه الله او امام ابوبکر الاثرم رحمه الله.

ابن العابدين رحمه الله دپورتنيو علماوو دپېژندګلوی په اړه داسي ليکي:

الثانية طبقة المجتهدين في المذهب كابي يوسف رحمه الله ومحمد رحمه الله وسائر اصحاب ابي حنيفة رحمه الله القادرين علي استخراج الاحكام عن الادلة المذكورة على حسب القواعد التي قررها استاذهم ، فانهم وان خالفواه في بعض احكام الفروع ولكنهم يقلدونه في قواعد الاصول.([1])

ژباړه : دوهمه طبقه مجتهدين في المذهب دي لکه ابويوسف رحمه الله ، امام امحمد رحمه الله او دامام ابوحنيفة رحمه الله نور اصحاب ،چي داحکامو پر استنباط باندي دیادو دلايلو په رڼا کي توانايي لري دهغو اصولو پر بنسټ ،چي استاذانو ورته ټاکلي دي ، دغه علماء که څه هم په فروعي مسائلو کي دخپلو امامانو څخه مخالف دي مګر دوی په اصولو کي دخپلو امامانو تقليد کوي او مقلدين ورته ويل کېږي.

همدا لامل دئ ،چي مجتهد في المذهب ته داصولو په لحاظ مقلد ويل کېږي او دفروعو په لحاظ مجتهد ورته ويل کېږي. همدا وجه ده ،چي دامام ابويوسف رحمه الله او امام محمد رحمه الله سره ددې ،چي حنفيان دي بيا هم دامام ابوحنيفة رحمه الله سره په ډېرو فروعي مسائلو کي اختلاف لري.

[1]: شرح عقود رسم المفتي لابن العابدين ، ص : ۴ ، ط : دارالاشاعة کرا،چي ، سنة ۱۳۷۸ هـ

سرچينه: تعليم الاسلام راډيو/www.taleemulislam-radio.com

(c) ketabton.com: The Digital Library

دمجتهد مطلق تقليد

څلورمه درجه:

دا دتقليد وروستۍ اواخره درجه ده ، مجتهد مطلق هغه کس ته ويل کېږي ،چې په ده کې داجتهاد ټول شرطونه موجود وي ، نومورې عالم دخپل علم او فهم په مټ کولای سي ،چې داستدلال اصول دقرآن اوحديث څخه وضع کړي ، تر دغه اصولو لاندې کولای سي ،چې شرعي احکام دقرآن او حديث څخه استنباط کړي لکه امام ابوحنيفة رحمه الله ، امام شافعي رحمه الله ، امام مالک رحمه الله ،امام احمد بن حنبل رحمه الله او داسي نور وتلی علماء ، دغه علماء که څه هم په فروعي او اصولي مسائلو کې مجتهدين بلل کېږي مګر بيا هم دوی ته يو ډول مقلدين ويل کېږي ځکه کومه مسئله ، چې په څرګند ډول په قرآن او حديث کې واضح سوې نه وي نو د غه علماء ددې پرځای ،چې دخپلې رايې او قياس څخه کار واخلي او فيصله وکړي هڅه کوي ،چې دمبارکو اصحابانو رضي الله عنهم څخه داسي قول يا فعل پيدا کړي ،چې دارونده مسئلې حل پکښې وي ، که دوی ته ديادي مسئلې دحل لپاره داصحابانو مبارکانو قول يا فعل په لاس ورغلی نو دوی دخپلې رايې او قياس پرځای ددغه اصحابانو رضي الله عنهم دقول يا فعل په رڼا کې فيصله کوي او ددې لپاره زيات شمېر مثالونه هم سته ،چې ځينې يې په لاندې ډول دي:

۱: لومړی مثال هغه مکتوب دئ ،چې حضرت عمر رضي الله عنه دقاضي شريح په نوم ليکلی او استولی و ، امام شعبي رحمه الله دغه بيان په لاندې ډول کوي:

سرچينه: تعليم الاسلام راډيو www.taleemulislam-radio.com/

(c) ketabton.com: The Digital Library

عَنِ الشَّعْبِيِّ عَنْ شُرَيْحٍ : أَنَّ عُمَرَ بْنَ الْخَطَّابِ كَتَبَ إِلَيْهِ : إِنْ جَاءَكَ شَيْءٌ فِي كِتَابِ اللَّهِ فَاقْضِ بِهِ وَلاَ تَلْتَفِتْكَ عَنْهُ الرِّجَالُ ، فَإِنْ جَاءَكَ مَا لَيْسَ فِي كِتَابِ اللَّهِ فَانْظُرْ سُنَّةً عَنْ رَسُولِ اللَّهِ -صلى الله عليه وسلم- فَاقْضِ بِهَا ، فَإِنْ جَاءَكَ مَا لَيْسَ فِي كِتَابِ اللَّهِ وَلَمْ يَكُنْ فِيهِ سُنَّةٌ مِنْ رَسُولِ اللَّهِ -صلى الله عليه وسلم- فَانْظُرْ مَا اجْتَمَعَ عَلَيْهِ النَّاسُ فَخُذْ بِهِ ، فَإِنْ جَاءَكَ مَا لَيْسَ فِي كِتَابِ اللَّهِ وَلَمْ يَكُنْ فِي سُنَّةِ رَسُولِ اللَّهِ -صلى الله عليه وسلم- وَلَمْ يَتَكَلَّمْ فِيهِ أَحَدٌ قَبْلَكَ فَاخْتَرْ أَيَّ الأَمْرَيْنِ شِئْتَ : إِنْ شِئْتَ أَنْ تَجْتَهِدَ رَأْيَكَ ثُمَّ تَقَدَّمَ فَتَقَدَّمْ ، وَإِنْ شِئْتَ أَنْ تَأَخَّرَ فَتَأَخَّرْ ، وَلاَ أَرَى التَّأَخُّرَ إِلاَّ خَيْراً لَكَ.(۱)

ژباړه : حضرت شريح رحمه الله فرمايي: ماته عمر رضي الله عنه يو ليک راولېږئ په ليک کي يې راته ليکلي وه : که ،چيري تاته کومه مسئله راسي نو که يې حل په قرآن کي و نو دقرآن په رڼا کي يې پرېکړه وکړه خو دخلکو شخصي رايي تا دقرآن دفيصلې څخه ونه باسي او که په قرآن کي دغه مسئله حل نه وه نو بيا درسول الله صلى الله عليه وسلم سنتو ته رجوع وکړه او دسنت رسول الله صلى الله عليه وسلم په رڼا کي پرېکړه وکړه ، که داسي مسئله درته راغله ،چې په قرآن او حديث کي يې حل نه و نو بيا يې پر داسي ډول باندي حل کړه ،چې مخکني خلک پر متفق سوي وي او عمل په وکړه، که داسي مسئله درته راغله ،چې په قرآن او حديث کي نه وه او نه درتا وړاندي کوم چا په دې اړه پرېکړه کړې وه نو بيا يوه ددې دوو خبرو څخه ياد وساته ياداچي دغه مسئلې دخپلې رايي مطابق حل کړه او يا ځان ځني وساته او زه ستا لپاره دا وروستۍ خبره خوښوم.

۱: سنن الدارمي ، ج : ۱ ، ص : ۵۵ ، ح : ۱۶۹ ، باب الفتيا وما فيه من الشدة ، ط : مدينة المنورة

سرچينه: تعليم الاسلام راډيو www.taleemulislam-radio.com/

(c) ketabton.com: The Digital Library

تاسو وګورئ سره ددې ،چې حضرت شريح رحمه الله مطلق مجتهد و مګر بيا هم حضرت عمر رضي الله عنه هغه وخت دخپل نظر اجازه ورکړه ،چې داسلافو څخه داړونده مسئلې په اړه څه شي نه وي نقل سوی.

په پورته ډول دعبدالله بن مسعود رضي الله عنه څخه هم روايت مخکې دمطلق تقليد په مثالونو کې تېر سوی دئ.

۲: همدا ډول په سنن دارمي کې عبيدالله بن ابي يزيد رحمه الله فرمايي:

عَنْ عُبَيْدِ اللَّهِ بْنِ أَبِي يَزِيدَ قَالَ : كَانَ ابْنُ عَبَّاسٍ إِذَا سُئِلَ عَنِ الأَمْرِ فَكَانَ فِي الْقُرْآنِ أَخْبَرَ بِهِ ، وَإِنْ لَمْ يَكُنْ فِي الْقُرْآنِ وَكَانَ عَنْ رَسُولِ اللَّهِ -صلى الله عليه وسلم- أَخْبَرَ بِهِ ، فَإِنْ لَمْ يَكُنْ فَعَنْ أَبِي بَكْرٍ وَعُمَرَ ، فَإِنْ لَمْ يَكُنْ قَالَ فِيهِ بِرَأْيِهِ. (۱)

ژباړه : دعبدالله بن عباس رضي الله عنه څخه ،چې به کله ديوې مسئلې پوښتنه وسوه نو که به دهغې مسئلې حل په قرآنکريم کې و نو ده به لومړی دقرآنکريم په رڼا کې دهغې مسئلې حل کاوه که به په قرآن کې نه و نو بيا به يې درسول الله صلى الله عليه وسلم دسنتو مطابق هغه مسئله حل کول ، که به په سنتو کې دنبي صلى الله عليه وسلم هم نه وه نو بيا يې کتل که به دابوبکر رضي الله عنه يا عمر رضي الله عنه څخه کوم قول يا فعل ثابت و دهغه په رڼا کې به يې حل کول ، که به ددوی مبارکانو څخه څه شي ثابت نه و نو بيا به يې په خپله رايه اجتهاد کاوه.

حضرت عبدالله بن عباس رضي الله عنه مطلق مجتهد و مګر ده لومړيتوب دابوبکر رضي الله عنه او عمر رضي الله عنه قولونو ته ورکاوه او ددوی تقليد به يې کاوه ،که به دهغو څخه څه شی ثابت نه و بيا يې خپلې رايې او نظر ته رجوع کول.

۱: سنن الدارمي ، ج : ۱ ، ص : ۵۵ ، ح : ۱۶۸ ، باب الفتيا وما فيه من الشدة ، ط : مدينة المنورة

سرچينه: تعليم الاسلام راډيو www.taleemulislam-radio.com/

(c) ketabton.com: The Digital Library

۳ : همدا ډول په سنن دارمي کي روايت دي:

.... عَنِ الشَّعْبِيِّ قَالَ : جَاءَهُ رَجُلٌ يَسْأَلُهُ عَنْ شَيْءٍ ، فَقَالَ : كَانَ ابْنُ مَسْعُودٍ يَقُولُ فِيهِ كَذَا وَكَذَا. قَالَ : أَخْبِرْنِي أَنْتَ بِرَأْيِكَ. فَقَالَ : أَلاَ تَعْجَبُونَ مِنْ هَذَا؟ أَخْبَرْتُهُ عَنِ ابْنِ مَسْعُودٍ وَيَسْأَلُنِي عَنْ رَأْيِي ، وَدِينِي عِنْدِي آثَرُ مِنْ ذَلِكَ ، وَاللَّهِ لأَنْ أُتَغَنَّى أُغْنِيَّةً أَحَبُّ إِلَيَّ مِنْ أَنْ أُخْبِرَكَ بِرَأْيِي (۱)

ژباړه : حضرت شعبي رحمه الله ته يو کس راغلی ديوې مسئلې په اړه يې پوښتنه ځني وکړه ،چې شعبي رحمه الله جواب ورکړ او ورته وې ويل ،چې دابن مسعود رضي الله عنه نظر په دې اړه داسي دئ ، هغه سړي ورته وويل : په دې اړه ستا څه نظر دئ؟ ده په جواب کي ورته وويل: تاسو ولي ودې کس ته تعجب نه کوئ ؟زه ورته دابن مسعود رضي الله عنه نظر وايم دی راته وايي په دې مسئله کي ستا څه نظر دئ؟ په الله جل جلاله قسم کوم ،چې که ته ماته سندري ووايي ماته ددغه سندري اوريدل تردې ښه دي ،چې زه خپل نظر ددغه مسئلې په اړه ووايم.

شعبي رحمه الله هم مطلق مجتهد و دامام ابوحنيفة رحمه الله استاد و مګر ده لومړيتوب دابن مسعود رضي الله عنه قول ته ورکاوه ، دهغه تقليد ته يې تر خپل نظر زيات اهميت ورکاوه.

۴ : امام بخاري رحمه الله په کتاب الاعتصام بالکتاب والسنة کي ددې آيت په تفسير کي ،چې الله جل جلاله فرمايي:(واجعلنا للمتقين اماما) دمجاهد رحمه الله قول تعليقا رانقل کړی دئ ،چې وايي:

ائمة نقتدي بمن قبلنا ويقتدي بنا من بعدنا.

۱: سنن الدارمي ، ج : ۱ ، ص : ۴۵ ، ح :۱۰۹، باب تورع عن الجواب فيما ليس فيه كتاب ولاسنة ، ط : مدينة المنورة

سرچينه: تعليم الاسلام راډيو www.taleemulislam-radio.com/

(c) ketabton.com: The Digital Library

ژباړه : اې الله ﷻ! موږ داسي امامان جوړ کړې ،چې موږ په هغه چا پسې اقتدا وکړو ،چې تر موږ مخکې تېر سوي دي او په موږ پسې هغه کسان اقتدا وکړي ،چې تر موږ وروسته راځي.

حافظ ابن حجر رحمه الله فرمايي:

دمجاهد رحمه الله پورتنی قول ابن جرير رحمه الله ، فاريابي رحمه الله او نورو علماوو په صحيح سند سره روايت کړی دئ.

ورپسې ابن حجر رحمه الله دپورتنی آيت دتفسير اړونده نور آثار هم رانقل کړي دي او بيا يې دابن ابي حاتم رحمه الله په حواله دسدي رحمه الله دا قول هم رانقل کړی دئ ،چې فرمايي:

ليس المراد ان نؤم الناس وانما ارادوا اجعلنا ائمة لهم في الحلال والحرام يقتدون بنا فيه.

ژباړه : ددې مراد دا نه دئ ،چې موږ دخلکو امامت وکړو بلکې مراد يې دادئ ،چې اې الله ﷻ! موږ په حلال او حرام کې امامان جوړ کړي ،چې دوی په موږ پسې اقتدا وکړي.

ابن ابي حاتم رحمه الله دجعفر بن محمد رحمه الله داقول هم رانقل کړی دئ ،چې فرمايي:

معناه اجعلني رضا فاذا قلت صدقوني وقبلوا مني.(۱)

ژباړه : (دپورتنی آيت) معنا داده ،چې ماته په خلکو کې مقبوليت راکړي ، کله ،چې زه خبره وکړم خلک يې تصديق کړي او زما څخه يې قبوله کړي.

په هر صورت دپورتنی آيت دتفسير اړونده خو دنورو علماوو داقوالو ذکر استطردادا وسو مګر اصلي مطلب داو ،چې حضرت مجاهد رحمه الله

۱: فتح الباري للحافظ ابن جرير رحمه الله ، ج : ۱۳ ، ص : ۲۱۰، ۲۱۱، ط : ميريه.

سرچينه: تعليم الاسلام راډيو/www.taleemulislam-radio.com

(c) ketabton.com: The Digital Library

خوښه وګڼل ،چې دی په پخوانيو خلکو پسې اقتداء او تقليد وکړي، دوروسته خلکو لپاره يې هم دا خوښه کړه ،چې هغوی دي په مخکنيو امامانو پسې اقتدا وکړي سره ددې ،چې امام مجاهد رحمه الله مجتهد مطلق دئ او دعامو علماوو او عامو خلکو لپاره دتقليد يو مثال دئ.

پر تقليد باندي شکونه او نيوکي

په تېرو پاڼو کي ،چې په کوم ډول دتقليد حقيقت څرګند سوی دئ ، دقرآن او حديث څخه ،چې کوم مثالونه راوړل سوي دي ، دتقليد اړونده ،چې دمقلد کومي درجاتي او احکام بيان سوي دي که هغه په پوره ډول په ذهن کي ونيول سي نو کوم شبهات او اعتراضونه ،چې پر تقليد باندي واردېږي هغه خپل دفعه کېږي او له منځه ځي خو بيا هم مناسبه داده ،چې ځيني هغه اعتراضونه په خاصه توګه راوړل سي ،چې په زړه کي زيات را وړاندي کېږي يا په عمومي توګه دمخالفو حضراتو پر ژبو باندي زيات جاري وي او هر وخت يې په شد او مد سره بيانوي.

په قرآنکريم کي دپلرونو او نيکه ګانو تقليد

۱: لومړی اعتراض پر تقليد باندي داکېږي ،چې قرآنکريم دتقليد بدي په لاندي آيت کي بيان کړې ده:

وَإِذَا قِيلَ لَهُمُ اتَّبِعُوا مَا أَنزَلَ اللّهُ قَالُواْ بَلْ نَتَّبِعُ مَا أَلْفَيْنَا عَلَيْهِ آبَاءنَا أَوَلَوْ كَانَ آبَاؤُهُمْ لاَ يَعْقِلُونَ شَيْئاً وَلاَ يَهْتَدُونَ. ([1])

[1]: سورة بقرة ، اية ۱۷۰

سرچينه: تعليم الاسلام راډيو/www.taleemulislam-radio.com

(c) ketabton.com: The Digital Library

ژباړه : کله ،چې دوی ته وویل سي : دهغه احکامو پیروي وکړئ ،چې الله ﷻ نازل کړي دي ، دوی وایي موږ دهغه څه پیروي کوو ،چې زموږ دخپلو پلرونو اونیکونو تګ لاره وه ، که څه هم ددوی پلرونه په هیڅ شي نه پوهیږي او نه پر هدایت وي.

مخکې ،چې کومې څېړنې دتقلید په اړه وسوې که هغو ته دوکتل سي او دانصاف په نظر غور باندې وسي په ښکاره توګه داشبه لیري کېږي ،چې (معاذالله) دامامانو تقلید کونکي هم تر دې آیت لاندې دي.

دلاسپیناوي په موخه باید ووایو ،چې لومړی خو کوم آیت ،چې ذکر سوی دئ او په آیت کې ،چې کوم څوک ښودل سوي دي هغه مشرکان دي یعني داچې په دغه آیت کې بنسټیزې عقیدې ښودل سوي دي لکه توحید ، رسالت ، دآخرت بیان او داسې نور، کله ،چې به مشرکانو ته دتوحید دعوت ورکړل سو دهغه احکامو دپلي کېدو دعوت به ورکړل سو کوم ،چې دالله ﷻ دلوري څخه نازل کړل سوي وه دوی به خپل پلرونه او نیکونه بهانه کړل ،چې زموږ دغه دشرک عقیده موږ ته دپلرونو او نیکونه څخه په میراث پاته ده ، موږ دهمدغه عقیدې پیروي کوو ،چې موږ ته راپاته ده ، دتوحید عقیده موږ نه سو منلای حاصل داچې مشرکانو به ویل ،چې موږ په دغه بنیادي عقیدو کې لکه توحید او رسالت موږ دالله ﷻ دلوري څخه عقیده نه منو دخپلو پلرونو عقیده منو. زموږ په آند هم داخبره ده ،چې په اسلامي دین کې په بنیادي عقیدو کې تقلید حرام دئ ، زموږ دفقه شریفې ټولو علماوو دا مسئله لیکلې ده ،چې په عقایدو او ضروري شیانو کې تقلید نه سي راتلای ځکه دا شیان نه داجتهاد محل کېدای سي او نه دتقلید ، دمثال په ډول امیر بادشاه بخاري رحمه الله دتحریر اصول په شرح کې لیکي:

سرچینه: تعلیم الاسلام راډیو/www.taleemulislam-radio.com

(c) ketabton.com: The Digital Library

(فيما يحل الاستفتاء فيه)الاحكام الظنية لاالعقلية المتعلقة بالاعتقاد فان المطلوب فيها العلم (علي) المذهب (الصحيح) فلايجوز التقليد فيها بل يجب تحصيلها بالنظر الصحيح... (كوجود ه تعالى).([1])

ژباړه : هغه مسائل ،چې پوښتنه پکښې کول جايز دي هغه ظني احکام دي ، نه هغه عقلي احکام دي ،چې په عقيده پوري اړه لري ځکه په دغه شيانو کي قطعي علم پکار دئ، همدا صحيح مذهب دئ ،چې په اعتقاد کي تقليد جايز نه دئ ، بلکي په دغه اعتقاداتو کي اختيار او خپلواکي په صحيح استدلالاتو باندي پکار دئ لکه دالله ﷻ وجود.

کوم تقليد ،چې په پورته آيت کي ياد سوی دئ او بد تقليد ورته ويل سوی دئ هغه تقليد دئ ،چې زمونږ امامانو هم ناجايز کړی دئ او بد يې ورته ويلي دي لکه خطيب بغدادي رحمه الله ،چې په اصول عقايد کي دغه تقليد ناجايز بللی دئ او په پورتني آيت باندي يې دليل ويلی دئ.([2])

دوهمه خبره داده ،چې په پورتني آيت کي الله ﷻ دتقليد بدي بيان کړې ده او ددغه تقليد دبدۍ لپاره يې دوه سببونه ښودلي دي لومړی داچې کافرانو دهغو احکامو څخه انکار کاوه کوم ،چې دالله ﷻ دلوري څخه نازلېدل ددغه نازل سوو احکامو پر ځای يې دخپلو پلرونو اونيکه ګانو باطل احکام منل يعني دالهي احکامو څخه منکر وه کفري احکام يې منل ، دوهم سبب الله ﷻ دا ښودلی دئ ،چې ددغه کافرانو پلرونه او نيکه ګان دعقل او هدايت دواړو څخه خالي وه، مونږ ،چې کله تقليد کوو دغه دوه سببونه دواړه مفقود دي ځکه هيڅ يو مقلد داسي نه وايي

---

[1]: تيسير التحرير، لامير بادشاه الحنفي رحمه الله ج : ۴ ، ص : ۲۴۳، دزياتو معلوماتو لپاره وګورئ: التقرير والتحبير لابن امير الحاج ، ج : ۳ ص : ۳۴۳.

[2]: الفقه والمتفقه ، ج : ۲ ، ص : ٦٦.

سرچينه: تعليم الاسلام راډيو www.taleemulislam-radio.com/

(c) ketabton.com: The Digital Library

،چي مورِ الهي احكام نه منو ، دالله ﷻ او رسول الله ﷺ خبره نه منو او پر ځای يې دخپل مشر يا امام خبره منو بلكي هر مقلد دخپل امام خبره دقرآن او حديث دشارح په توګه مني او بيا دهغه تشريح په رڼا كي په قرآن او حديث باندي عمل كوي ، همدا ډول دوهم سبب هم دلته مفقود دئ ځكه كوم كسان ،چي دحق څښتنان دي هغوی بالكل ددې خبري څخه مخ نه اړوي ،چي هغه امامان ،چي تقليد يې كړي كه څه هم هر څومره اختلاف ورسره لري مګر ددغو امامانو عزت او منزلت ته په اهتمام سره قايل دي ، هيڅوک ددوی پر قدر او منزلت باندي سترګي نه پوڼوي ،څوک ،چي ددوی تقليد دكافرانو دتقليد سره ايږدي او دوی دكافرانو دګمراهانو پلرونو او نيكونو سره برابروي دا ډېره دظلم او ګناه خبره ده.

داحبارو او رهبانو تقليد

۲: ځيني خلک دامامانو پر تقليد باندي لاندي آيت دليل وايي:

اتَّخَذُوا أَحْبَارَهُمْ وَرُهْبَانَهُمْ أَرْبَابًا مِّن دُونِ اللَّهِ.(۱)

ژباړه : دوی خپل علماء او تارک الدنيا زاهدان دالله ﷻ پرځای خپل خدايان ګڼلي دي.

مخكي مورِ پردې خبره باندي په تفصيل سره خبري كړي وې ،چي ديوه مجتهد تقليد په دې معنا نه دئ ،چي مجتهد دشرعي قانون بنسټ ايښودونكی دئ بلكي دمجتهد تقليدپه دې معنا دئ ،چي نوموړی مجتهد دشرعي قانون شارح او تفصيل وركونكی دئ نه داچي نوموړی

۱: توبة ، اية : ۳۱.

سرچينه: تعليم الاسلام راډيو www.taleemulislam-radio.com/

(c) ketabton.com: The Digital Library

مجتهد دقانون له سره جوړوي ، دداسي مجتهد اتباع په پورته معنا کېږي، مجتهد خپل ځان په ذاتي اعتبار سره واجب الاتباع نه بولي بلکي دقرآن او حديث ،چي ده کوم تشريحات او څرنګوالی کړی دئ خلک دهغو تشريحاتو پيروي کوي ، دغه مجتهد ته دشارع په سترګه نه ګوري.

زما پر پورته تبصره باندي مولانا اسماعيل سلفي يو اعتراضيه مضمون ليکلی دئ نومورې عالم ليکلی دي ،چي پورته تبصره په کټ مټ ډول هغسي ده لکه برېلويان ،چي وايي: مورږ اهل قبور خدايان نه بولو ، نه مزارونه او خانقاوي مستقل بالذات خدای بولو بلکي مورږ دلته مجازا خدای ګڼو او يا دنائب عقيده لرو ، اويا وايي ،چي مورږ په دغه شيانو سره توسل کوو او يا وايي ،چي دغه شيان والله ﷻ ته زمورږ شفاعت کوي او داسي نور خو دا ټوله شيان دشرک لاري خلاصوي ، برېلويان دشرک دلارو دخلاصېدو لپاره ډول ، ډول حيلې جوړوي نو په دې بنياد پورته تبصره همداسي ده.(۱)

دپورتنی سوال په جواب کي بايد وويل سي ،چي که برېلويانو د (بالذات) او يا (بالواسطه) استعمال غلط ځای کړی وي نو ددې معنا خو دانه ده ،چي هر چا که د (بالذات) او يا د (بالواسطه) نوم ياد کړ، هغه نو دبرېلويانو په څېر کړنه کړې ده دلا ښه سپېناوي لپاره ويلای سو ،چي علامه ابن تيمية رحمه الله داسي څوک ،چي دبرېلويت سايه لاهم باندي سوې نه وه هغه هم دغه اصطلاح يادې کړې ده او وايي:

۱: تحريک ازادي فکر ، ص : ۱۳۸ دمولانا محمد اسماعيل سلفي ليکنه، مکتبة نذيريه ، ،چيچا وطني.

سرچينه: تعليم الاسلام راډيو/www.taleemulislam-radio.com

(c) ketabton.com: The Digital Library

انما يجب علي الناس طاعة الله ورسوله وهؤلاء اولو الامر الذين امر الله بطاعتهم ... انما تجب طاعتهم تبعا لطاعة الله ورسوله لااستقلالا.(۱)

ژباړه : بېشکه دالله ﷻ او درسول الله ﷺ اطاعت پر خلکو باندي واجب دئ ، دعلماوو او حُکامو اطاعت هم الله ﷻ امر کړی دئ... ددوی اطاعت دالله ﷻ او درسول الله ﷺ داطاعت تبعه دئ ، ددوی اطاعت مستقل بالذات نه دئ.

علامه ابن تيمية رحمه الله په خپله مستقل بالذات او بالواسطه اطاعت یاد کړی دئ نو دې ته دبريلويانو په څېر فقره ويل کېږي.

علامه ابن تيميه رحمه الله په بل ځای کي فرمايي:

فطاعة الله ورسوله وتحليل ما احله الله ورسوله وتحريم ما حرمه الله ورسوله وايجاب ما اوجبه الله ورسوله واجب علي جميع الثقلين الانس والجن واجب علي كل احد في كل حال سرا وعلانية لكن لما كان من الاحكام مالايعرفه كثير من الناس رجع الناس في ذالک الي من يعلمهم ذالک لانه اعلم بما قال الرسول واعلم بمراده : فائمة المسلمين الذين اتبعوهم وسائل وطرق وادلة بين الناس وبين الرسول يبلغوهم ما قاله ويفهموهم مراده بحسب اجتهادهم واستطاعتهم ، وقديخص الله هذا العالم من العلم والفهم ما ليس عند الاخر.(۲)

ژباړه : دالله ﷻ او درسول الله ﷺ اطاعت کول ، کوم شيان ،چي الله ﷻ او رسول الله ﷺ حلال کړي دي هغه حلال بلل ، کوم شيان ،چي الله ﷻ او رسول الله ﷺ حرام کړي دي هغه حرام بلل او هغه شيان ،چي الله ﷻ او رسول الله ﷺ واجب بللي دي هغه واجب بلل ـ دغسي کړني پر انسان او پېري دواړو باندي واجب دي په پټه اوښکاره پر واجب دي مګر يوه خبره سته هغه داچي ځيني داسي احکام سته ،چي ډېر خلک نه

۱: فتاوى ابن تيمية رحمه الله ، ج :۲ ، ص: ۴۶۱.

۲: فتاوای ابن تيمية رحمه الله ج : ۲ ، ص: ۲۳۹

سرچينه: تعليم الاسلام راډيو www.taleemulislam-radio.com/

(c) ketabton.com: The Digital Library

په پوهيږي نو هغه چا ته رجوع کوي ،چې هغه په دغو مسائلو باندي پوهيږي ځکه داسي علماء درسول الله ﷺ په ويناو باندي ښه پوهيږي او مراد يې ښه ورته معلوم وي ، دمسلمانانو امامان ،چې دوی يې پيروي کوي په حقيقت کي دوی درسول الله ﷺ او دخلکو ترمنځ دوسيلو حيثيت لري او درهنمود حيثيت لري، دوی هڅه کوي ،چې مسلمانانو ته درسول الله ﷺ لارښوونې ورسوي او دخپل توان په اندازه دوی درسول الله ﷺ د لارښوونو په اصلي مراد پوه کړي، کله داسي وي ،چې الله ﷻ ځينو خلکو ته داسي علم او فهم ورکړی وي ،چې دنورو سره نه وي.

تاسو ښه فکر وکړئ ،چې مقلدين له دې څخه زيات نور څه ووايي؟ دکتاب په پيل کي ،چې موږ دتقليد کوم حقيقت بيان کړی دئ هغه يو وښته هم ددې څخه زيات نه دئ.

حقيقت دادئ ،چې دمستقل بالذات او بالواسطه ترمنځ توپير کول هغه وخت غلط دئ ،چې يوازي دغه توپير ديوې بهانې په توګه استعمال کړل سي که نه نو پر بالواسطه باندي بايد هغه احکام تطبيق کړل سي کوم ،چې پر بالواسطه باندي تطبيق کېږي. مقلدين ببخي ددې کار خلاف دي او يوازي دخولې خبره نه بلکي مخکي موږ پوره ددې خبري څرنګوالی وکړئ ،چې امامان بالذات واجب الاطاعة نه دي ، موږ دتقليد لپاره لاندي ټکي لازمي بللي دي:

۱ : ددين په بنسټيزو عقايدو کي تقليد جايز نه دئ.

۲ : ددين ،چې کوم احکام دتواتر په طريقه سره ثابت دي په هغو کي دهيڅا تقليد نه سي کېدای او نه جايز دئ.

۳ : دقرآن او حديث ،چې کوم نصوص قطعي الدلالت دي او څه معارض نه لري په هغه کي دهيڅ امام تقليد ته اړتيا نه سته.

سرچينه: تعليم الاسلام راډيو/www.taleemulislam-radio.com

(c) ketabton.com: The Digital Library

۴ : تقليد يوازي ددې لپاره دئ ،چې دقرآن يا حديث دکوم متن څخه څو معناوي اخيستل کېږي نو په دغو معناوو کي ديوې دټاکلو لپاره ددې پرځای ،چې خپل ذهن او فکر په کارواچول سي ديوه مجتهد او امام نظر ومنل سي، اعتماد پر وسي او عمل باندي وکړل سي.

۵ : دټول مسلمان امت له آنده ټوله مجتهدين دګناه څخه پاک دي او دخطا څخه پاک نه دي ځکه کېدای سي ددوی په اجتهادي کړنو کي دخطا احتمال شتون ولري.

٦: که کوم متبحر عالم ديوه مجتهد خبره وويني ،چې دصحيح او صريح حديث څخه خلاف وي ، معارض هم نه ولري نو دشرايطو په نظر کي نيولو سره ،چې بيان يې په پوره ډول مخکي تير سو ـ دغه عالم به دمجتهد خبره پريږدي او پرده باندي واجب ده ،چې په هغه صحيح حديث باندي عمل وکړي.

که ددغه خبرو سره بياهم تقليد شرک وي او پردې کار باندي دا الزام لګول کېږي ،چې مقلدينو خپل عالمان خدايان ګڼلي دي او دشرک وعيد ورته اورېدل کېږي نو بيا په دنيا کي کوم داسي کار سته ،چې دشرک څخه خالي وي.

کوم کسان ،چې تقليد نه کوي هغو ته هم هيڅ چاره نسته ،چې په يو ډول نه په يو ډول ، په يو حيثيت نه په يو حيثيت په تقليد اخته کېږي ځکه غير مقلدين ټوله داسي نه دي ،چې دمور دنس څخه عالم پيدا سوی دئ ، نه هرڅوک عالم جوړېدای سي ، که عالم هم سي نو هرځای ده ته دقرآن او حديث ذخيره په لاس نه سي ورتلای لکه دغير مقلدينو عام خلک ،چې دخپلو علماوو څخه پوښتنې کوي.

غيرمقلدينو ،چې کومي فتاواوي نشر او خپرې کړي دي لومړی خو يې دټولو مسائلو لپاره دلايل نه دي ويلي که يې ويلي هم وي نو عام

سرچينه: تعليم الاسلام راډيو/www.taleemulislam-radio.com

(c) ketabton.com: The Digital Library

خلک ،چيري ددې فيصله کولای سي ،چې ددوی دغه دلايل صحيح دي او که صحيح نه دي له همدې امله دعلماوو پر فهم او ذکاوت باندي اعتماد کول همدا دتقليد نوم دئ.

کوم خلک ،چې دغير مقلدينو علماء دي هغه دي په انصاف سره داخبره وکړي ،چې دوی دهري مسئلې دحل لپاره دقرآن او حديث څخه مسئله استنباط کولای سي ، دوی دومره توانايي لري ،چې دا کار ترسره کړي ، دوی که ددغه پوښتنې په جواب کي پر حقيقت سترګي پټې نه کړي په انصاف جواب ووايي نو ددوی جواب به منفي وي. ښکاره خبره ده ،چې دغه غير مقلدين علماء خپله دقرآن او حديث څخه دمسائلو استنباط نه سي کولای بلکي دوی هم دپخوانيو علماوو کتابونو ته رجوع کوي خو يوازي دومره توپير لري ،چې دوی دحنفي ، مالکي ، حنبلي او شافعي علماوو پرځای دابن تيمية ، ابن حزم ، ابن القيم او قاضي شوکاني په څېر علماوو ته مراجعه کوي ، دوی په هره مسئله کي ددغه علماوو څېړني رانقلوي او دمسئلې حل په کوي ځکه دوی وايي ،چې پورتني علماء دقرآن او حديث ښه عالمان وه ، دوی وايي ،چې ددغه علماوو ويناوي دقرآن او حديث سره ټکر نه لري.

همدا ډول که دغه غيرمقلدينو علماووته ددې زمنه مساعده ،چې دحديثو ذخيره هرځای په لاس ورسي نو بيا ددوی سره خپله ځاني پوهه نسته بلکي دوی دحديث دمعلومولو لپاره دجرح او تعديل دامامانو تقليد کوي دمثال په ډول ځيني وخت غير مقلدين علماء يو حديث رد کړي او وايي ،چې داحديث ضعيف دئ ، که دده څخه پوښتنه وسي ،چې ددې حديث دضعف لپاره ته څه دليل لري؟ نو دی په جواب کي فقط دومره وايي ،چې فلاني محدث دا حديث ضعيف بللی دئ ، يا پر فلاني راوي باندي فلاني محدث جرح کړې ده کوم کسان ،چې دجرح

سرچينه: تعليم الاسلام راډيو www.taleemulislam-radio.com/

(c) ketabton.com: The Digital Library

او تعديل په کتابونو کي معلومات لري هغو ته معلومه ده ،چي هر وخت دجرح او تعديل په کتابونو کي دجرح او تعديل لپاره دلايل موجود نه وي بالاخره ددغه فن د عالمانو پر تحقيق باندي اعتماد کېږي ، کله داسي وي ،چي ديوه صحيح حديث په مقابل کي بل په صحيح سند حديث راغلی وي نو غير مقلدين حضرات دغه دوهم حديث له دې امله ردوي ،چي فلاني محدث دغه حديث ته معلول يا مرجوح ويلي دي اوس نو که دغسي کړني ته تقليد نه ويل کېږي نو څه ورته ويل کېږي؟ که څوک په دغه موضوع کي پردوی باندي لاندنی آيت دليل ووايي:

اَتَّخَذُوْٓا اَحْبَارَهُمْ وَرُهْبَانَهُمْ اَرْبَابًا مِّنْ دُوْنِ اللّٰهِ.(۱)

ژباړه : دوی خپل علماء او تارک الدنيا زاهدان دالله ﷻ پرځای خپل خدايان ګڼلي دي.

غيرمقلدين به پرته له دې څخه ،چي په جواب کي لاندي خبره وکړي بله دليل نه لري:

موږ ،چي داحاديثو په صحت او ضعف کي دجرح او تعديل دعلماوو او نورو محديثينو تقليد کوو يوازي يې له دې امله کوو ،چي دوی دفن ماهرين بولو مستقل بالذات ددوی اطاعت واجب نه بولو . حقيقت دادئ ،چي دڅوند يوه برخه هم دتقليد څخه خالي نه ده که ،چيري تقليد په پوره ډول منعه کړل سي نو ددين او دنيا دواړه کارونه به يو هم پر مخ ولاړ نه سي.

دحضرت عدی بن حاتم ﷺ حديث

۱: توبة ، اية : ۳۱.

سرچينه: تعليم الاسلام راډيو/www.taleemulislam-radio.com

(c) ketabton.com: The Digital Library

۳: کوم کسان ،چې دتقليد څخه مخالف دي هغو لاندي دعدي بن حاتم رضي الله عنه حديث ددليل په توګه زيات بيانوي:

عَنْ عَدِيِّ بْنِ حَاتِمٍ قَالَ أَتَيْتُ النَّبِيَّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وَفِي عُنُقِي صَلِيبٌ مِنْ ذَهَبٍ فَقَالَ يَا عَدِيُّ اطْرَحْ عَنْكَ هَذَا الْوَثَنَ وَسَمِعْتُهُ يَقْرَأُ فِي سُورَةِ بَرَاءَةٌ { اتَّخَذُوا أَحْبَارَهُمْ وَرُهْبَانَهُمْ أَرْبَابًا مِنْ دُونِ اللَّهِ } قَالَ أَمَا إِنَّهُمْ لَمْ يَكُونُوا يَعْبُدُونَهُمْ وَلَكِنَّهُمْ كَانُوا إِذَا أَحَلُّوا لَهُمْ شَيْئًا اسْتَحَلُّوهُ وَإِذَا حَرَّمُوا عَلَيْهِمْ شَيْئًا حَرَّمُوهُ.(۱)

ژباړه : حضرت عدي بن حاتم رضي الله عنه فرمايي: زه درسول الله صلى الله عليه وسلم حضورته راغلم زما دسرو زرو صليب په غاړه و ، رسول الله صلى الله عليه وسلم راته وفرمايل : اې عدي! دا بت وغورځوه او ما واورېدل ،چې رسول الله صلى الله عليه وسلم لاندي مبارک آيت لوستی:

اتَّخَذُوا أَحْبَارَهُمْ وَرُهْبَانَهُمْ أَرْبَابًا مِّن دُونِ اللَّهِ.(۲)

ژباړه : اهل کتابو خپل علماء او تارک الدنيا زاهدان دالله جل جلاله پرځای خپل خدايان ګڼلي دي.

بيا رسول الله صلى الله عليه وسلم وفرمايل: اهل کتابو دخپلو علماوو او راهبانو پرستش نه کاوه بلکي کله ،چې به هغو کوم شي ورته حلال کړ، دوی به هم حلال ورته ويل او کوم شی ،چې به علماوو او راهبانو ورته حرام کړ، دوی به هم حرام ورته ويل.

حقيقت دادئ ،چې ددغه حديث دتقليد دامامانو سره هيڅ اړه نسته دراهبانو او امامانو توپير په پوره ډول سره بيان سو لکه دمخکني اعتراض په جواب کي چې يې سپيناوی وسو خو دلته فقط دومره خبره

۱: رواه الترمذي، ح: ۳۰۲۰.

۲: توبة ، اية : ۳۱.

سرچينه: تعليم الاسلام راډيو/www.taleemulislam-radio.com

(c) ketabton.com: The Digital Library

زياتول لازمي بولم ،چي درسول الله ﷺ مبارک ارشاد دهغه اهل کتابو په اړه دئ ،چي هغو دحلالو او حرامو واک او اختيار خپلو عالمانو او راهبانو ته ورکړی وو ، هغو خپل راهبان او پادريان دخپل قانون شارح نه بلکي بالذات دقانون جوړونکي بلل او دا يې عقيده وه ،چي ددوی پادريان او راهبان بېخي دهر ډول ګناه څخه معصوم اوپاک دي، دوی دحلالو او حرامو پوره اختيار خپلو پادريانو او راهبانو ته ورکړی و، دلاسپيناوي په موخه ويلای سو ،چي انسائيکلوپيډيا برناټانيکا دپاپ دصلاحيتونو په اړه داسي ليکي:

پاپ دعقايدو اړونده دمقتدر اعلي په حيثيت سره دهغه دليل (AUTHORITY) او هغه دسېښلتيا (Infallblity) لرونکی دئ ،چي ټولي کليسا ته په مجموعي توګه حاصل دئ ځکه پاپ دقانون جوړونکی (legislstor) ، همدا ډول دقاضي په څېر پوره اختيارات لري ،چي دکليساوو اجتماعي کونسل ،چي يې لري. دپاپ اقتدار اعلي اوحقوق لازمي دي په دې ډول ،چي دی دهر ډول ګناه څخه معصوم وګڼل سي او داحق ورکړل سي ،چي دټولوعقيده والو دعقايد اختيار لرلای سي او تغير پکښي راوستلای سي.(۱)

همدا ډول په پورتنی کتاب کي دپاپ دمعصوميت تشريح داسي سوې ده:

۱: انسائيکلوپيډيا برناټانيکا ، ج : ۱۸ ، ص : ۲۲۲، ۲۲۳. مقاله پاپ ، سنة ۱۹۵۰.

سرچينه: تعليم الاسلام راډيو/www.taleemulislam-radio.com

(c) ketabton.com: The Digital Library

(رومن کاتولیک چرچ) دپاپ په پوره معصومیت قایل دئ ، بنسټیز مفهوم یې دادئ ،چې پاپ کله دټولو اهل عقیده لپاره کوم فرمان صادر کړي حتمي ده ،چې پاپ به هیڅ ډول غلطي نه وي کړې. (۱)

۱: تاسو وګورئ ،چې عیسایانو خپلو پاپانو ته کوم صلاحیتونه ورکړي وه او اوس یې هم ورکوي ، ایا ددې صلاحیتونو نسبت دمجتهدینو امامانو سره کېدای سي؟ (معاذ الله) هیڅکله نه. انسائکلوپیډیا برناټیکا پاپ د پوره حجت په توګه منې او زمونږ دامامانو قول هیڅکله په شریعت کي د حجت په توګه نه منل کېږي لکه دکتاب په پیل کي،چې دتقلید په تعریف کي داخبره ښکاره شوه.

۲ : پاپ په پوره توګه داسي اختیار لري ،چې دټولو اهل عقیده لپاره داسي فرمان صادر کي ،چې په پوره ډول نافذ سي ددې برعکس مقلدین دمجتهدینو تقلید په عقایدو کي ښکاره نه منې.

۳ : پاپ په خپل عیسایي مذهب کي دقانون جوړونکي په توګه منل سوی دئ خو په اسلام کي مجتهد ښکاره ددې حق نه لري ،چې قانون جوړونکی وبلل سي بلکي دشرعي قانون شارح بلل کېږي لکه مخکي ،چې یې پوره تفصیلي بیان تېر سو.

۴ : عیسویان خپل پاپان ښکاره معصوم او پاک ګڼي خو ټول مقلدین عقیده لري ،چې زمونږ دامامانو اجتهاد هر ډول ،چې وي ددې امکان سته ،چې پکښې سهو او خطا راسي یعني خپل امامان په یقیني ډول سره معصوم نه ګڼي بلکي ظنا یې معصوم ګڼي.

۱: انسائیکلوپیډیا برناټانیکا ، ج : ۱۸ ، ص : ۲۲۲، ۲۲۳. مقاله معصومیت. (AUTHORITY)

سرچینه: تعلیم الاسلام راډیو www.taleemulislam-radio.com/

(c) ketabton.com: The Digital Library

۵ : په عيسوي مذهب کي پاپ پوره اختيار لري ،چي دخپلو اهل عقيده په عقايدو کي تغير راولي او بيا اهل عقيده هيڅ حق نه لري ،چي يو ورښته مخالفت وکړي خو ددې څخه برخلاف زمونږ په مذهب کي مقلد ته ددې مجال سته ،چي په خاصو وختونو کي دخاصو شرطونو په وجود کي خپل مذهب پريږدي لکه مخکي ،چي يې بيان دتقليد ددرجو تر عنوان لاندي وسو.

که څوک پورته پنځه فرقونه مطالعه کړي نو ثابته به سي ،چي زمونږ دتقليد او دعيسايانود تقليد ترمنځ دمځکي او اسمان فرق دئ نو داچي دومره فرق سته نو بيا څنګه څوک پر مونږ باندي دعدي بن حاتم رضي الله عنه حديث تطبيقوي دا بيا جلا خبره ده ،چي څوک په تقليد کي دومره جامد وي ،چي په هيڅ صورت کي دخپل امام خبره نه پريږدي قرآن او حديث يې ښخي هر وي خپل مجتهد قانون جوړونکی بولي اودخپل امام په اړه داسي عقيده لري لکه عيسويان ،چي يې دپاپ په اړه لري په داسي حالت کي نو بيا هيڅ شک نسته ،چي دعدي بن حاتم رضي الله عنه حديث پر داسي چا باندي صادق دئ او هغه وعيد دغسي کس لره هم سته.

دحضرت عبدالله بن مسعود رضي الله عنه سپېڅلي وينا

۴ : غير مقلدين زيات ځايونه دعبدالله بن مسعود رضي الله عنه حديث هم ددليل په توګه وړاندي کوي ،چي دی مبارک فرمايي:

لايقلدن رجل رجلا دينه ان آمن ، آمن وان کفر ، کفر.

سرچينه: تعليم الاسلام راډيو/www.taleemulislam-radio.com

(c) ketabton.com: The Digital Library

ژباړه : خامخا دي يو کس دبل کس په دين کي داسي تقليد نه کوي ،چي هغه ايمان راوړي دی هم ايمان راوړي که هغه کافر سي نو دی هم کافر سي.

غير مقلدين دتقليد په بدي کي دابن مسعود رضي الله عنه پورته وينا بيانوي ، ددوی څخه زمونږ سوال دادئ ،چي دغه تقليد ،چي ابن مسعود رضي الله عنه بيان کړی دئ دې ته څوک جايز تقليد وايي؟ ځکه دغه تقليد په ايمانياتو کي دئ او مونږ وړاندي څو ځلي ويلي وه ،چي په ايمانياتو کي تقليد کول جايز نه دئ داچي دشرعي احکامو دمعلومولو لپاره داسلافو تقليد دئ په دې اړه خپله دعبدالله بن مسعود رضي الله عنه لاندي مبارک ارشاد مطالعه کړئ:

وعن ابن مسعود قال : من كان مستنا فليستن بمن قد مات فإن الحي لا تؤمن عليه الفتنة . أولئك أصحاب محمد صلى الله عليه وسلم كانوا أفضل هذه الأمة ... فاعرفوا لهم فضلهم واتبعوهم على آثارهم وتمسكوا بما استطعتم من أخلاقهم وسيرهم فإنهم كانوا على الهدى المستقيم .(۱)

ژباړه : کوم کسان ،چي اتباع کول غواړي نو دهغه چا پيروي دي وکړي ،چي وفات سوي دي ځکه پر ژوندو باندي ددې باور نه سي کېدای ،چي دوی به په فتنه کي نه اخته کېږي، هغه کسان ،چي پيروي يې بايد وسي هغه درسول الله صلى الله عليه وسلم اصحاب دي ، درسول الله صلى الله عليه وسلم اصحاب دده عليه السلام دامت غوره خلک دي ... نو تاسو دهغو قدر وپېژنئ ، ددوی دآثارو پيروي وکړئ څو ،چي مو په توان وي ددوی داخلاقو او سيرت پوره پابندي وکړئ ځکه دوی هغه خلک دي ،چي پر سيده لاره باندي برابر دي.

۱: مشكوة المصابيح ، ج : ۱ ، ص: ۳۲ باب الاعتصام بالكتاب والسنة.

سرچينه: تعليم الاسلام راډيو www.taleemulislam-radio.com/

(c) ketabton.com: The Digital Library

دمجتهدينو امامانو ويناوي

۵: ځيني غير مقلدين خلک ددليل په توګه دامامانو داخبره هم کوي ،چې مجتهدين امامان خپله داخبره کوي ،چې تاسو تر هغه بريده زمونږ خبره مه منئ ځو ،چې دليل مو نه وي معلوم کړی او که زمونږ خبره دحديث څخه مخالفه وه پر دېواله يې وغورځوئ نو بيا تاسو ولي ددوی خبره ټينګه نيولې ده او دليل يې نه معلوموئ؟

دپورته خبري اړونده که په انصاف او حقيقت خوښوني سره نظر وسي نو معلومه خبره ده ،چې دامامانو خطاب هغه کسانو ته دئ ،چې هغوی خپله مجتهدين او داجتهاد شرطونه پکښې موجود وي ، هغه کسانو ته يې خطاب نه دئ ،چې هغوی داجتهاد دوړتيا څخه محروم وي لکه شاه ولي الله رحمه الله ،چې په دې اړه ليکي:

انما يتم فيمن له ضرب من الاجتهاد ولو في مسئلة واحدة وفيمن ظهر عليه ظهورا بينا ان النبي ﷺ امر بكذا ونهي عن كذا وانه ليس بمنسوخ اما بان يتتبع الاحاديث واقوال المخالف والموافق في المسئلة او بان يرى جما غفيرا من المتبحرين في العلم يذهبون اليه ويري المخالف له لايحتج الا بقياس او استنباط او نحو ذالک فحينئذ لاسبب لمخالفة حديث النبي ﷺ الا نفاق خفي او حمق جلي.([1])

ژباړه : د امامانو دا ويناوي دهغه چا په اړه صادقيږي ،چې په اجتهاد کولو کي څه وړتيا ولري که څه هم دده دغه وړتيا په يوه مسئله کي وي او هغه څوک ،چې ده ته درسول الله ﷺ بيان څرګند وي ،چې رسول الله ﷺ دفلاني شي امر کړی دئ او دفلاني شي څخه يې منعه کړې ده

[1]: حجة الله البالغة ، ج : ۱ ، ص : ۱۵۵، باب حكاية الناس قبل المائة الرابعة وبعدها.

سرچينه: تعليم الاسلام راډيو www.taleemulislam-radio.com/

(c) ketabton.com: The Digital Library

او دا ورته څرګنده وي ،چې درسول الله ﷺ دغه حديث منسوخ نه دئ ، يا دټولو حديثو دځېرني وروسته ، دټولو موافقو اومخالفو دلايلو دمعلوماتو وروسته دې پايلي ته رسېدلی وي ،چې ددې حديث دنسخي لپاره هيڅ دليل نسته، اويا يوه لويه ډله دجيدو علماوو ووينې ،چې عمل په کوي او ورته څرګنده سي ،چې ددې حديث څخه مخالفت که څوک کوي دقياس پرته بل هيڅ دليل نه لري په داسي حال کي،چې درسول الله ﷺ دحديث څخه مخالفت دپټ منافقت او بې عقلۍ پرته بل شی نه سي جوړېدای.

په هر صورت پورتنۍ خبره ښې څرګنده ده ،چې نور څرنګوالي ته هيڅ اړتيا نه لري . که ،چيري دامامانو پورتنۍ خبره په دې معنا وي ،چې تقليد ښې جايز نه دئ نو ددوی خپل ژوند دداسي ډېرو پيښو څخه ډک دئ ،چې خلکو به ددوی څخه پوښتنې کولې دوی به دځه دليل پرته جوابونه ورکول که ،چيري تقليد ددوی په آند جايز نه وای نو دوی به ددې تقليد سبب نه جوړېدای.

همدا ډول ددوی نوري هم داسي ډېري ويناوي سته،چې دهغو څخه په ښکاره څرګنديږي ،چې دوی دعامو خلکو لپاره تقليد لازمي بولي دساري په ډول ددوی مبارکانو څو ويناوي رانقلوو :

۱ : په کفاية شرح هداية کي ليکل سوي دي:

واذا كان المفتي علي هذه الصفة فعلي العامي تقليده وان كان المفتي اخطا في ذالک ، ولامعتبر بغيره هكذا روي الحسن عن ابي حنيفة رحمه الله وابن رستم رحمه الله عن محمد رحمه الله وبشير بن الوليد رحمه الله عن ابي يوسف رحمه الله.([1])

[1]: كفاية شرح هداية ، كتاب الصوم ، ماخوذ من خير التنقيد ، مؤلفه حضرت مولانا خيرمحمد صاحب رحمه الله

سرچينه: تعليم الاسلام راډيو/www.taleemulislam-radio.com

(c) ketabton.com: The Digital Library

ژباړه : كه ،چيري په مفتي كي دا صفت موجود وي يعني مجتهد وي نو په عامي سړي باندي يې تقليد لازم دئ ، كه څه هم مفتي خطاوتلى وي، همدا خبره امام حسن رحمه الله دامام ابو حنيفة رحمه الله څخه ، ابن رستم رحمه الله دامام محمد رحمه الله څخه او بشير بن وليد رحمه الله دابويوسف رحمه الله څخه رانقل كړې ده.

۲: دامام ابويوسف رحمه الله داخبره مخكي تېره سوې ده ،چې دى فرمايي:

علي العامي الاقتداء بالفقهاء لعدم الاهتداء في حقه الي معرفة الاحاديث.([1])

۳ : دامام احمد بن حنبل اړونده علامه ابن تيمية رحمه الله داسي نقل كړى دئ:

ويامر العامي بان يستفتي اسحق رحمه الله واباعبيد رحمه الله واباثور رحمه الله وابامصعب رحمه الله وينهي العلماء من اصحابه كابي داود رحمه الله وعثمان بن سعيد رحمه الله وابراهيم الحربي رحمه الله و ابي بكر الاثرم رحمه الله وابي زرعة رحمه الله وابي حاتم الجستاني رحمه الله ومسلم رحمه الله وغيره ان يقلدو احدا من العلماء ويقول عليكم بالاصل بالكتاب والسنة(۲)

ژباړه : امام احمد بن حنبل رحمه الله عامو خلكو ته امر كاوه ،چې د اسحق رحمه الله ، اباعبيد رحمه الله ، اباثور رحمه الله او ابامصعب رحمه الله څخه دمسئلو پوښتني وكړي او خپل ملګري يې لكه ابي داود رحمه الله ، عثمان بن سعيد رحمه الله ، ابراهيم الحربي رحمه الله ، ابي بكر الاثرم رحمه الله ، ابي زرعة رحمه الله ، ابي حاتم الجستاني رحمه الله ، مسلم رحمه الله او داسي نور يې دتقليد كولو څخه منعه كول او هغو ته به يې امر كاوه ،چې تاسوته واجب ده ،چې دقرآن او حديث څخه دمسائلو استنباط وكړئ.

---

[1]: هداية ، ج : ۱ ، ص : ۲۲۶ ، باب مايوجب القضاء والكفارة.

[2]: فتاوى ابن تيمية ، ج : ۲ ، ص : ۲۴۰.

سرچينه: تعليم الاسلام راډيو www.taleemulislam-radio.com/

(c) ketabton.com: The Digital Library

دعلامه ابن تيميه رحمه الله دپورتني عبارت څخه په څرګندو الفاظو معلوميږي ،چې هغه کسان دتقليد څخه منعه کړل سوي دي ،چې دامام احمد بن حنبل رحمه الله خاص شاګردان وه ،جليل القدره محدثين وه او په پوره ډول يې ددې وړتيا درلوده ،چې خپله اجتهاد وکړي ، هغه کسانو ته ،چې داجتهاد وړتيا نه لري نه يوازي ،چې دتقليد اجازه ورته سوې ده بلکې دتقليد کولو امر ورته سوی دئ اودا ورته ويل سوي دي ،چې تاسو شرعي مسئلې ديادو علماوو څخه پوښتئ.

دعامو خلکو لپاره تقليد واجب دئ دا وجوب يې داسي اتفاقي امر دئ ،چې دمعتزله ډلې پرته هيڅا مخالفت ورسره نه دئ کړی لکه ،چې علامه سيف الدين آمدي رحمه الله ليکي:

العامي ومن ليس له اهلية الاجتهاد وان كان محصلا لبعض العلوم المعتبرةفي الاجتهاد يلزمه اتباع قول المجتهدين والاخذ بفتواه عند المحققين من الاصوليين ومنع من ذالک بعض معتزلة البغداديين.([1])

ژباړه : عامي سړی او هغه چاته ،چې داجتهاد وړتيا نه لري که څه هم په ځينو معتبرو علومو کي مهارت لري ـ واجب ده چې دمجتهدينو پيروي وکړي ، په فتوا يې عمل وکړي ، دمحقيقينو اصولينو علماوو همدا مسلک دئ، البته ځينو بغداد والو معزلوو ددې کار منعه کړې ده.

علامه خطيب بغدادي رحمه الله وروسته تر دې ،چې دعامي سړي لپاره يې دتقليد وجوب بيان کړی دئ ليکلي يې دي :

---

[1]: احكام الاحكام للامدي رحمه الله ج : ۴ ، ص : ۱۹۷ ، قاعده نمبر: ۴ ، باب نمبر : ۳ ، مسئله نمبر : ۲ ،دزياتو معلوماتو لپاره وګورئ: المستصفى للامام غزالي رحمه الله ، ج :۲ ، ص : ۱۲۴ ، فن نمر : ۲، قطب نمبر : ۴.

سرچينه: تعليم الاسلام راډيو www.taleemulislam-radio.com/

(c) ketabton.com: The Digital Library

وحكى عن بعض المعتزلة انه قال لايجوز للعامي العمل بقول العالم حتى يعرف علة الحكم ... وهذا غلط لانه لاسبيل للعامي الي الوقوف علي ذالک الا بعد ان يتفقه سنين كثيرة ويخالط الفقهاء المدة الطويلة ويتحقق طرق القياس ويعلم ما يصححه ويفسده ومايجب تقديمه علي غيره من الادلة وفي تكليف العامة بذالک تكليف ما لايطيقونه ولاسبيل لهم اليه.([1])

ژباړه : دځينو معتزلوو څخه داسي حكايت سوى دئ ،چې عامي سړي ته دعالم په قول باندي عمل كول جايز نه دي څو ،چې دهغه حكم علت ورته معلوم سوى نه وي... او دامسلک غلط دئ ځكه عام سړى بېخي ددې لاره نه لري ،چې پر علت باندي علم راولي مګر وروسته تردې ،چې ډېر كلونه علم حاصل كړي او ډېره زمانه دفقهاوو كرامو سره واوسيږي ، دقياس طريقې زده كړي ، همدا ډول صحيح او فاسد قياس سره توپير كړي او داورته معلومه سي ،چې كوم دليل تر دوهم دليل مقدم دئ دادول تكليفونو دعامو لپاره ناشوني دي او ددوى دتوان څخه وتلى كار دئ.

يوه خبره دياد ونې ورځ ده هغه داچې په كوم چا كي ،چې داجتهاد اوصاف موجود وي ايا دغسي كس ته تقليد كول جايزدي كه يا؟ په جواب كي بايد وويل سي ،چې په دغه تقليد كي دعلماوو اختلاف دئ لكه علامه خطيب بغدادي رحمه الله ،چې دسفيان ثوري رحمه الله مسلک رانقل كړى دئ ،چې دده له آنده دغه تقليد جايز دئ ، دامام محمد رحمه الله مسلک هم دادئ ،چې يوڅوک تر دده زيات عالم و تقليد كول يې جايز دي خو علامه ابن تيمية رحمه الله بيا دداسي چا لپاره تقليد جايز نه بولي لكه سفيان ثوري رحمه الله ،چې دئ ، همدا ډول دامام شافعي او امام احمدبن

[1]: الفقيه والمتفقه للخطيب البغدادي رحمه الله ، ج : ۲ ، ص : ۶۹ ، ط: دارالافتاء رياض.

سرچينه: تعليم الاسلام راډيو/www.taleemulislam-radio.com

(c) ketabton.com: The Digital Library

حنبل له آنده هم پورته تقليد يعني دمجتهد لپاره تقليد کول ناجايز بولي.(۱)

مولانا عبدالحي لکهنوي رحمه الله دشمس لائمة حلواني په ترجمه کي دا قول رانقل کړی دئ ،چي فرمايي:

وقد روي عن الامام الاعظم رحمه الله جواز التقليد المجتهد بمن هو اعلم منه.(۲)

ژباړه : دامام اعظم رحمه الله څخه روايت سوی دئ ،چي مجتهد ته دداسي چا تقليد جايز دئ ،چي هغه تر ده زيات عالم وي.

ددغه موضوع پوره تفصيل داصول فقه په کتابونو کي موجود دئ. (۳)

حاصل داچي هغه څوک ،چي مجتهد وي دده لپاره تقليد کول جايز دي او که نه دي؟ په دې موضوع کي دعلماوو ترمنځ اختلاف سته او داچي غير مجتهد به تقليد کوي په دې موضوع کي دځينو معتزلوو پرته بل هيڅا اختلاف نه دئ کړی بلکي دعام سړي لپاره تقليد کول ټپخي لازم دئ.

عام سړی به څنګه مجتهد پېژني؟

٦: مور دکتاب په پيل کي ويلي وه ،چي ددواړو ډولونو تقليد حقيقت دادئ ،چي څوک خپله مستقيمًا دقرآن او حديث څخه دمسائلو استنباط

۱: فتاوى ابن تيمية رحمه الله ، ج : ۲ ، ص : ۲۴۰.

۲: التقليقات السنية علي تراجم الحنفية ، ص: ۹٦ ، دخير التنقيد څخه اخيستل سوی.

۳: لکه فواتح الرحمت شرح مسلم الثبوت ، ص : ۱۳۰. المستصفي للغزالي رحمه الله ، ج : ۲ ، ص : ۱۲۱، فن نمبر : ۱ ، قطب نمبر: ۴.

سرچينه: تعليم الاسلام راډيو/www.taleemulislam-radio.com

(c) ketabton.com: The Digital Library

نه سي کولای نو هغه به دبل عالم ،چي دغه کار کولای سي تقليد به يې کوي او دده پر فهم ، بصيرت او استنباط به اعتماد کوي.

پردې خبره باندي ځينو خلکو دانيوکه کړې ده ،چي څوک ديو چا تقليد کوي يعني يو عام او ناپوه سړی ،چي کله ديو چا تقليد کوي نو دی به څنګه معلوموي ،چي دغه کس يقينًا عالم او مجتهد دئ او ددې وړتيا لري ،چي دقرآن او حديث څخه مستقيمًا دمسئلو استنباط وکړي؟([1])

دپوتني سوال په جواب کي يوازي موږ دامام غزاليرحمه‌الله لاندي عبارت رانقلوو او لاندنی عبارت دجواب لپاره کافي بولو:

فان قيل... العامي يحكم بالوهم ويغتر بالظواهر وربما يقدم المفضول علي الفاضل فان جاز ان يحكم بغير بصيرة فلينظر في نفس المسئلة وليحكم بما يظنه ، فلمعرفة مراتب الفضل ادلة غامضة ليس دركها من شان العوام؟ وهذا سوال واقع ولكنا نقول : من مرض له طفل وهو ليس بطبيب فسقاه دواء برايه كان متعديا مقصراضامنا ولو راجع طبيبا لم يكن مقصرا ، فان كان في البلد طبيبان فاختلفا في الدواء فخالف الافضل عد مقصرا ويعلم فضل الطبيبين بالتواتر الاخبار وباذعان المفضول له وبتقديمه بامارات تقيده غلبة الظن فكذالک في حق العلماء يعلم الافضل بالتسامع وبالقرآئن عن نفس العلم ، والعامي اهل له فلاينبغي ان يخالف الظن بالتشهي ، فهذا هوالاصح عندنا ولاليق بالمعني الكلي في ضبط الخلق وبلجام التقوي و التكليف. ([2])

ژباړه : که دانيوکه وسي ،چي عام خلک په اوهامو فيصلې کوي او په ظاهري شيانو باندي دوکه کېږي ، کله داسي هم وي ،چي مفضول تر فاضل غوره ګڼي اوس نو که دبصيرت پرته دپرېکړي اجازه ورکړل سي

---

[1]: تحريک ازادي فکر ، دمولانا محمد اسماعيل سلفيرحمه‌الله ليکنه. ص : ۱۴۰

[2]: المستصفي للامام الغزاليرحمه‌الله ، ج : ۲ ، ص : ۱۲۶، ط : مصر ، سنة ۱۳۵۶، قبيل الفن الثالث من القطب الرابع.

سرچينه: تعليم الاسلام راډيو www.taleemulislam-radio.com/

(c) ketabton.com: The Digital Library

نو په اصل مسئله کي هم په خپل ظن اوګومان سره فيصله کوي ځکه داصل مسئلې په درک کي ډېرو پېچلو او ګرانو دلايلو ته اړتياسته او دا کار عوام خلک نه سي کولای؟

دپورته سوال په جواب کي بايد ووايو ،چي که ديو سړي زوی ناجوړه سي ،خپله طبيب نه وي او په خپله رايه او نظر باندي زوی ته دوا ورکړي په دغه وخت کي نوموړی کس ته ظالم اوتېری کونکی ويل کېږي ک،چيري يې زوی ته بدي پايلي ورسېدې دی يې مسؤل دئ خو که دغه سړی خپل ناروغه زوی طبيب ته بوزي بيا پرده باندي هيڅ الزام اونيوکه نسته ، همدا ډول ک،چيري په ښار کي دوه طبيبان وي ، يوطبيب تکړه وي ، بل کمزوری وي او په خپل منځ کي په نظر کي اختلاف ولري په دغه کي که نوموړي سړي دتکړه طبيب پرځای خپل ناروغه زوی کمزوري طبيب ته وروستی بيا تر نيوکي او الزام لاندي دئ، داچي عام سړي ته به تکړه طبيب څنګه معلوميږي ښکاره خبره ده ،چي دتکړه طبيب تکړه والی په مشهرو او متواتر خبره سره معلوميږي اويا داچي يو طبيب دهغه بل طبيب نظر او خبره ومني دستي معلوميږي ،چي هغه طبيب تکړه دئ ،چي خبره يې ومنل سوه ، دطبيب دمعلومېدو لپاره دغه دوې علامې دي ،دې ته ورته نوري هم ډېري علامې لري ،چي يو عام سړی دتکړه طبيب مهارت او پوهه ځانته په معلوموي.

دعلماوو اړونده هم دغسي پرېکړه ده يعني داچي ديوه عالم مهارت او تکړه والی دده دمشهورو او متواترو ښښو څخه څرګندېږي ، عام سړي ته لازمه نه ده ،چي دعالم دعلم دي پوره تحقيق وکړي اونه هم کولای سي، همدا لامل دئ ،چي که عام سړي ته يو عالم په خپل ګومان او نظر ښه ورغلی نو ده ته دنفسي خواهشاتو پر بنياد باندي دهغه عالم څخه

سرچينه: تعليم الاسلام راډيو www.taleemulislam-radio.com/

(c) ketabton.com: The Digital Library

مخالفت پکار نه دئ همدا طريقه زمونږ په آند صحيح ده او دالله ﷻ دمخلوق دقابو کولو لپاره او ددوی په شرعي احکامو کي دپابندی لپاره زمونږ په آند دغه ډېره غوره طريقه اومناسب طرز العمل دئ.

سرچینه: تعلیم الاسلام راډیو www.taleemulislam-radio.com/

(c) ketabton.com: The Digital Library

ايا تقليد کول عيب دئ؟

۷: دکتاب په پيل کي موږ ډېر داسي روايتونه رانقل کړي وه ،چي داخبره يې ثابتول ،چي تقليد کول داصحابانو په زمانه کي هم رواج و ، داصحابانو په زمانه کي ،چي به کوم کس اجتهاد نه سواى کولاى نو هغه اصحابانو مبارکانو ته به يې رجوع کول ،چي هغوى به ښه فقهاء وه او اجتهاد به يې کولاى سواى.

پر پورتنۍ خبره باندي ځيني کسان اعتراض کوي او وايي ،چي تقليد کول اصلاً يو عيب دئ ځکه تقليدهغه وخت کېږي ،چي څوک علم لږ لري که څوک دغه کار يعني تقليد اصحابانو ته ثابتوي په حقيقت کي دا يو عيب دئ ،چي اصحابانو مبارکانو ته يې ثابتوي ، که څوک دا کار کوي ،چي اصحابانو ته تقليد ثابتوي دا کومه تحفه نه ده ،چي دوى يې اصحابانو ته ثابتوي بلکي دايو عيب دئ (معاذالله) اصحابانوته ، عيب ثابتول پکار نه دي ځکه څرنګه ،چي ټول اصحابانو عادلان وه همدا ډول ټول اصحابان فقهاء هم وه دوى هيڅ کم علمه نه وه اونه يې تقليد ته اړتيا درلوده.(۱)

حقيقت دادئ ،چي پورتنۍ نيوکه يوه جذباتي نيوکه ده ځکه دانسان لپاره مقلد جوړېدل يا تقليد کول څه دعيب خبره نه ده ځکه الله ﷻ دفضيلت او عزت معيار تقوا ښودلې ده او فرمايلي يې دي : (إِنَّ أَكْرَمَكُمْ عِندَ اللَّهِ أَتْقَاكُمْ) يعني په تاسو کي عزت والا هغه څوک دئ ،چي دالله ﷻ څخه زيات ويريږي ، الله ﷻ دعزت معيار افقهكم

۱: تحريک ازادي فکر ، ص: ۱۳۳ تر ۱۳۵.

سرچينه: تعليم الاسلام راډيو/www.taleemulislam-radio.com

(c) ketabton.com: The Digital Library

اواعلمكم نه دئ ويلى ، دانسان دفضيلت لپاره دا لازمي نه ده ،چي خامخا به دى مجتهد جوړيږي بلكي دانسان دفضيلت لپاره تقوا لازمي ده او تقوا دفضيلت معيار دئ ، علم او فقه لازمي نه دي يعني داچي كه په چا كي يو شرط داجتهاد موجود نه سي لا هم يوه زره عيب نه باندي لگيږي ددين په اعتبار سره ، اصحابان ټوله تقوا لرونكي وه بلكي ټوله په پوره تقوا سره فايز وه همدا لامل دئ ،چي دوى ته تر انبياؤ وروسته غوره مخلوق ويل سوى دئ خو تر كومه بريده ،چي دفقه اوعلم اړونده خبره ده نو څوك ،چي دا دعوه كوي ،چي اصحابان ټوله دعلم څښتنان وه دا دعوه دقرآن او حديث څخه ښكاره مخالفه ده ځكه الله ﷻ فرمايي:

فَلَوْلَا نَفَرَ مِن كُلِّ فِرْقَةٍ مِّنْهُمْ طَآئِفَةٌ لِّيَتَفَقَّهُوا۟ فِى ٱلدِّينِ وَلِيُنذِرُوا۟ قَوْمَهُمْ إِذَا رَجَعُوٓا۟ إِلَيْهِمْ لَعَلَّهُمْ يَحْذَرُونَ ﴿١٢٢﴾ (۱)

ژباړه : ولي ددوى څخه يوه ډله دهر قوم څخه نه وزي څو په دين كي پوهه لاسته راوړي تر ښرته راتګ وروسته خپل قوم ووښروي ښايي خپل قوم به دالله ﷻ دنافرمانۍ څخه وساتي.

په پورتني آيت كي الله ﷻ اصحابانو رضي الله عنهم ته امر كړى دئ ،چي په تاسو كي دي يوه ډله په جهاده بوخته سي او بله ډله په علم اوپوهه كي بوخته سي، دالله ﷻ ددغه وينا څخه په څرګند ډول معلوميږي ،چي په اصحابانو رضي الله عنهم كي يوه ډله په جهادي كارونه باندي اخته وه علم حاصلولو ته فارغه نه وه او بله ډله بيا په علمي كارونو اخته وه ،يعني داچي يوې ډلي به علم نه درلودئ دغه توپير الله ﷻ خپله كړى دئ او

۱: سورة توبة الاية ۱۲۳

سرچينه: تعليم الاسلام راډيو www.taleemulislam-radio.com/

(c) ketabton.com: The Digital Library

کوم شی ،چي دالهي منشاء سره موافق وي هغه ته عيب ويل ستره ګناه ده ، موږ دداسي ګناه څخه په الله ﷻ سره پناه غواړو.

همدا ډول په سورة نسآء کي لاندنی آيت ،چي الله ﷻ فرمايي:

لَعَلِمَهُ الَّذِينَ يَسْتَنبِطُونَهُ مِنْهُمْ. (النساء، آية ۸۳)

دپورتني آيت په تفسير کي مخکي ويل سوي وه ،چي په اصحابانو ﷺ کي ځينو ته داستنباط اهل ويل سوي وه او هغه اشخاصو ته ،چي اهل يې نه وه هغو ته امر سوی و ،چي دوی ته دي رجوع وکړي يعني داچي الله ﷻ خپله په قرآنکريم کي ځينو ته داستنباط اهل ويلي دي او ځينو ته يې داستنباط اهل نه دي ويلي.

همدا ډول رسول الله ﷺ فرمايلي دي:

وعن ابن مسعود قال : قال رسول الله صلى الله عليه وسلم : " نضر الله عبدا سمع مقالتي فحفظها ووعاها وأداها فرب حامل فقه غير فقيه ورب حامل فقه إلى من هو أفقه منه(۱)

ژباړه : رسول الله ﷺ فرمايي: الله ﷻ دي هغه کس خوشاله کړي ،چي زما يوه خبره واوري ، وې ساتي او ياد يې کړه بيا يې نوروته ورسول ، ډېر وخت داسي وي ،چي څوک ددين خبره زده کړه مګر دی خپله فقيه نه وي ، ډېر وخت بيا داسي وي خپله څه زده کړي داسي چاته يې ورسوي ،چي هغه تر ده زيات پوه وي.

پورتنی حديث مخامخ او سيده واصحابانو ﷺ ته خطاب دئ ، په پورتني حديث کي دوې خبري څرګندي سوي دي لومړی خبره داده ،چي ډېر وخت داسي کېدای سي ،چي څوک حديث ياد کړي مګر خپله فقيه (عالم) نه وي ، دوهمه خبره داده ،چي څوک که فقيه يعني عالم نه وي نو

۱: رواه ابوداود و ابن ماجة ، واحمد و ترمذي ، والدارمي عن زيد بن ثابت. مشكوة، ج : ۱ ص : ۳۵، كتاب العلم ، الفصل الثالث.

سرچينه: تعليم الاسلام راډيو www.taleemulislam-radio.com/

(c) ketabton.com: The Digital Library

ددې معنا دانه ده ،چې دغه کس نو عيب لرونکی دئ ځکه رسول الله ﷺ دغسي کس ته خپله دخوشالۍ دعا کړې ده.

حقيقت دادئ ،چې درسول الله ﷺ دمبارک مجلس څخه ډېر خلک برخمن سوي او مستفيد سوي دي خو داخبره هم بايد دياد څخه ونه باسو ،چې درسول الله ﷺ په مجلس کي دابوبکر رضي الله عنه او عمر رضي الله عنه په ځېر خلک هم وه ، دحضرت اقرع بن حابس رضي الله عنه او حضرت سلمة بن صخرة رضي الله عنه په ځېرپاک نفسه او سپېڅلي انسانان هم وه ، حضرت اقرع بن حابس رضي الله عنه او حضرت سلمة رضي الله عنه که څه هم ددوی په پاکۍ اوسپېڅلتيا کي هيڅ شک نسته ، دومره لوی مقام لري ،چې تردوی وروسته په زرهاوو علماوو او سپېڅلي انسانان دي ترقربان وي مګر دوی په علم او مقام کي دداسي اصحابانو رضي الله عنهم سره په يو شان نه وه لکه حضرت ابوبکر رضي الله عنه او حضرت عمر رضي الله عنه ،که څوک دوی ته دحضرت ابوبکر رضي الله عنه ،حضرت عمر رضي الله عنه ، حضرت عثمان رضي الله عنه او حضرت علي رضي الله عنه سره برابرمقام ورکوي دا ښکاره ضلالت دئ.

دلاسپيناوي په موخه بايد وويل سي ،چې داصحابانو رضي الله عنهم شمېر يوسل څلوريشت زره دئ مګر ابن قيم رضي الله عنه دوينا مطابق يوازي ددوی څخه ديوسل او دېرشو په شاوخوا کي اصحابانو څخه دفتوا ورکول ثابت دي (۱)

دافکر هم په ځرګند ډول غلط دئ اوداصحابانو رضي الله عنهم دمزاج څخه هم ليري دئ ،چې ګويا داصحابانو رضي الله عنهم لپاره يودبله پوښتنه کول عيب و،

۱: اعلام الموقعين ، ج : ۱ ، ص : ۹

سرچينه: تعليم الاسلام راډيو www.taleemulislam-radio.com/

(c) ketabton.com: The Digital Library

بلکي اصحابانو رضي الله عنهم به يو دبله پوښتني سره کولې لکه مخکي ،چې يې ډېر مثالونه تېر سول ، هم هلته دي دغه مثالونه وکتل سي.

په اصحابانو رضي الله عنهم کي دالله جل جلاله څخه وېره دومره زياته وه ،چې کله به په يوه مسئله کي شکمن سوه نو هغه مسئله يې دهر چا څخه پوښتله په دې پوښتنه کي يې هيڅ دريغ نه کاوه آن تردې ،چې ځينو اصحابانو رضي الله عنهم دتابعينو څخه هم علم زده کاوه دمثال په ډول علقمة بن قيس نخعي رحمة الله عليه يو تابعي دئ دابن مسعود رضي الله عنه شاګرد دئ مګر داسي تابعي دئ ،چې ډېرو اصحابانو رضي الله عنهم دمسئلو په زده کړه کي ده ته رجوع کول.(۱)

په هر صورت داصحابانو رضي الله عنهم په اړه ،چې دتقليد کولو کوم مثالونه مخکي تېر سول هغه له دې امله نه منل ،چې که يې ورته ثابت کړو نو دا به معاذ الله پر اصحابانو رضي الله عنهم باندي عيب سي داسي فکر غوره او صحيح کار نه دئ.(۲)

۱: تذکرة الحفاظ للذهبي رحمة الله عليه وحلية الاولياء لابي نعيم رحمة الله عليه.

۲: يادونه : داصحابانو رضي الله عنهم په اړه ،چې دفقه ا و غير فقه کوم توپير وسو هغه يوازي ددې لپاره وسو ،چې دغير مقلدينو ځانګړی اعتراض په دفع سو ،چې نه علم داصحابانو په اړه عيب نه دئ او کومه خبره ،چې عيسي بن ابان رحمة الله عليه کړې ده ،چې دغير فقه صحابي حديث که دقياس څخه مخالف و دقبول وړ نه دئ دغه خبره زياتو محقيقينو علماؤ رد کړې ده.

سرچينه: تعليم الاسلام راډيو www.taleemulislam-radio.com/

(c) ketabton.com: The Digital Library

شخصي تقليد او خواهش پرستي

۸: مخکي موږ وويل ،چي په حقيقت کي شخصي او مطلق تقليد دواړه جايز دي او دواړه داصحابانو ﷺ څخه ثابت دي يعني داچي يو څوک کولای سي ،چي مطلق تقليد وکړي او که شخصي تقليد کول غواړي هم يې کولای سي پردې خبره باندي ځينو خلکو داسي عجيب او غريب اعتراض کړی دئ ،چي په ټول پاکستان ،چي زيات خلک حنفيان دي يعني دحنفي مذهب پيروان دي ، په پاکستان کي ،چي کوم دموسيقۍ او نڅا کړني ترسره کېږي ددې ټولو مشري دحنفيانو په لاس کي ده يعني داچي کومي ناروا کړني په پاکستان کي ترسره کېږي کنترول او ضبط يې زيات ځايونه دحنفيانو په لاس کي دئ ، که شخصي تقليد په رښتيني ډول دخواهشت پرستۍ علاج وي نو بيا به ولي دغسي ناروا کړني ځای پرځای کېدلای؟(۱)

دپورتنۍ نيوکي اړونده په پوره ادب سره عرض کوو ،چي کوم کس ،چي دالله ﷻ او رسول ﷺ داحکامو په خلاف ګناه کولو او ناروا کړنو ترسره کولو ته ملا تړلې وي ، په دې باور وي ،چي زما کړني ګناوي دي خو زه يې کوم ، دداسي خواهش پرستۍ علاج نه په تقليد سره کېږي او نه ېبله تقليده کېږي اوس لويه بدبختي داده ،چي خلکو تردې لوړو خواهش پرستيو ته ملا تړلې ده هغه داچي ډېر خلک په دې هڅه کي دي ،چي سود ، قمار ، بې حجابۍ شراب او داسي نورو حرامو کړنو ته په اسلام کي روا والی ثابت کړي ، په پوره زور او توان سره

۱: تحريک ازادي فکر ، ص : ۱۴۶

سرچينه: تعليم الاسلام راډيو/www.taleemulislam-radio.com

(c) ketabton.com: The Digital Library

ددې لپاره زيار باسي ،چې موسيقۍ ، نڅا ، شرابو او بې حجابۍ لپاره په خپل نظر سره کوم شرعي دليل پيدا کړي ، په ټوله اسلامي نړۍ کي ددې کړنو لپاره زيارونه ايستل کېږي آن تردې ،چې په زياتو ځايونو کي لوی ، لوی اداري ددې لپاره خلاصي سوي دي ،چې دڅېړني په پايله کي دپورته ناروا کړنو لپاره کومه شرعي لاره پيدا کړي او دغه هڅي هغه وخت راپيل سوې ،چې لومړی يې تقليد ته شا کړه يعني داچې لومړی يې تقليد منعه وباله او بيا يې هڅه وکړه ،چې دتقليد ددېوال تر نړېدو وروسته په خپل فکر څه داسي دلايل پيدا کړي ،چې دهغه په مټ دناروا کړنو لپاره کومه کمزورې لاره پيدا کړي دا هر څه هغه وسوه ،چې خلکو تقليد منعه وباله ، دېخوانيو علماوو تقليد ته يې شرک او کفر ووايه او خلکوته يې دا په نظر کي ورکړل ،چې اسلام دتقليد پرځای خلکو ته دنظر ازادي ښيي.

حقيقت دادئ ،چې تر کومه پوري په اسلامي نړۍ کي شخصي تقليد رواج و، خلکو يوازي دشخصي تقليد لاره نيولې وه تر هغه مهاله پوري هيڅا دپورتنيو ناروا کړنو دحلالوالي لپاره دلاوري نه سوای کولای بلکي دغه ناروا لاره ددوی پر وړاندي په ټپه ترلې وه ، کله ،چې په اسلامي نړۍ کي دتقليد دحرمت پروپاګند پيل سو ، تقليد ته حرام او شرک وويل سوه نو ټولو ملحدينو ته دتحريف لاره خلاصه سوه، زيات شمېر اسلامي شعائر دملحدينو ښکار وګرځېدل.

سرچينه: تعليم الاسلام راډيو www.taleemulislam-radio.com/

(c) ketabton.com: The Digital Library

تقليد او نوي پيدا سوي مسئلې

۹: پر شخصي تقليد باندي يوه نيوکه او اعتراض دا کېږي ،چې که څوک شخصي تقليد کوي نو په شخصي تقليد سره پر انسانانو باندي کړې راتنګيږي هغه په دې ډول ،چې کومي نوي مسائلي منځته راځي دهغو حل نه کېږي؟

دپورته اعتراض په جواب کي بايد ووايو ،چې مخکي مونږ دتبحر في المذهب په موضوع کي داخبره څرګنده کړې وه ،چې دعام سړي او دمتبحر في المذهب دتقليد تر منځ توپير سته لکه ،چې دشخصي تقليد تر عنوان لاندي يوه څانګه (داجتهاد في المسائل) هم ده يعني داچې کومي مسئلې ،چې نوي پيدا کېږي ددغو مسئلو حل دمجتهدينوعلماوو داصولو په رڼا کي دقرآن او حديث څخه استنباطېږي او داجتهاد دغه لړۍ ،چې دنوو مسئلو اړونده ده په اوس زمانه کي هم جاري ده ، حاصل داچې دنوو مسئلو دحل لپاره هيڅکله کوم خنډ نه دئ واقع سوی او نه به په راتلونکي کي واقع کېږي.

همدا ډول دزمانې او عرف دبدلېدو په صورت کېدای سي ،چې ديوه مذهب علماء دغور او فکر څخه وروسته ،چې دمعاصر خاص اجتهاد اصول پکښې موجود وي ـ مسئلې ته تغير ورکړي ، که داسي وي ،چې کومه مسئله دمسلمانانو دشرعي اړتيا له امله ددې متقاضي وي ،چې په مسئله کي بدلون راسي نوديوه مجتهد له خوا ،چې داجتهاد اصول او ځانګړتياوي پکښې موجودي وي کولای سي ،چې ياد مجتهد همدغه مسئلې ته بدلون ورکړي او دمجتهد پر قول دي پربکړه وسي البته ،چې هغه اصول پکښې موجود وي کوم ،چې داصولوپه

سرچينه: تعليم الاسلام راډيو/www.taleemulislam-radio.com

(c) ketabton.com: The Digital Library

کتابونوکي ذکر سوي دي لکه ،چي په زياتوځايونوکي حنفي علماوو دامام ابوحنيفة رحمة الله عليه دقول په خلاف فتوا ورکړې ده دمثال په ډول دامام ابوحنيفة رحمة الله عليه پر مذهب باندي دقرآنکريم پر ورزده کړه باندي اجرت اخستل حرام دي خو متاخرينو علماوو دزمانې دتغير بدلون او شرعي اړتيا له امله خپل مذهب پربښودئ دقرآنکريم دورزده کړي لپاره يې مزدوري جايزه وبلل همدا ډول دامام ابوحنيفة رحمة الله عليه له آنده مفقود الخبر ، عنين او متعنت نه سي کولای ،چي مبرمن ځان ځني خلاص کړي خو متاخرينو علماوو په دې ټولو مسئلو کي دامام مالک رحمة الله عليه پر مذهب باندي فتوا ورکړې ده ،چي تفصيل يې مولانا اشرف علي تهانوي رحمة الله عليه په کتاب (الحلية الناجزة للحلية العاجزة) کي موجود دئ.

په معاصر وخت کي هم که په کومو مسئلوکي دا خبره محسوسه سي ،چي کومه ربښتيني خبره ددې تقاضا کوي ،چي تغير دي پکښې راسي نو متبحر علماء کولای سي ،چي دځلور مذهبونو څخه ديوه مذهب په رڼا کي فتوا ورکړي خو داخبره ا ړينه ده ،چي تلفيق رانسي يعني داچي دکوم امام مسلک نيم ګړی وا نه خستل سي بلکي دهغه مذهب ټول شرايط په نظر کي ونيول سي ، هر اړخيزه معلومات دي يې راغونډ کړل سي او په پرېکړه کي دي دهغه مذهب علماوو ته رجوع وکړل سي ، دهغو څخه دي پوره تفصيلات واخيستل سي لکه ،چي دالحيلة الناجزة دتصنيف په وخت کي داسي سوي دي ، دوهمه خبره داده ،چي دخپل ځاني فکر پر ځای لازمه داده ،چي دمتبحر في المذهب علماوو سره مشوره وکړل سي او دهغو دمشورې په رڼا کي فيصله وسي.

حاصل داچي شخصي تقليد دمسلمانانو دټولنيزو اړتياوو لپاره خنډ نه دئ بلکي دتقليدپه دايره کي داسي اصول ټاکل سوي دي ،چي

سرچينه: تعليم الاسلام راډيو www.taleemulislam-radio.com/

(c) ketabton.com: The Digital Library

مسلمانان په غور ، دقت او پوره احتياط سره دعلماوو په مشورو سره خپلي مسائلي حل کړي.(۱)

حنفي مذهب اوپه حديث باندي عمل

۱۰: پر حنفي مذهب باندي يو اعتراض او نيوکه دا هم کېږي ،چي دحنفي مذهب حديث يعني هغه حديث ،چي حنفي مذهب تمسک او استدلال په کوي هغه زياته برخه ضعيف وي؟

ددغه نيوکي په جواب کي بايد ووايو ،چي ددغه نيوکي بنسټ پر تعصب باندي ولاړ دئ ځکه که پر حقيقت باندي سترګي پټي نه سي او په ربښتيني ډول باندي داحنافو علماوو کتابونه وکتل سي نو دغه اعتراض به ېېخي پر حنفي مذهب باندي وارد نه سي په ځانګړي ډول که لاندي کتابونه وکتل سي:

۱. شرح معاني الاثار للطحاوي رحمه الله عليه
۲. فتح القدير لابن الهمام رحمه الله عليه
۳. نصب الراية للزيلعي رحمه الله عليه
۴. الجوهر النقي للماردیني رحمه الله عليه
۵. عمدة القاري للعيني رحمه الله عليه

۱: دمسلمانانو دربښتيني اړتيا په صورت کي دنورو مجتهدينو پر نظر باندي دفتوا ورکول مثالونه دي وکتل سي : رد محتار ج : ۲، ص : ۵۵۶، باب الرجعة ، مطلب التحليل، همدا ډول کتاب الشهادة، ج : ۴ ، ص : ۴۲۰، کتاب الحدود ، حد السرقة ، ص : ۲۱۸، فتاوى عالمگيرية ، باب ثامن ، ج : ۳ ، ص : ۲۷۵ ، کتاب القضاء الحيلة الناجزة للحلية العاجزة ، دمولانا اشرف علي تهانوي رحمه الله عليه تاليف، فيض القدير شرح الجامع الصغير ، للمناوي رحمه الله عليه ج : ۱ ، ص : ۲۱۰ حديث اختلاف امتي رحمة.

سرچينه: تعليم الاسلام راډيو www.taleemulislam-radio.com/

(c) ketabton.com: The Digital Library

٦. فتح الملهم لمولانا العثماني رحمة الله عليه
٧. بذل المجهود لمولانا السهارنپوري رحمة الله عليه
٨. اعلاء السنن لمولانا ظفر احمد العثماني رحمة الله عليه
٩. معارف السنن لمولانا البنوري رحمة الله عليه
١٠. فيض الباري شرح البخاري

په پورتنيو کتابونو کي حنفي مذهب دقرآن او حديث پر بنسټ پوره دلايل په اصولي او تشريحي ډول سره بيان سوي دي.

پاته دي نه وي ،چي څو خبرو يادولو اړين دي ،چي دلاندنيو خبرو څخه عبارت دي:

١ : داخبره لازمي ده ،چي دحديث صحت او نه صحت يوازي په بخاري او مسلم پوري معلق نه دئ يعني داچي په صحيحينو کي کوم حديث نه و هغه نو ضعيف دئ بلکي دحديث دقوت او ضعف دار مدار پردې باندي دئ ،چي ددغه حديث سند داصول حديث دشرايطو سره برابر دئ که يا ؟

دبخاري رحمة الله عليه او مسلم رحمة الله عليه څخه ماسوا نورو هم په سلګونو محدثينو احاديث رانقل کړي دي دهغو څخه ،چي هر يو داصول حديث دشرايطو سره برابر سو هم هغه حديث صحيح دئ داخبره هم دياډولو وړه ده ،چي کوم حديث ،چي دصحيحينو څخه ماسوا بل کتاب راوړی وي هغه دي مرجوح وبلل سي داخبره ببخي صحيح نه ده ځکه کله داسي وي ،چي يو حديث دصحيحينو څخه پرته بل کتاب راوړی وي مګر دسند په معيار کي تر صحيحينو لوړ وي دمثال په ډول ابن ماجة په صحاح ستة کتابونو کي شپږم نمبر دئ مګر داسي حديثونه پکښې سته ،چي دصحيح سند له اړخه دصحيحينو تر حديثونو لوړ دي.(وګورئ: ماتمس اليه الحاجة)

سرچينه: تعليم الاسلام راډيو/www.taleemulislam-radio.com

(c) ketabton.com: The Digital Library

همدا لامل دئ کوم حديث ،چي په صحيحينو کي نه وي يا په شپږګونو صحيحو کتابونو کي داحاديثو نه وي هغه دي ضعيف وبلل سي، داسي نه ده بلکي که کوم حديث دصحيح سند له اړخه پياوړی و همغه حديث صحيح دئ او کوم حديث ،چي پياوړی نه وي همغه حديث ضعيف دئ ،که ،چيري دغه معيار په نظر کي ونيول سي نو ډېر هغه اعتراضات ،چي ظاهربينه خلکو پر حنفي مذهب باندي کړي دي هغه به له منځه ولاړ سي.

۲ : دوهمه خبره داده ،چي دمجتهدينو علماوو ترمنځ ،چي په مسائلو کي کوم اختلافات سته دهغو بنسټيز سبب دادئ ،چي ددوی داستدلال طرز اوداستنباط طريقه بېله ، بېله ده دمثال په ډول دځينو مجتهدينو طرز استدلال داسي دئ ،چي که په يوه مسئله کي احاديث متعارض سي نو په هغه حديث دي عمل وسي ،چي سند يې ډېر قوي وي که څه هم نور احاديث سندا قوي موجود وي ، ځيني علمآء بيا ددغو متعارضو احاديثو تشريح داسي کوي ،چي دغه متعارض احاديث بيا سره هم آهنګ سي که څه هم دکمي درجې صحيح يا حسن حديث اصلي وګنل سي او دصحيح حديث معنا خلاف الظاهر سي ، دځينو مجتهدينو طريقه بيا داسي وي ،چي په هغه حديث عمل کوي کوم ،چي اصحابانو اوتابعينو عمل په کړی وي او په نورو کي تاويل کوي.

حاصل داچي دمجتهدينو داستدلال او استنباط طريقې بيلي دي پر هيڅا باندي ددې تور نه سي لګېدای ،چي ده نو قوي حديث پرې اينبی دئ او په ضعيف حديث يې عمل کړی دئ.

امام ابو حنيفة رحمة الله عليه دحديثو ترمنځ دتطبيق کوښښ کړی دئ ، که څه هم ځيني به داسي احاديث وه ،چي مرجوح به وه خو ،چي دکوم حديث معارض به نه و په هغه به ده عمل کاوه که څه هم هغه حديث به دقياس

سرچينه: تعليم الاسلام راډيو www.taleemulislam-radio.com/

(c) ketabton.com: The Digital Library

څخه مخالف و لکه ده مبارک ،چې په لمانځه کې د قهقهې خندا په کولو داودس دماتېدو پرېکړه کړې ده ، په عسلو کې يې دزکاة دواجبېدو پرېکړه کړې ده او داسې نوري مسئلې هم سته ،چې ده مبارک په ضعيفو حديثونو باندې عمل کړی دئ او قياس يې پرې اينبی دئ.

۳: دريمه خبره داده ،چې دحديثو قوت او ضعف ټاکل دا هم يوه اجتهادي معامله ده همدا لامل دئ ،چې دجرح او تعديل دعلماوو ترمنځ اختلاف سته دمثال په ډول يو حديث ديوه امام له آنده صحيح وي خو دبل امام له آنده بيا ضعيف وي دغه معلومات هغه وخت کېدای سي ،چې څوک داحاديثو کتابونه مطالعه کړي . ډېر وخت داسې وي ،چې يو حديث امام ابوحنيفة رحمة الله عليه صحيح بولي ، داعتماد وړ يې بولي او عمل باندې کوي مګر بل امام بيا هغه حديث ضعيف بللی وي او عمل نه باندې کوي، داچې امام ابوحنيفة رحمة الله عليه خپل مجتهد دئ نو دنورو مجتهدينو ويناوي پرده باندې حجت نه سي کېدای.

۴: ډېر وخت داسې وي ،چې امام ابوحنيفة رحمة الله عليه ته کوم حديث په صحيح سند رسېدلی وي مګر ترده وروسته بيا کوم ضعيف راوي هغه حديث رانقل کړی وي نو ځکه دوروسته امامانو لخوا دغه حديث ته ضعيف ويل سوي وي په داسې کړنه سره پر امام ابوحنيفة رحمة الله عليه باندې الزام نه سي لګېدای.

۵: کله داسې وي ،چې کوم حديث ته ديوې خاصې طريقې په وجه ضعيف ويل سوي وي خو داغه حديث په بله طريقه سره په قوي سند سره راغلی وي لکه د (من کان له امام فقراة الامام له قراة) حديث ،چې ځينو ديوې ځانګړې طريقې له مخې ضعيف بللی دئ خو داغه حديث په مسند احمد بن مينع رحمة الله عليه کې په صحيح سند سره رانقل سوی دئ.

سرچينه: تعليم الاسلام راډيو/www.taleemulislam-radio.com

(c) ketabton.com: The Digital Library

٦: کله داسي وي ،چي يو حديث ضعيف وي مګر دبېلابېلو طريقو او اسنيدو له لاري روايت سوی وي، دبېلابېلو اطرافو او اړخونو له خوا راويانو روايت کړی وي دغه حديث ته محدثين حسن لغيره وايي، که څوک په دغه حديث باندي عمل وکړي نو دا الزام باندي لګېدای نه سي ،چي ګويا ده په ضعيف حديث باندي عمل وکړ.

۷: کله داسي وي ،چي يو حديث ضعيف راوي رانقل کړی وي مګر داخبره اړينه ده بايد وويل سي ،چي هر ضعيف راوي خامخا ضعيف حديث نه رانقلوي کله داسي وي ،چي کوم ضعيف راوي قوي حديث رانقل کړی وي هغه په دې ډول ،چي پر قوت باندي يې قوي قرينه موجوده وي ددغه قوي قرينې په وجه دغه حديث منل کېږي دمثال په ډول يو حديث ضعيف وي مګر ټولو اصحابانو او تابعينو لکه حديث ،چي امر کوي همغسي عمل يې کړی وي لکه د (لاوصية لوارث) حديث ،چي ضعيف راوي رانقل کړی دئ مګر داچي ټولو اصحابانو او تابعينو عمل په کړی دئ نو ځکه امامانو او مجتهدينو منلی دئ او دعمل کولو جوګه يې بللی دئ.

کله خو لاداسي هم وي ،چي ځيني محدثين ضعيف حديث ته پر صحيح حديث باندي ترجيح ورکړي دمثال په ډول درسول الله ﷺ لور بي بي زينب رضي الله عنها لومړی دابو العاص په نکاح کښي وه ابو العاص لومړی کافر و وروسته مسلمان سو کله ،چي دی مسلمان سو نو دعبدالله بن عمر رضي الله عنه درواېت له مخي ،چي رسول الله ﷺ خپله لورابو العاص ته ورکړه نوې نکاح يې ور ترڅ او نوی مهر يې هم ورته وټاکی ، دعبدالله بن عباس رضي الله عنه په روايت کي راځي ،چي رسول الله ﷺ نوې نکاح نه ده ورترڅ او نه يې نوی مهر ورته ټاکلی دئ بلکي پر هغه زړه نکاح يې پرېښودل يعني داچي بي بي زينب رضي الله عنها دابو العاص رضي الله عنه سره په هغه زړه

سرچينه: تعليم الاسلام راډيو www.taleemulislam-radio.com/

(c) ketabton.com: The Digital Library

نکاح کي پاته سوه، اوس نو که پورتنيو دوو حديثونو ته وګورو لومړی حديث ضعيف دئ او دوهم حديث صحيح دئ ددغه دوو حديثونو په اړه دامام ترمذي رحمة الله عليه غوندي لوړ محدث داسي پربکړه کړې ده ،چي دوهم حديث ،چي ضعيف دئ دې ته يې پر لومړی حديث ،چي قوي دئ ترجيح ورکړی ده لامل يې دادئ ،چي په دوهم حديث باندي دټولو اصحابانو او تابعينو عمل و.(۱)

امام ابوحنيفة رحمة الله عليه هم کله ددغسي قوي قرائنو په وجه په ضعيف حديث عمل کړی وي نو پر ده باندي دا الزام نه سي لګېدای ،چي ګواکي ده نو په ضعيف حديث باندي عمل کړی دئ.

۸: کله داسي وي ،چي دامام ابوحنيفة رحمة الله عليه په مذهب باندي پوره پوهاوی نه وي راغلی نو ځکه دستي پربکړه وکړي ،چي دامام ابوحنيفة رحمة الله عليه مذهب دحديث څخه مخالف دئ حال داچي دده مبارک مذهب دحديث سره عين مطابق وي ، داسي غلطي ويناوي دځينو اهل علمو څخه سوي دي لکه مشهور سلفي عالم مولانا اسماعيل سلفي رحمة الله عليه ،چي دحنفيانو په مذهب کي يې دتعديل الارکان پر حکم باندي اعتراض کړی دئ اعتراض يې په لاندي ډول دئ:

يو سړي درسول الله صلى الله عليه وسلم په حضور کي لمونځ ادا کړ، نوموړي کس په رکوع او سجده کي تعديل او ارام ونه کړ، رسول الله صلى الله عليه وسلم درې ځلي ورته وويل:

صل فانک لم تصل .

۱: وګورئ : جامع الترمذي باب نکاح الزوجين المشرکين اذا اسلم احدهما، دغه مثال مثال دامام ترمذي رحمة الله عليه دنظر مطابق وړاندي کړل سو او دحنفي مذهب موقف هم لږ ددغه نظر سره توپير لري.

سرچينه: تعليم الاسلام راډيو www.taleemulislam-radio.com/

(c) ketabton.com: The Digital Library

ژباړه : لمونځ وکړه تا لمونځ نه دئ کړی.

يعني داچي ستا لمونځ دصحت له پلوه لمونځ نه دئ درسول الله ﷺ دپورتنۍ لارښوونې پر بنسټ شوافع ،اهل حديث او ځيني نور علماء دافکر کوي ،چي که په رکوع او سجده کي اطمنان رانسي هغه لمونځ صحيح نه دئ او دامام ابوحنيفة رحمة الله عليه پر مذهب که درکوع اوسجدې توپير وسي نو لمونځ يې صحيح دئ دامام ابوحنيفة رحمة الله عليه پر دغه وينا باندي دوی داسي اعتراض کوي ،چي دده مبارک دغه وينا دحديث مخالفه ده ځکه په حديث کي په څرګند ډول وهغه لمانځه ته لمونځ نه وويل سوه ،چي په رکوع او سجده کي يې اطمنان نه و.(۱)

پورته اعتراض ،چي څوک کوي په حقيقت کي دغه کس دحنفي مذهب صحيح ترجماني نه کوي ځکه حنفي مذهب هم دا وايي ،چي که چا په رکوع او سجده کي اطمنان ونه کړ، دهغه کس لمونځ بېرته راګرځول لازمي دئ ، اعتراض کونکي هم دا وايي ،چي که چا په رکوع اوسجده کي اطمنان ونه کړ، لمونځ يې بېرته ر اګرځول لازمي دئ که دامام ابوحنيفة رحمة الله عليه قول هم داسي سي لکه دوی ،چي وايي نو بيا دوی ولي اعتراض کوي؟ خو يوه خبره دياد ولو وړ ده هغه داچي امام ابوحنيفة رحمة الله عليه په لمانځه کي دفرضونو او واجبونو تر منځ فرق کوي هغه په دې ډول ،چي دی مبارک وايي : کوم شی ،چي په قرآن او يا متواتر حديث باندي ثابت وي هغه فرض دئ لکه رکوع ، سجده او داسي نور ، کوم شی ،چي په احاد اخبار ثابت وي هغه واجب دئ لکه دتعديل دارکانو ، فرض او واجب دواړه په عمل کي يو شی دي يعني

۱: تحريک ازادي فکر ، ص : ۳۲

سرچينه: تعليم الاسلام راډيو/www.taleemulislam-radio.com

(c) ketabton.com: The Digital Library

داچي که فرض پاته سي نو لمونځ کونکی به لمونځ ښرته راګرځوي او که واجب پاته سي نو هم به لمونځ کونکی ښرته لمونځ راګرځوي يوازي فرق يې دومره دئ ،چي که چا فرض په لمانځه کي پرېښودئ دغه کس ته تارک الصلوة يعني دلمانځ پرېښودونکی ويل کېږي، ټول لمونځ يې ولاړی ښرته به يې راګرځوي او که چا واجب پرېښودئ تارک الواجب يعني دواجب پرېښودونکی ورته ويل کېږي يعني داچي پرده باندي واجب ده ،چي ديوه واجب دپرېښودو له امله به لمونځ ښرته راوګرځوي ، داخبره دحديث څخه خلاف هم نه ده ځکه دحديث په وروسته برخه کي خپله ددغه خبري څرګندونه سوې ده ځکه په جامع ترمذي کي راغلي دي ،چي کله رسول الله ﷺ وهغه کس ته وفرمايل:

صل فانک لم تصل .

ژباړه : لمونځ وکړه تا لمونځ نه دئ کړی.

اصحابانو رضي الله عنهم ،چي داخبره واورېدل نو ډېره ګرانه ورته معلومه سوه،چي څوک دلمانځه تخفيف کوي هغه ته دي تارک الصلوة وويل سي ، دلږ وخت وروسته رسول الله ﷺ وهغه کس ته دلمانځه صحيح طريقه وروښوول او دارکانو پر تعديل باندي يې ورته ټينګار وکړاو بيا يې ورته و فرمايل:

فاذا فعلت ذالک فقد تمت صلوتک وان انتقصت منه شيئا انتقصت من صلوتک.

ژباړه : کله ،چي دي دغسي وکړل نو لمونځ دي پوره سو او که دي کوم شی ځني کم کړ نو ستا په لمانځه کي هم کموالی رامنځته کېږي.

حضرت رفاعة رضي الله عنه ،چي دپورتني حديث راوي دئ فرمايي:

سرچينه: تعليم الاسلام راډيو www.taleemulislam-radio.com/

(c) ketabton.com: The Digital Library

وكان اهون عليهم من الاولي انه من انتقض من الاولي انه من انتقص من ذالک شيئا انتقص من صلاته و لم تذهب كلها.(۱)

ژباړه : رسول الله ﷺ ،چې وروستۍ خبره وکړه اصحابانو رضی الله عنهم ته تر لومړۍ خبري اسانه معلومه سوه يعني داچې که چا کمی وکړ نو په لمانځه کي يې کمی پيدا کېږي او ټوله لمونځ يې نه ځي.

که دپورتني حديث وروستۍ برخي ته وکتل سي نو په څرګند ډول باندي دحنفيانو دعمل څرګنوالی او تائيد کوي.

دلاسپيناوي په موخه بايد ووايو ،چې حنفيان خو په پورتني حديث باندي بېخي عمل کوي بلکي تر نورو لا ښه په دې حديث عمل کوي هغه خبره بېخي غلطه ده ،چې وايي حنفيان دپورتني حديث څخه په څرګند ډول مخالفت کوي داچې حنفيان په پورتني حديث عمل کوي مخالفت نه ځني کوي پورته واضح سوه او داچې تر نورو يې ښه کوي هغه په دې ډول ،چې حنفيان دحديث په لومړۍ برخه هم عمل کوي او دپای په برخه يې هم عمل کوي ځکه دحديث په لومړۍ برخه کي راځي ،چې که چا په لمانځه کي تعديل ونه کړ، لمونځ به بېرته راګرځوي حنفيان هم دغسي عمل کوي او وايي ،چې څوک په لمانځه کي تعديل ونه کړي هغه به بېرته لمونځ راګرځوي ، همدا ډول دحديث په پای کي راځي ،چې که چا په لمانځه کي تعديل ونه کړ، ټوله لمونځ يې نه ځي بلکي په لمانځه کي يې نيمګړتيا پيدا کېږي حنفيان هم داسي وايي ،چې که چا په لمانځه کي تعديل ونه کړ، تارک الصلوة نه ورته ويل کېږي بلکي تارک الواجب ورته ويل کېږي يعني داچې پر ده

۱: جامع الترمذي باب ماجاء في وصف الصلوة

سرچينه: تعليم الاسلام راډيو www.taleemulislam-radio.com/

(c) ketabton.com: The Digital Library

باندي ددغه لمانځه ښرته راګرځول دواجب دپرښودو له امله واجب دي.

که پورتنۍ پوره تشريح څوک په نظر کي ونيسي نو دا به ورته معلومه سي ،چي که څوک پر حنفي مذهب باندي دا الزام لګوي ،چي هغوی دحديث څخه مخالفت کوي نو دا الزام به په ښکاره پر حنفي مذهب باندي زياتی وي.

په هر صورت ډېر وخت داسي وي ،چي په حنفي مذهب باندي څوک پوه سوی نه وي او پوره څېړنه يې نه وي کړې نو ځکه اعتراض ورته پيدا سي يعني داچي زيات وخت داعتراض منشاء نه تحقيق له امله وي.

که پورته څو اصول په نظر کي ونيول سي، دحنفيانو دمذهب پوره تحقيق به وسي ، دلايل يې وڅېړل سي نو ټولي غلط فهمياني به لمنځه ولاړي سي ،چي وايي ،چي دحنفي مذهب دلايل ضعيف دي ، يا داچي احناف پر احاديثو باندي قياس مخکي کوي.

حقيقت دادئ ،چي يو مجتهد ددې حق لري ،چي دامام ابو حنيفة رحمة الله عليه سره په يوه مسئله کي اختلاف وکړي او يا دي دده يو دليل ونه مني مګر که څوک دامام ابو حنيفة رحمة الله عليه پر مذهب باندي علي الاطلاق دضعف پرېکړه کوي او يا علي الاطلاق دا خبره کوي ،چي په حنفي مذهب کي قياس ته تر حديث ترجيح ورکول کېږي داسي کړنه تر لوی ظلم کمه نه ده.

داخبره ثابته ده ،چي ډېرو وتلو مجتهدينو دامام ابو حنيفة رحمة الله عليه ستاينه کړې ده خو دلته يوازي ديوه داسي عالم وينا رانقلوو ،چي په قرآن ، حديث او تصوف کي منل سوی کس دئ ، حنفي هم نه دئ بلکي شافعي عالم دئ نومورې عالم علامه عبدالوهاب شعراني رحمة الله عليه دئ ، دی مبارک که څه هم حنفي عالم نه دئ بلکي شافعي عالم دئ خو دهغه

سرچينه: تعليم الاسلام راډيو www.taleemulislam-radio.com/

(c) ketabton.com: The Digital Library

کسانو يې سخته غندنه کړې ده ،چې پر امام ابو حنيفة رحمة الله عليه او يا دده پر فقهي مذهب باندې نيوکې او اعتراضونه کوي.

علامه عبدالوهاب شعراني رحمة الله عليه په خپل کتاب الميزان الکبري کې څو فصلونه دامام ابو حنيفة رحمة الله عليه ددفاع لپاره وضع کړي دي، نوموړی عالم فرمايي:

اعلم يا اخي اني لم اجب عن الامام في هذه الفصول بالصدور احسان الظن فقط ، كما يفعل بعضهم وانما اجبت عنه بعد التتبع والفحص في كتب الادلة ... ومذهبه اول المذاهب تدوينا وآخرها انقراضا كما قاله بعض اهل الكشف ... وقد تتبعت اقواله واقوال اصحابه لما الفت كتاب الادلة المذاهب فلم اجد قولا من اقواله واو اقوال اتباعه الا وهو مستند الي آية او حديث او اثر او الي مفهوم ذالک او حديث ضعيف كثرت طرقه او الي قياس صحيح علي اصل صحيح، فمن اراد الوقوف فليطالع كتابي المذكور.([1])

ژباړه : اې وروره! پوه سه ما،چې په دغه فصلونو کې دامام ابو حنيفة رحمة الله عليه له لوري څخه کوم جوابونه ورکړي دي له دې امله نه دي ،چې زما باندې حسن ظن او يا حسن عقيدت دئ لکه ،چې دغينو خلکو هم دغسي عادت وي بلکي ما ،چې کوم څه ويلي دي هغه مي د کتابونو او دلايلو دپوره لټون وروسته ويلي دي ... څرګنده خبره ده ،چې دامام ابو حنيفة رحمة الله عليه مذهب تر ټولو مخکنی مدون سوی مذهب دئ او ځيني دکشف څښتنان په دې باور دي ،چې تر ټولو وروسته به له منځه ځي... ما،چې کله دفقهي مذاهبو پر اقوالو باندې کتاب وليکئ نو دامام ابو حنيفة رحمة الله عليه او دده دپيروانو داقوالو تتبع وکړه نو ما دده مبارک او دده دپيروانو په ويناوو کې داسي خبره پيدا نه کړه ،چې دلاندې شرعي حجتونو څخه دي مخالف وي:

---

[1]: الميزان الكبري للشعراني رحمة الله عليه ، ج : ۱ ، ص : ۶۳ ، ۶۴، ط : مصطفي الباني مصر.

سرچينه: تعليم الاسلام راډيو www.taleemulislam-radio.com/

(c) ketabton.com: The Digital Library

یاداچي دغه خبره به دقرآن سره موافقه وه ، یاد ا،چي دحدیث سره به موافقه وه ، یا داچي دکوم اثر سره به موافقه وه، یاداچي دقرآن ، حدیث او اثر دمفهوم سره به موافقه وه ، یاداچي دکوم داسي ضعیف حدیث سره به موافقه وه ،چي په ډېرو طریقو سره به روایت سوی و ، یاداچي دصحیح قیاس سره به موافقه وه ،چي د صحیح اصل څخه به متفرع و ، که څوک غواړي پوره معلومات لاسته راوړي نو په دې اړه دي زما مذکور کتاب مطاله کړي.

تر پورتني عبارت وروسته علامه عبدالوهاب شعراني رحمۃ اللہ علیہ دهغه کسانو په اړه مستقل فصل ایښی دئ ،چي پر امام ابوحنیفة رحمۃ اللہ علیہ باندي الزام لګوي ،چي دی تر حدیث قیاس ته حق اولیت ورکوي، ددغه موضوع په اړه علامه عبدالوهاب شعراني رحمۃ اللہ علیہ لیکي :

اعلم ان هذا الكلام صدر من متعصب علي الامام متهور في دينه غير متورع في مقاله غافلا عن قوله تعالي : ان السمع والبصر والفواد كل اولئک كان عنه مسؤلا...الخ.

ژباړه : پوه سئ! داخبري هغه څوک کوي ،چي دامام ابوحنیفة رحمۃ اللہ علیہ سره تعصب لري ، په خپل دین کي دلاوره وي ، په خبره کي احتیاط نه کوي او دالله جل جلالہ ددې ارشاد څخه غافله وي ،چي فرمایي: بېشکه دقیامت په ورځ دسترګي ، غوږ او زړه ټولو څخه پوښتنه کېږي.

علامه عبدالوهاب شعراني رحمۃ اللہ علیہ وروسته دا قصه هم لیکلې ده ،چي یوه ورځ حضرت سفیان ثوري رحمۃ اللہ علیہ ، مقاتل بن حیان رحمۃ اللہ علیہ ، حماد بن سلمة رحمۃ اللہ علیہ او حضرت امام جعفر صادق رحمۃ اللہ علیہ امام ابوحنیفة رحمۃ اللہ علیہ ته راغلل ددې لپاره ،چي دهغو اتهاماتو حال ځان معلوم کړي کوم ،چي دامام ابوحنیفة رحمۃ اللہ علیہ په اړه ځیني خلکو ویل: کله ،چي دوی مبارکان امام ابوحنیفة رحمۃ اللہ علیہ ته راغلل نو پوښتنه یې ځني وکړل ،چي ستا په اړه ځیني خلک داسي وایي ،چي ته قیاس تر احادیثو مخکي کوې؟ ده

سرچینه: تعلیم الاسلام راډیو www.taleemulislam-radio.com/

(c) ketabton.com: The Digital Library

مبارک په جواب کي ورته وفرمايل: قياس خو زه تر قرآن او حديث نه مخکي کوم بلکي تر اثريې لا هم وروسته کوم ، بيا امام ابوحنيفة رحمة الله عليه ودغو مبارکانو تر غرمې پوري دخپلي تګ لاري اړونده معلومات ورکړل، وروسته دغه مبارکان ولاړسول او وې فرمايل:

انت سيد العلماء فاعف عنا فيما مضي منا من قيعتنا فيک بغير علم.

ژباړه : ته دعلماوو سردار يې موږ ته دهغه بدګمانۍ په اړه عفوه وکړه کومه ،چې موږ مخکي دنه پوهاوي له امله درلوده.

علامه عبدالوهاب شعراني رحمة الله عليه بيا يو فصل ايښي دئ ددې لپاره ،چې دهغه خلکو خبري رد کړي ،چې هغوی دامام ابوحنيفة رحمة الله عليه پر مذهب باندي ددلايلو دضعف الزام لګوي ، دغه ترديد يې په مفصل او واضح ډول کړی دئ وروسته يې بيا يو فصل ايښي دئ په دې فصل کي يې ليکلي دي ،چې دامام ابوحنيفة رحمة الله عليه مذهب په ديني لحاظ محتاط ترين مذهب دئ، علامه عبدالوهاب شعراني رحمة الله عليه په دې اړه ليکلي دي:

فاني بحمد الله تتبعت مذهبه فوجدته في غاية الاحتياط والورع.

ژباړه : الله جل جلاله لره دي حمد وي ما دامام ابوحنيفة رحمة الله عليه دمذهب دمسائلو تتبع وکړه ما ته داخبره ثابته سوه ،چې دده مذهب محتاط ترين مذهب دئ او دتقوا څخه ډک مذهب دئ.

دعلامه عبدالوهاب شعراني رحمة الله عليه دغه څو ويناوي مو دنمونې په ډول رانقل کړې دپوره تفصيل لپاره د علامه عبدالوهاب شعراني رحمة الله عليه کتاب ميزان الکبري په دغه موضوع کي مطالعه کړئ(۱)

۱: الميزان الكبرى ، ج : ۱ ، ص : ۶۳ تر ۷۵

سرچينه: تعليم الاسلام راډيو/www.taleemulislam-radio.com

(c) ketabton.com: The Digital Library

امام ابو حنيفة رحمه الله او علم حديث

۱۱: پر امام ابو حنيفة رحمه الله باندي ځيني خلک دا سطحي نيوکه هم کوي ،چي دامام ابو حنيفة رحمه الله داحاديثو ذخيره نه وه يعني داچي ده مبارک په حديثونو کي ډېر معلومات نه درلودئ بلکي په احاديثو کي کمزوری و.

حقيقت دادئ ،چي دپورتنی اعتراض بنسټ هم پر تعصب او کم علمی باندي ولاړ دئ ځکه ډېر علماء کرام د امام ابو حنيفة رحمه الله نه يوازي په فقه کي دده په جلاليت باندي قايل دي بلکي ده ته په حديثونو کي هم په علمي جلاليت باندي قايل دي ، نه يوازي ،چي حنفي علماء دا وايي بلکي دنورو مذهبونو علماء هم د امام ابو حنيفة رحمه الله په علمي لوړوالي باندي اعتراف کوي ، دهغو ټولو علماوو ويناوي دلته رانقول ګران کارد ئ يوازي دنمونې لپاره دلته دځو محدثينو ويناوي رانقلوو :

۱ : حضرت ابن جريح رحمه الله دفقه او حديث مشهور امام دئ او دامام شافعي رحمه الله مذهب زياته برخه دده څخه اخذ سوې ده ، دده په اړه ابن حجر رحمه الله نقل کوي ،چي کله ده ته د امام ابو حنيفة رحمه الله دوفات خبر ورورسېدئ نو ده دډېر خفګان څخه يې وويل:

اي علم ذهب.([1])

ژباړه : څنګه علم ولاړئ.

۲ : مکي بن ابراهيم رحمه الله دامام بخاري رحمه الله استاذ دئ دامام بخاري رحمه الله زياته برخه ثلاثيات هم دده څخه روايت کړل سوي دي ،

[1]: تهذيب التهذيب ، ج :۱۰ ، ص : ۴۵۰.

سرچينه: تعليم الاسلام راډيو/www.taleemulislam-radio.com

(c) ketabton.com: The Digital Library

دی د امام ابوحنیفة رحمة الله علیه شاګرد و، امام مزني رحمة الله علیه د امام ابوحنیفة رحمة الله علیه په اړه تهذیب الکمال کي وایي:

کان اعلم اهل زمانه(۱)

ژباړه: امام ابوحنیفة رحمة الله علیه دخپلي زمانې تر ټولو ښه عالم و.

پاته دي نه وي، چې دمتقدمینو علماوو له آنده دعلم لفظ دحدیث علم ته استعمالیږي نو ځکه کوم شهادتونه، چې د امام ابوحنیفة رحمة الله علیه دعلم لپاره سوي دي هغه دعلم حدیث لپاره دي.

۳: حضرت شعبة بن الحجاج رحمة الله علیه په حدیثو کي دامیر المؤمنین لقب لري، په جرح او تعدیل کي ترټولو مخکي امام بلل کیږي هغه د امام ابوحنیفة رحمة الله علیه په اړه وایي:

کان والله حسن الفهم جید الحفظ.

ژباړه: په الله جل جلاله قسم کوم، چې امام ابوحنیفة رحمة الله علیه ښه فهم او ښې حافظې والا و.

کله، چې حضرت شعبة رحمة الله علیه ته د امام ابوحنیفة رحمة الله علیه دوفات خبر ورسېدئ هغه وفرمایل:

طفئ عن الکوفة نور العلم، اما انهم لایرون مثله ابدا.(۲)

ژباړه: دکوفې څخه دعلم څراغ مړ سو اودکوفې خلک به بیا د امام ابوحنیفة رحمة الله علیه په څېر ښه عالم دتل لپاره نه ووینې.

۴: امام ابوداود رحمة الله علیه د امام ابوحنیفة رحمة الله علیه په اړه وایي:

کان ابا حنیفة رحمة الله علیه اماما.(۱)

۱: تهذیب التهذیب، ج: ۱۰، ص: ۴۵۱.

۲: الخیرات الحسان لابن حجر المکي، ص: ۳۲، ۷۱، داتجاء الوطن د ۸ او ۱۷ صفحې څخه اخستل سوی دئ.

سرچینه: تعلیم الاسلام راډیو/www.taleemulislam-radio.com

(c) ketabton.com: The Digital Library

ژباړه : امام ابو حنيفة رحمه الله امام و.

۵: يحيي بن معين رحمه الله دجرح او تعديل امام دئ د امام ابو حنيفة رحمه الله په اړه وايي:

كان ابو حنيفة رحمه الله ثقة لايحدث بالحديث الا بما يحفظه.

بل ځای فرمايي:

كان ابو حنيفة رحمه الله ثقة في الحديث.

همدا ډول يحيي بن معين رحمه الله ديحيي بن سعيد القطان رحمه الله دا اعتراف رانقل کړی دئ:

قد اخذنا باكثر اقواله.(۲)

ژباړه : موږپه ډېرو ځايونو کي د امام ابو حنيفة رحمه الله په اقوالو عمل کوو.

په يو بل ځای کي راځي چي ديحيي بن معين رحمه الله څخه پوښتنه وسول ،چي ايا دامام ابو حنيفة رحمه الله احاديث سته؟ ده په جواب کي ورته وفرمايل:

نعم ثقة ، ثقة.(۳)

ژباړه : امام ابو حنيفة رحمه الله ثقه دئ ، ثقه دئ.

پورته ويناوي يوازي دنمونې په توګه راوړل سوې که نه نو داسي ويناوي ډېخي زياتي دي ،چي د امام ابو حنيفة رحمه الله په اړه ويل سوي دي.

۱: تذكرة الحفاظ للذهبي رحمه الله ، ج : ۱ ، ص : ۱۶۰.

۲: تهذيب التهذيب ، ج : ۱۰ ، ص : ۴۵۱.

۳: مناقب الامام الاعظم للموفق ، ج : ۱ ، ص : ۱۹۲

سرچينه: تعليم الاسلام راډيو/www.taleemulislam-radio.com

(c) ketabton.com: The Digital Library

امام ابوحنيفة رحمه الله خپله داحاديثو يوكتاب د (كتاب الاثار) په نوم تاليف كړ دئ،چي هغه مخكني داحاديثو كتابونه لكه موطا امام مالک ، مصنف عبدالرزاق ، منصنف ابن ابي شيبة او داسي نور كتابونه لا هم نه وه تاليف سوي.

امام زرنجي رحمه الله فرمايي: امام ابوحنيفة رحمه الله په كتاب الاثار كي تر څلويښت زرو زيات منتخب احاديث رانقل كړي دي.(۱)

د امام ابوحنيفة رحمه الله دپورتني كتاب ترڅنګ نورو جليل القدر محديثينو د امام ابوحنيفة رحمه الله اولس مسانيد هم راجمع كړي دي ،چي هريو يې تر مسند امام شافعي كم نه دئ، په دغه محديثينو كي يو حافظ ابن عدي رحمه الله دئ ، دى په احاديثو كي تكړه نقاد دئ ، دده په لومړيو كي پر امام ابوحنيفة رحمه الله باندي بدګومان و، وروسته ،چي حقيقت ورته معلوم سو نو دمخكنيو بدګومانيو دكفارې لپاره د امام ابوحنيفة رحمه الله مسند مرتب كړ.

په هر صورت په احاديثو كي د امام ابوحنيفة رحمه الله مقام ډېر لوړ دئ دومره تفصيل پكښي سته ،چي ټول دلته ليكل ناشوني دي(۲)

په اخره كي مورخ دمشهور اهل حديث عالم نواب صديق حسن خان رحمه الله هغه شاهدي رانقلوو ،چي د امام ابوحنيفة رحمه الله په اړه يې كړي ده ، ده د امام ابوحنيفة رحمه الله په اړه ليكلي دي:

وكان عالما عاملا زاهدا عابدا ورعا تقيا كثير الخشوع دائم التضرع الى الله تعالى.

۱: الامام الاعظم للموفق، ج : ۱ ، ص : ۹۵ ، ۹۶، ط: دكن ، سنه : ۱۳۲۱هـ

۲: په دې موضوع كي دي دتفصيل لپاره په اردو ژبه كي دمولانا احمد كاندهلوي رحمه الله كتاب امام اعظم اور علم حديث وكتل سي ، او په عربي ژبه كي دي مولانا ظفر احمد عثماني كتاب اتجاء الوطن وكتل سي.

سرچينه: تعليم الاسلام راډيو www.taleemulislam-radio.com/

(c) ketabton.com: The Digital Library

ژباړه : امام ابو حنيفة رحمة الله عليه باعمله عالم و ، زاهد او عبادت کونکی و ، پرهيزګاره ، زيات خشوع کونکی اوتل الله جل جلاله ته عاجزي کونکی و .

د امام ابو حنيفة رحمة الله عليه تر ډېرو فضايلو او مناقبو ليکلو وروسته يې ليکلي دي:

ومناقبه وفضائله كثيرة ، وقد ذكر الخطيب البغدادي في تاريخه منها شيئا كثيرا، ثم اعقب ذالک بذكر ما كان الاليق تركه والا ضراب عنه ، فمثل هذا الامام لايشک في دينه ولافي ورعه وتحفظه ، ولم يكن يعاب بشئ سوى قلة العربية.([1])

ژباړه: د امام ابو حنيفة رحمة الله عليه مناقب او فضايل ډېر دي ،چې خطيب بغدادي رحمة الله عليه په خپل تاريخ کي ډېر ليکلي دي ، وروسته يې ځيني داسي خبري ليکلي دي ،چې پرېښودل او اعراض ځني کول ښه دي ، د امام ابو حنيفة رحمة الله عليه په ديانت ، پرهيزګاری او تحفظ کي شک نسته او پرده باندي هيڅ عيب نه سي لګېدای پرته لدې ،چې په عربيت کي کمزوری و .

نواب حسن خان رحمة الله عليه پر امام ابو حنيفة رحمة الله عليه باندي دعربيت دکموالی نيوکه کړې ده پردې خبره به وروسته وږغيږو خو لومړی بايد دا ووايو ،چې پر امام ابو حنيفة رحمة الله عليه ،چې داحاديثو کوم اعتراض کېږي دهغو په اړه حسن خان رحمة الله عليه هيڅ يادونه نه ده کړې بلکي دده کتاب تاج المکل ،چې داحاديثو دکتابونو په لړ کي دئ ده دخپل کتاب په پيل کي ويلي دي ،چې زه دمحدثينو حالات بيانوم او ده په دغه بيان کي امام ابو حنيفة رحمة الله عليه دمحدثينو په قطار کي راوړی دئ ، محدث يې ورته ويلی دئ او هيڅ نيوکه يې نه ده باندي کړې.

---

[1]: التاج المكمل ، مؤلفه نواب حسن صديق خان رحمة الله عليه ، ص: ۱۳۶ تر ۱۳۸ پوري، ترجمه :۱۱۹، ط : بمبي، سنه : ۱۳۸۴هـ.

سرچينه: تعليم الاسلام راډيو www.taleemulislam-radio.com/

(c) ketabton.com: The Digital Library

پاته سوه داخبره ،چې نواب صاحب پر امام ابوحنيفة رحمة الله عليه باندي دعربيت دکموالي نيوکه کړې ده ، نواب صاحب دغه اعتراض دقاضي ابن خلکان څخه رانقل کړې ده ځکه هغه هم په کټ مټ ډول دغسي عبارت ليکلی دئ، مګر داسي معلوميږي ،چې نواب صاحب دابن خلکان وروستنی عبارت نه دئ رانقل کړی ،چې داعتراض اصل حقيقت معلوم سوی وای، حقيقت داسي دئ ،چې ددې اعتراض اصل بنسټ يوه قصه ده ، قصه په دې ډول ده : مشهور نحوي ابو عمرو بن العلاء رحمة الله عليه د امام ابوحنيفة رحمة الله عليه څخه دقتل شبه عمد په اړه پوښتنه وکړه ،چې ايا په دې قتل سره قصاص لازميږي که يا؟ امام ابوحنيفة رحمة الله عليه دخپل مذهب مطابق جواب ورکړ، ،چې قصاص نه لازميږي، ابوعمروبن العلاء رحمة الله عليه ورته وويل : ولوقتله بالمنجنيق؟، امام ابوحنيفة رحمة الله عليه ورته وفرمايل: ولوضربه بالباقبيس.

دامام ابوحنيفة رحمة الله عليه پر دغه جمله باندي دا اعتراض وسو ،چې ده داجمله بايد داسي ويلې وای: ولوضربه بابي قبيس.

حقيقت دادئ ،چې دغه اعتراض ځکه صحيح نه و ،چې عرب همدغسي وايي لکه امام ابوحنيفة رحمة الله عليه ،چې جمله ويلې وه.

قاضي ابن خلکان ،چې کله پورتنی اعتراض رانقل کړی نو بيا يې وروسته دپورتنی اعتراض جواب خپله ويلی دئ او په جواب کي يې ويلي دي ،چې امام ابوحنيفة رحمة الله عليه خپله جمله دهغو خلکو دلغت سره سمه ويلې وه ،چې هغوی په اسماء ستة کي ټول وخت الف مني لکه ،چې يو شاعر وايي:

فان اباها وابا اباهـــــا

قد بلغا في المجد غايتاها

سرچينه: تعليم الاسلام راډيو www.taleemulislam-radio.com/

(c) ketabton.com: The Digital Library

په پورتني شعر باید دنحوي قانون له مخي (وابا ابیها) وویل سي .
قاضي ابن خلکان دخپل جواب په اوږدو کي لیکي :
وهي لغة الكوفيين وابو حنيفة رحمۃ اللہ علیہ من اهل الكوفة.(۱)
ژباړه : دا دکوفه والو لغت دئ ،چي امام ابو حنيفة رحمۃ اللہ علیہ استعمال کړی دئ او امام ابو حنيفة رحمۃ اللہ علیہ هم دکوفې دخلکو څخه دئ.
پورتنۍ قصې په وجه پر امام ابو حنيفة رحمۃ اللہ علیہ باندي دعربیت دکموالي نیوکه راپورته سوې ده خو که څوک په دغه خبره پر امام ابو حنيفة رحمۃ اللہ علیہ باندي دعربیت دکموالي اعتراض کوي دا خپله دمعترض دعربیت پر کموالي باندي دلالت کوي.

په تقليد کي جمود

په وروستۍ کي داخبره دیادوني او پام وړه ده ،چي لکه څرنګه ،چي دتقليد مخالفت او په شرعي احکامو کي ځاني نظر دملامتیا او مذمت لایق کار دئ په دغه ډول په تقليد کي جمود او غلو کول هم دمذمت وړ او دملامتیا وړ کار دئ ، لاندي ،چي کوم صورتونه ذکر کېږي همدغه صورتونه نه دي ، جمود في التقليد پکښي سته او په تقليد کي غلو ده:
۱: دمجتهدینو په اړه داسي ګومان کول ،چي دوی ته دشارع مقام ورکړل سي او یا دوی دانبیاوو په څېر معصوم او دهر ډول خطاوو څخه پاک وګڼل سي.

۱: وفيات الاعيان لابن خلكان رحمۃ اللہ علیہ ج : ۲ ، ص : ۱۶۵.

سرچینه: تعلیم الاسلام راډیو www.taleemulislam-radio.com/

(c) ketabton.com: The Digital Library

۲: په کوم صحيح حديث باندي يوازي له دې امله عمل ونه کړل سي ،چې په دې اړه زمونږ دامام څخه کوم قول نه دئ رانقل سوی دمثال په ډول په تشهد کي د(اشهدان لا اله الا الله) په ويولو سره دشهادت ګوته پورته کېدل په زيات شمېر حديثونو سره ثابته ده مګر څوک ،چې يې له دې امله نه پورته کوي ،چې په دې اړه دامام ابوحنيفة رحمة الله عليه څخه کوم قول نه دئ رانقل سوی همدا لامل دئ ،چې ځينو خلکو لاندي ګستاخانه او بې ادبه جمله ويلې ده:

مارا قول ابوحنيفة رحمة الله عليه بايد، قول رسول کافی نيست

نعوذبالله العلي العظيم، دا هم هغه جامد تقليد دئ ،چې بدي يې په قرآن او حديث سره ثابته ده.

۳: په نبوي احاديثو کي داسي کاټ واټ کار ترسره کول ،چې مناسب نه وي او دمذهب سره يې برابرول، او يا داسي دکاره وتلي تاويلات پکښې کول ،چې دده خپل زړه هم پر مطمئن نه وي خو دا دهر چا فکري جوګه والی دئ ، که ،چيرې کوم کس ته دحديث په کومه توجيه کي رښتينې شرح صدوري وي او بل کس يې صحيح نه وبولي نو دغه دوهم کس ته پر لومړی کس باندي دنيوکي کولو حق نسته.

۴: که يو متبحر عالم ته صحيح حديث ورسيږي ، دا ورته معلومه سي ،چې دمذهب قول ددغه حديث څخه مخالف دئ او ددې حديث په مقابل کي بل معارض هم نه وي نو بيا هم دغه متبحر عالم حديث پرېږدي او په مذهب عمل وکړي دې ته هم جامد تقليد ويل کېږي ،چې پوره تفصيل يې مخکي تېر سو.

۵: داهم په تقليد کي جمود او غلو ده ،چې څوک داسي عقيده ولري ،چې زما مذهب حق دئ او نور مذهبونه نعوذبالله باطل دي.

سرچينه: تعليم الاسلام راډيو www.taleemulislam-radio.com/

(c) ketabton.com: The Digital Library

حقيقت دادئ ،چي دټولو مذهبونو امامانو داجتهاد دشرايطو دپوره کولو وروسته هر يوه دقرآن او حديث دصحيح مقصود دمعلومولو لپاره پوره ، پوره کوشش کړی دئ نو ځکه دټولو امامانو مذهبونه حق دي همدا وجه ده که ديوه مجتهد څخه کومه اجتهادي غلطي سوې وي نونه يوازي ،چي دالله ﷻ په وړاندي معاف دئ بلکي الله ﷻ ده ته دخپل کوشش ثواب هم ورکوي ،چي تصريح يې په احاديثو کي سته ،البته يو مقلد داسي ويلای سي ،چي زمامذهب صحيح دئ خودابه وايي ،چي زما په مذهب کي ددې احتمال سته ،چي ځيني شيان پکښې غلط وي او دنورو مذهبونوپه اړه به هم داسي عقيده لري ،چي هغه مذهبونه دصحت او غلطتيا دواړو احتمال لري.

٦: دمجتهدينو امامانو زيات اختلافات رابرسېره کول او وړاندي کول داهم لويه غلطي ده ځکه په زياتو مسائلو کي دامامانو ترمنځ اختلاف يوازي دافضليت او نه افضليت خبره وي، دجواز او نه جواز خبره نه وي لکه درکوع پر مهال باندي لاسونه پورته کول يا نه پورته کول ،آمين په زوره ويل ، يا نه ويل ، په ولاړه کي لاسونه تر نامه لاندي نيول او يا پر سينه باندي نيول او داسي نوري مسائلي داټولي مسائلي هغه مسائلي دي ،چي دافضليت او نه افضليت خبره ده که نو پر دواړه طريقو باندي دځلورو امامانو په اتفاق لمونځ جايز دئ خو يوازي يو امام يې يوه طريقه افضله بولي او بل امام يې بله طريقه افضله بولي ، داسي مسائلي رابرسېره کول ، دحلال او حرام حکم ورکول ،يا په امت کي تفرقه پيدا کول او داسي نور داټول کارونه حرام او ممنوع دي بايد په کلکه ځانونه ځني وساتل سي.

۷: همدا ډول دامامانو په منځ کي ،چي کومي دجواز او نه جواز مسائلي دي دهغوی په اړه اختلاف ته عملي بڼه ورکول يعني داچي

www.taleemulislam-radio.com/سرچينه: تعليم الاسلام راډيو

(c) ketabton.com: The Digital Library

دداسي اختلافاتو په وجه جنګ جګړې کول په هيڅ مذهب کي جايز نه دي يا داچي ددې اختلافاتو په وجه يو بل ته عيب ويل ، پوچ رد سره ويل اوبدګومانۍ سره کول دټولو مذهبونو په اتفاق سره حرامي دي پردې موضوع باندې علامه شاطبي رحمه الله مفصله او نفيسه وينا کړې ده ځوک ،چې دعلم څښتنان وي هغو ته دمطالعې وړده.(۱)

۱: وګورئ: الموافقات للشاطبي رحمه الله ، ج : ۴ ، ص : ۲۲۰ تر ۲۲۴

سرچينه: تعليم الاسلام راډيو/www.taleemulislam-radio.com

(c) ketabton.com: The Digital Library

وروستی وړاندیز

دتقليد دمسئلې حقيقت دخپلې علمي توانايۍ په اندازه په تيرو صفحو کې روښانه کړل سو په آخر کې زمونږ وړاندیز دا دئ ،چې ددې کتاب دليکلو څخه زمونږ موخه دانه ده ،چې بحث ، مباحثې او مناظرې دي وکړل سي بلکې زمونږ موخه داده ،چې دمسلمان امت داکثريت برخې دريځ ،چې دبېلو مذهبونو سره اړه لري هغه څرګند سي ، که ،چيرې په ناخبرۍ سره دقلم دځوکې څخه کوم داسې لفظ وتلی وي ،چې دچا دخفګان او ناراضۍ سبب ګرځېدلی وي نو دهغه څخه دزړه له کومې اوپه پوره اخلاص سره بخښنه غواړو.

ددې صفحو دليکلو څخه اصلي موخه داده ،چې دمسلمان امت دزياتې برخې نقطه نظر دلايل څرګند سي او دغير مقلدينو له خوا ،چې اختلافات سوي دي او ددغو اختلافاتو په وجه باندې دحرام ، شرک او داسې نورو شيانو غلط فهمياني پيدا سوي دي ددغو غلط فهمياتو دليرې کېدو امکانات زيات سي که څوک زمونږ ددغه نقطې سره بيا هم اختلافات لري نو بيا دي پر خپل دريز باندې ودريږي او زمونږ پر امامانو دي دا تور نه لګوي ،چې دوی شريعتونه دځانه جوړ کړي دي او نه دي ددغو مجتهدينو پر پيروانو باندې دشرک الزام لګوي دا يو خطرناکه کار دئ داسې خطر ناکه دئ ،چې زر ځله پناه ځني غوښتل پکار دي.

ددغسې خلکو لپاره دمشهور اهل حديث عالم نواب حسن خان رحمۃ اللہ علیہ ،چې دوی ته دلاري دځراغ حيثيت لري ـ يو اقتباس رانقلوو ، حسن خان رحمۃ اللہ علیہ په خپل کتاب ابقاء المنن بالقاء المحن کې ليکي:

سرچینه: تعلیم الاسلام راډیو www.taleemulislam-radio.com/

(c) ketabton.com: The Digital Library

پرماباندي دالله ﷻ يو احسان داسوی دئ ،چي زه ناجيه فرقه يوازي اهل سنت ګڼم په اهل سنتو کي که حنفي وي ، که شافعي وي ، که مالکي وي ، که حنبلي وي ، که ظاهري وي ، که اهل حديث او که متصوف وي ددغو ټولو په حق کي زه هيڅ بدګومانی نه لرم سره ددې ،چي ماته معلومه ده،چي په هر ډله کي څه داسي مسائلي سته ،چي ددلايلو څخه خلاف دي او ځيني يې بيا دنصوصو سره موافقي دي ، ځيني فتاواوي يې صحيح ، ځيني کمزوري او مردودي دي خو حکم اکثريت ته دئ نه اقليت ته ، دامامانو څخه ،چي کوم عمل دحديثونو څخه پاته سوی وي دهغه لپاره شل عذرونه دي ،چي په جلب المنفعت نومي کتاب کي ليکل سوي دي.

دسلفو پر امامانو باندي دا طعن لګول ،چي دوی دسنتو څخه مخالفت کړی دئ دا په دې معنا دئ لکه په انصاف کي ،چي څوک چور او چپاول جوړوي ، البته کوم مقلد ته ،چي صحيح قرآني دليل او يا صحيح حديث څرګند سي بيا هم پر خپل مذهب باندي کلک ولاړ وي او په تقليد کي بيا هم جمود کوي داسي کس ته خطا کاروايم او ګناه ګار ورته نه وايم ، نه يې معاذالله کافر بولم او نه داوايم ،چي په دغه کس پسي لمونځ نه صحيح کېږي.

په مسائلو ، عباداتو او معاملاتو کي داختلاف په وجه کفرنه رامنځته کېږي او نه يې علماوو ته ددغه اختلاف په وجه کافران ويل کېږي غاية ما في الباب خطاء في الاجتهاد او يا خطا في انفسهم ورته ويل کېږي ،چي علماء يې پېژني.

الله ﷻ ته اميد لرم ،چي که زه مخلص يم ،تعصب کونکی نه يم او په يوه وجه په خطا کي لوېدلی يم ، الله ﷻ دي زما ګناهونه را معاف کړي او که زه قصدا پر خطا روان يم نو دا زما لپاره ډېره دبدبختي او وېرلړلې

سرچينه: تعليم الاسلام راډيو www.taleemulislam-radio.com/

(c) ketabton.com: The Digital Library

صحنه ده مګر کوم مسلمان ،چې دالله ﷻ څخه بېرېږي او رحمت ته يې امید لري هغه ته هیڅ لازمي نه ده ،چې پر مسلمان دي بد ګومان وکړي ځکه : نحن نحكم بالظواهر والله اعلم بالسرائر.(۱)

دفتنو په داسي ډکه زمانه کي ،چې پر مسلمانانو باندي دفتنو او مصیبتونو دهري خوا حملې اویرغل دئ په داسي حال کي زموږ لپاره تردې لوی بربادونکی او هلاکونکی شي نسته ،چې پر کوچنیو او فروعي مسائلو سره اختلاف کوو او یو دبله پر داسي کوچنیو خبرو باندي سره لاس او ګرېوان یو ،چې پر کوچنیو ، کوچنیو خبرو باندي یو وبل ته کافر او مشرک وایو ، یا دبل لمانځه ته فاسد وایو ، که دتاریخ پاڼې موږ وګورو موږ ته ډېر ښه پند راکوي ځکه په تاریخ کي بېلابېل داسي واقعات سته ،چې موږ سبق ځني واخلو ځکه هغه رابنیي ،چې هیڅ وخت دمسلمانانوسر کوم دښمن نه دئ ټیټ کړی بلکي هر وخت ،چې موږ ته کومه تباهي راغلې ده دخپل منځیو شخړو او اختلافاتو له امله راغلې ده، تاریخ پردې شاهد دئ ،چې کله دمسلمانانوپه منځ کي دفروعي مسائلو پرسر باندي شخړي اواختلافات پیل سوه ، دښمن ددې څخه لویه ګټه پورته کړې ده.

الله ﷻ ته دا دعا کوو ،چې موږ ته دي سیده لاره راپه برخه کړي ، الله ﷻ دي موږ ته دحق پېژندلو او دحق داتباع توفیق راکړي، الله ﷻ دي موږ ته دا همت راکړي ،چې باطل ته باطل ووایو او ځانونه ځني ژغورو، الله ﷻ دي موږ دخپل منځي جنګو څخه وساتي او ددې

۱: دفاران میاشتنی پاڼه ، سنه : ۱۹۶۴، دفاران مجلې دمدیر ماهر القادري څخه په منه.

سرچینه: تعلیم الاسلام راډیو www.taleemulislam-radio.com/

(c) ketabton.com: The Digital Library

پرځای دي الله ﷻ داسي توفيق راکړي ،چي خپل ژوند ددين دلورو مقاصدو لپاره وقف کړو.

آمين ثم آمين وآخر دعوانا ان الحمدلله رب العلمين.

دژباړي تکميل : ۱۴۳۱هـ ق

مولوي عبدالهادي حماد

سرچينه: تعليم الاسلام راډيو/www.taleemulislam-radio.com

Get more e-books from www.ketabton.com
Ketabton.com: The Digital Library